# سپېڅلی




***Download From : Aghalibrary.com***

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | سپېڅلی |
| ژباړن: | کمال خان شېراني |
| چاپونکی: | ډاکټر روښان کاکړ |
| مالي مرسته: | حاجي پزل کادر شېراني |
| د چاپ کال: | ۱۹۹۰ |
| بیه: | ۳۰ کالداري |
| کرښنه: | اودلرامان الکوزی مرکز کتابت<br>هیدري هوټل میشن واړ کوټه |
| خپرونکی: | پښتونخوا ادبي ځانګه<br>کلب واټ کوټه سوهېلي پښتونخوا |

# ټرون

د روشنفيکرۍ د هغې لېونۍ جزبې په نامهٔ چې:

له بايزيد روښان

څخه

تر

غازي امان الله خان

او

بيا

چي تر نن پوري

د افغانانؤ پاکؤ سرؤ وينؤ

د دغه «روڼ اند» پيلوزی

بل ساتلی دی

# لومړي ګایونه

د فرانس د اتلسمې پېړۍ ادب، د هغوی په ادب کښې د لیتوالی (ځلاند خیالی) دوره بلل کیږي. دا ادب وتلی او ځانګړی په دې دی چې په دغه موده کښې ستروُ ستروُ فلسفیانوُ د نویوُ خیالونوُ څرګندونه وکړه او د فرانس د مشهور اوښتون (انقلاب) لپاره یې لاره هواره کړه.

د هغه مهال د ادب په مخکښانوُ کښېې کښې درې کسان بې ساري او تاک ګڼلای سو، ځکه چې د دوی ارزښت، لوَیانه او اغېزه تر ننه پوري پاته دي. دا درې ستر کسان دي، والټیر، روسوُ او مانتېسکوُ.

بیا په دغوُ دروُ کښې ښایي چې والټیر تر ټوُلوُ زیات نومیاتی مشهور دی. د دې سوب دا دی چې هغه د خپلې پېړۍ پر نرخونوُ، میارونوُ ، ارزښتونوُ او دودونوُ ډېره کله کافره نیوکه وکړه او د یوې نرۍ په رغونه او جوُړونه کښې یې ښکاندۍ او جوته برخه واخیستله.

والټیر په ۱۶۹۴ کښې په پېرس کښې وزېږېدلوُ. په دغه زمانه کښې دا ښار په ټوُل یوُرپ کښې د خپلوُ ادبي پېنډوُ او باناړونوُ لپاره مشهور وُ. د دغوُ پېنډوُ هغه خوند په دې کښې وُ چې دلته به هرچا خورا په بېباکۍ او ازادۍ خپله رایه (لېمونه) ښکاروله. والټیر لومړی ځل په دغوُ پېنډوُ کښې د خپلې شوُخې وینا او سروُبن (مستانه) خوی له کبله د خلکوُ پام ځان ته راوَکرځولوُ. د دغوُ خویونوُ له کبله دهٔ لومړی پخپله پېړۍ کښې ځانته یو نوم پیدا کړوُ او د همدغوُ خویونوُ له برکته د خپل وخت په ادب والوُ کښې د یوهٔ غوره ځای څښتن شوُ. د والټیر لومړنی کتاب، «اودیپا» ، چې یوه ویرژلې (المیه) ډرامه وه، ډېر ژر بریالی شوُ . دا مهال دی په متې خلوُرویشت کلن وُ. د والټیر دغه لومړنی بریا د یو داسي ادبي پنځونې (تخلیق) هسې مازي یو پیل وُ چې د څومرَوالي او څرنګوالي له دواړوُ خواوُ بېخي هیرانونکی دی. دهٔ دَ ادب په هر ډوَل کښې خپل شوُخ خوی وَ ازمېیلوُ، چې خلوېښت کلنی ته رسېدلوُ نوُ دهٔ درې ویرژلې ډرامې لیکلې وې چې «زایر او یو جنګې نزم «هنري او» هم پکښې دي. دی مړ شوُ. د دهٔ په باره کښې دا وینا کېدلای شي چې د دوُ کولونوُ (نسلونوُ) پر اند او فیکر یې خورا ژوُر او پاخهٔ چاپونه او خاپونه پرېښوُدل.

د هر لوی لیکوال په باره کښې هم دا وینا سمه ده چې د وخت له تېرېدوُ سره که د هغهٔ کتابونه په کتابتونوُ کښې په درناوي خوندي وي، مګر لوستونکي یې یوازي پوُهان او اګاهان وي.

زما ښه په یات دي چې زه هیندوستان ته راستون شوم نوُ لړې ورځې پسته زما له سردار پانیکر سره د والټیر په باره کښې ړغا وسوه، سردار ساهب په دغوُ شېو کښې په چین کښې سفیر وُ. دَ سردار پانیکر دَ فرانس د نوموړي فلسفي په باره کښې پوُهه خورا ډېره او ویره وه. هغهٔ بې د څه تیارۍ د والټیر پر پینځونوُ (تخلیقاتوُ) وینا کولای سوه او دا یې ښودلای سوُ چې والټیر پر زمانه څومره اغېزه اچولې ده. دا هم چې والټیر نه یوازي د ټوُل یوُرپ پر دولتونوُ او دستوُرونوُ (اینونوُ) څومره اغېزه لرې، بلکې دَ ټوُلې نړۍ پر پېښتابه (ارتقا) یې څومره اغېزه کړې ده. کوموُ هیوادونوُ چې ځانته ان ازادي او اولسواکي خپله موُخه ټاکلې ده، تر څه نا څه بریده دَ والټیر تر ښېګړې او پېرزوُینې لاندي دي. مګر نن سبا پخپله په فرانس کښې څوُک

دی چي د هغهٔ «اخلاکي وینا» یا «انګرېزي لیکونه» نوم کتابونه نهٔ لولي. د سردار پانیکر غوندي مهزبه او پلټونکي مغزونه او دَ ژورې پوهې خاوندان سرې خال خال موندل کیږي.

خو بیا هم د والټیر په ګڼ شمېر پیځونو کښې، چې ۸۰ ټوکو ته رسیږي، یو اوس هم داسي ځلاند دی لکه هغهٔ لومړی ورځ چې ؤ کله چې لومړی ځل خپور سؤ.

کېندید (*Candid*) دَ داستانؤ یو ټوک دی چي په دې کښې د خپلې پېړۍ هغهٔ سترګپی (ظریف) اینسان ، والټیر، د خپلي پؤهنې، وروسي، ګپې او نازک اندۍ ډېره بهترینه څرګندونه کوي. په دې کښې هغهٔ په یوه لنډه او تنګه ګاړه (دایره) کښې پر خپل وخت بهترین هنک (طنز) کړی دی او کاري لغازونه یې پر ویشتلي دي. د «چارلس دوؤلسم» پر لیکؤ یې تاریخ لیکنه هم پیل کړه. په همدغه مهال کښې هغهٔ خپل «فلسفیانه لیکونه» نوی کتاب هم خپور کړؤ. د دې کتاب بنسټ یې د فرانس او اینګلستان د هغهٔ مهال د اخلاکي ټؤلنیزؤ ادراؤ له یوې بلې سره پرتلنه ، او د دې پر اغېزؤ باندي یبنی ؤ. د دې کتاب تؤګه، بڼهٔ او ډَوَل هم نوی ؤ او خورا په مېرانه او زړَورتیا سره یې لیکلی ؤ. کتاب به څه ؤ، چې خپؤر سؤ نؤ یو هړودوړ جوړ سؤ. سرکاري جلاد په خپلؤ مبارکؤ لاسونؤ کتاب وسوزولؤ او لیکبانی وچ اړ سؤ چي پټ سي. لس کاله والټیر پورژنی (جلاوطنه) ؤ. وروسته په ۱۷۴۴ کښې د فرانس شاهي دربار دی بېرته هیواد ته راوَبللؤ ، او په ۱۷۴۷ کښې یې د پؤهنؤ اکاډمی کښې ګډون وکړؤ. نیژدې په همدغؤ ورځؤ کښې د پرشیا (جرمني) ستر فرېډرک دهٔ ته د مېلمستیا بلنه ورکړه او دی برلن او پاټسډم ته ولاړؤ. دَ دغې استؤګنې په ترڅ کښې دهٔ دَ « دَ لوی څوارلسم پېړۍ » نوی کتاب ولیکلؤ، کوم چې د والټیر یو شاهکار بلل کیږي، او په ۱۷۵۱ کښې خپؤر سؤ.

له پرَشیا چي والټیر هیواد ته راستون سؤ، او اوس چي دهٔ پوره ازادي پیدا سوې وه نؤ په دغه مهال کښې فلسفه او دین خورا په خرَب پله بنخ ول. والټیر په ه خپل پوره زؤر او ځواک سره په دغه جګړه کښې ورودانګل.

په دغه زمانه کښې دی دَ ټؤلنیزؤ نابربریؤ دَ یوهٔ رغونکي او سموونکي په څېر وَ برېښدلؤ، او دَ یوهٔ اووښتونکر (انقلابي) بڼه یې غوره کړه. دهٔ په خپله دغه دؤیمه دوره کښې پر خپله پېړۍ تر پخوا لا زیاته اغېزه واچوله. دی نهٔ یوازې یو ستر لیکوال بلکې په ریښتیني مانا یوه داسي هستي سؤ چي د زړې اداني او دَ بېلاریؤ او ورکلاریؤ واکې تېنګې نیولؤ زؤر او وس یې لرلؤ.

دَ والټیر دَ ژونَدانهٔ اوږدوالی او دَ دهٔ ادبي پینځونؤ ډېروالی هښونکی ؤ. له همدې کبله دَ دهٔ اغېزه دَ فرانس دَ اووښتون تر نیژدې ورځؤ پورې ښېخې څرګنده وه. او په ۱۷۷۸ کښې د څلؤر اتیا کلونؤ پر اندۍ دا لغاز او هنک یوازې د هغې پېړۍ تر بریده نه دی، بلکې پر ټؤله اینساني ټؤلنه یوه خندا او ټؤکه ده. دَ همدې له کبله دَ دې د چاپېریال او مهال له بدلون سره دَ کتاب ښېګړې نهٔ سي کمېدلای.

هیڅ شک نهٔ لرم چي په هیندي ژبؤ کښې لوستونکی به، دَ فرانسوي ادب دَ دې ملغلرې په باره کښې زما دا ګایونه چټي پروپاګند کله هم نهٔ وَ ګڼي. پر خپل دا اوس اندې هم چي کله کله زهٔ کندید لولم، نؤ که زه د دې کتاب له هرې غونډلي (جملي) سره بلد یم خو بیا بیا دَ لیکوال ښېړتابه او لاسبري په ښکاره راته زباتیږي.

داسي نهٔ ده چي په دې کتاب کښې دَ اینسان پر ناغ او نوغ باندي دَ کومؤ نهیلونکؤ چورتونؤ څرګندونه سوې ده، له هغؤ سره هر سړی سخ (متفق) دی. د سړؤ په باره کښې هرڅه

نهيلونکي دي. خو په کومه تؤګنه او ډوَل چي دَ دي غندنؤ او نيوکؤ څرګندونه سوى ده هغۀ تؤګنه او ډوَل اوس سارى نۀ لري. او که کله کله دغه نيوکې څه تونديِ او تېزيِ هم سي نؤ هم موږ دا له پامه نۀ باسو چي په همديِ تؤګه د تازه ورين اند د اړتيا ابهساس پيدا کړ سوى دى. چي دغه تازه چورت دَ ټؤلنې دَ ستونزؤ د هواري لپاره نويِ لارې چارې پيدا کوي او رابا سي يې، دَ هغؤ ارزښتونؤ ساتنه ، زېرمه او وزله وسي کومؤ ته چي خطره او ګواښنه پېښه ده.

کېدنيد بؤبه چي په همدغه ابهساس وَ نۀ لوستل سي چي يوازي خوند ترې واخيستل سي ، بلکي په دې مؤخه چي دَ څه ژور شي پلټنه وَسي، دَ هغې خوندورې له ارامى ، ژوند او پؤهې ډکې فلسفي تلاش وَ سي دَ کومي چي والټير خپرواى کوي، کله چي دى دا لېمون (رايه) ورکوي چي په پاى کښې دَ هر وګړي لپاره اړينه ده چي دى دَ خپل باغ په ساتنه او پالنه کښې بوخت اوسي.

دا ټکي سجاد زهير له استاليس لاس او ستر وروګ څخه په اوردو ژباړلي دي چي دَ زهير خداى بخښلي له اوردو څخه په پښتو ژباړل سوي دي.

ژباړن «اولسمل»
کوټه، ۳ سمبر ۱۹۸۹

# د ژباړن ګایونه

په کومه موده کښې چې ښاغلی خدایدادخان صاحبي او ما له کوټي مياشتنی «پښتو» خپروله، په دغو ورځو کښې اوستاد عبدالحی حبيبي خدای بخښلی پېښور کښې ؤ. دَ صاحبي او جبيبي ساب پخوانی پېژندګوي سره وه. هبيبي ساب «پښتو» سره مرسته کوله او لارښوونه هم ورته کوله. زما داسي ياتيږي چې په يوه ليک کښې يې موږ ته دا سلا راکړې وه چې ، ستاي په اوسنيؤ اکر کښې که «چا هر ډول پښتو وليکله» هغه خپروئ. دَ ليک ډول ته يې مهٔ ګورئ، چې ښه دی که نه. ورؤ ورؤ به روزلي پښتانهٔ دَ پښتو ليکلوست سره روږدي سي. او وروسته به بيا دَ اوچتؤ کتليؤ ليکنؤ پړاو را وَ رسيږي. د دهٔ دغه ليک په نومړې مهالنی کښې خپور سؤ.

خان شهيد اودل سمد خان چې دَ پاکستان د لومړنی دَورې دَ اوږده بند څخه راايله سؤ،نؤ ما ته يې وَ ويل چې دَ مېکسيم ګورکي دَ « مؤر» (*Mother*) پښتؤ ژباړه وَ کړم. زما پخپله دغه کتاب دېِ خوښ ؤ. کلي ته تلم نؤ څه کتابونه راڅخه ول. پرېڼ مي دَ «مور» ژباړه ؤ. هلته چې مي کتابونه وپلټل، نؤ مؤر پکښې نهٔ ؤ. له ما څخه د اپلاتون ويناوې (*Dialogues of Plato*) يو انګرېزي کتاب ؤ. د دې کتاب هغه لومړی وينا « دَ سوکرات پيلامه او دَ هغه مړينه» ما پښتؤ کړه. خان شهيدته مي دغه ژباړه ورکړه. هغه لوستې وه او زموږ دَ سيمې څه نابلده تؤري يې نخښه کړي ول او ماناوې يې راڅخه وَ پوښتلې. خان د سوچه پښتؤ تؤرؤ د راټؤلؤ سره ښخې زياته مينه لرله. له همدغؤ ټکؤ څخه يې يوڅه سملاسي په خپلؤ پښتؤ ليکنؤ کښې کارول پيل کړل. دَ لرغونؤ سوچه پښتؤ ټکؤ راټؤلولؤ او پلټلؤ کار خو هغهٔ له ډېره وخته روان ساتلی ؤ.

ما ته يې وَويل چې دغه دَ ژباړؤ کار روان وَ ساتم. دَ دې څه ادبي ارزښت وي او که نه يې نهٔ وي، مګر دا ګټه به يې هرومرو وي چې دَ کسې غرهٔ دغه سوچه پښتؤ توري خو به زېرمه او خوندي سي. اوستاد هبيبي هم «پښتؤ» ته په يوهٔ ليک کښې دَ کسې غرهٔ د استوګنؤ پښتؤ ته زموږ پاملرنه غوښتې وه. هغهٔ پر دغه لاره دَ يوهٔ مزله په مهال کښې د دې سيمې پښتؤ ته پام سوی ؤ.

دغه سوچه پښتؤ ورؤ ورؤ له ورځنی کارونې څخه وځي. ځکه چې د ښاريتؤب او پرديؤ خپرونؤ اغېزه خورا په زؤر او شؤر رارسيږي. بلکي زموږ پر ژبه او ژواک يو سم دباندنی يرغل روان دی. دَ پښتنؤ شعري پانګه له پخوانؤ پېرېؤ څخه خورا بډايه او شتمنه ده، مګر د نسر خوند يې نسته. په تېره زموږ د سوهېلي پښتونخوا نويؤ او لوستؤ پښتنؤ له خپلي مؤرنی ژبې سره ډېره بې پرواهي کړې ده. دا بې پرواهي نن ورځ يو ناشوده ګای دی. دَ بلؤڅؤ او سينديانؤ د ژبؤ خپرونؤ ته چې سرې وګؤري نؤ هکپک سي. دَ پښتنؤ سيساسي ګوندونه او دَ ځوانانؤ بلا ډېر سازمانونه سته. مګر ليک يې په متي پر دېوالونؤ ښکاري. نهٔ ورځپانه، نهٔ مهالنی او کتابونه او نهٔ چېري وړې پؤتی او پاڼي لري.

دَ دې څه سوب دی؟ ايا پښتانهٔ دَ ملګري ارباب دَ وينا له رويه، « يوازي خولې سره خبرې کولای سي او بس». خو دَ خولې خبرې باد يؤسي او ليکلې خبرې نؤ پښې لري؛ پر مخ ځي او پايلې هم په پای کښې ښندي.

له بدهٔ مرغهٔ زموږ شاوخوا ټؤل چاپېريال دَ ليکلوست له اړخه دَ انګرېزي او اوردؤ پر ګوَړ دی. پښتؤ خوارکی هسي دلته هلته چېري دَ بېلګې لپاره وَبرېښي او هغه هم بېشتره زموږ دَ

مسلمانولو لپاره! ولي چي په هم دې چمچه کي هغهٔ چل دی. زیاتره زوږلي او اګاه پښتانه پښتو چاپ سوي شیان لولي.

پوهان وایي چي دَ واکدارانو او بادارانو دَ خوشالولو یوازینی کره درسته دا ده چي دَ هغو مربیان او غلامان دَ خپلو واکدارانو دَ رغبدا، ناستې پاستې او ژوند ژواک دَ هرڅه پیښي کوي. نو هلته دوی دَ بادارانو دَ خوښی ور وګرځي، او دَ روزګار په چارو کښي وده او پرمختګ وَکولای سي. دَ سرکار او دربار ژبې تل ارزښتناکي او ویاړلي اوسېدلي دي. او درباري ملایانو خو له همدي کبله پښتو دَ دوژخ ژبه بللي وه. پرونی لاسي جوړې سوې ژبې دَ پوهنې او ساینس او ادب لوړو څوکو ته رسیږي. پښتو پسپاته ژبه ده. ولي چي زامن یې پسپاته دي. مګر پسپاتي دومره لوی خلېت (عیب) نهٔ دی. خو غلامي ................. راځئ دغه دَ غلامی تراخهٔ ریښتیا پرمخ وَ چېرو، هسي به موَ دَ خولې خوند لاپسې تریخ سي.

دَ فرانس دَ اوښتون اوس په دې نیژدې ورځو کښي دوه سوه کلنه نېټه خوراپه نړۍوال درب سره وَ لمانځل سوه. نن چي په نړۍ کښي هر چیري دَ اینساني رېښتو (حقونه) او بنسټیزو رېښتو رغبدا او وینا کیږي دَ دغو برخلیک دَ همدغه اوښتون برکت دی او دَ دې اوښتون دَ سوچ په تخم پاشی او بیا بَر او مېوې کښي دَ والتیر لوی لاس وُ. دَ والتیر دَ لیک هغه بنسټیزه مؤخه دیني زغم او سهنه وه. خپل سوَچ د ورسې او ریښتنی پر مټ زباتول ، نهٔ دَ زوَر ، څوَر او کرکې پر مټ.

دَ والتیر لیک او سوَچ دَ یوَرپ دَ ښارګلوی پر وده او پیشتګ ډېره اغېزه وکړه. دَ ناپوهو او تنګلیدو دودپالانو په پرتله یې دَ پوهې او ساینس، ټولنیز پېشتګ او اوچتوالي لپاره په لیک او کړنه خورا ډېرې هلي ځلي وکولي.

دَ والتیر یوکم سل کتابونه یاتیري. په دغو کښي دَ سپېڅلي (کېندید) یادونه به په بېلوبېلو کتابونو کښي بېشتره په مخه راتله. دَ کېندید کیسه زموږ په ټولنه کښي اوس دوه سوه کاله پسته لاهم د ډېرو ځوانانو کیسه ده. بیان دا دی چي په ۱۷۷۵ کښي په لیزبن سیمه کښي لوَیه زلزله وسوه او په زرهاوو وګړي پکښي مړهٔ سول نو دَ والتیر دَ پېړی یو بل نامتو لیکوال، روسو، وَویل چي اینسانانو که ساده او سارایي ژوند کولای نو به ولي دومره ګڼ شمېره مړه کېدل. پر دې والتیر ته خشم ورغلو او به درې ورځي کښي یې کېندید وَلیکلو.

زه په هیڅ ګز او کچ خپل ځان لیکوال او ادب وال نهٔ بولم. دَ خپلي مؤرنی ژبې لپاره مي یوه هڅه ده. که لوستو او اګاه پښتنو دا کتاب خوښ کړو او کتاب خپل سر «نغد» کړو نو درې څلور نور کتابونه مي هم ژباړلي دي ، هغه به هم خپاره سي.

په پای کښي دَ ډاکتر روښان کاکړ ډېره مننه کوم چي دَ کتاب په خپولو کښي یې ډېر زیار او خواري کښلي ده.

# دَ کېنديد په يوې ښکلې مانۍ کښې روزنه، او بيا شړنه

په يوۀ پېر کښې دَ وېسټ فالیا په هیواد کښې دَ سردار تندرترانخ په جاګیر کښې یو زنی اوسېدلۀ چي خدای هغۀ ډېر خوَندور خوی ورکړی ؤ. دَ هغه له مخه د هغۀ کرۀوړۀ ښکارۀ ځلېدل. دَ هغۀ په خوري (طبيعت) کښې ځاني سادګي او پخه پۀهنه دواړه شته وې. او ښايي له همدې کبه خلګۀ دَ کېنديد، مانا دَ پاک او سپېڅلي په نامۀ بللۀ.

دَ کۀرنی زړۀ خيزمتګارانۀ ګومان کولۀ چي دا ځوان دَ سردا يوې خۀر د هغې سيمي له يوۀ درانۀ مخَور کس څخه زېږولی ؤ، مګر پسته هغې پېغلي له هغۀ سرې ته له ودېدلۀ څخه وچه کلکه نټه کړې وه. دَ هغۀ مخوَر کس پر توره او ډال باندې تر يواويا زېاتې دَ کۀرنی د وياړ نخښي نښاني وې، مګر د زماني پېښۀ اوس دَ هغۀ دَ کالۀ او ټبر نۀره پېژنګلوي ورکه کړې وه.

دا سردار دَ وېسټ فاليا په خانخېلۀ کښې يو ډېر اغېزناک سړی ؤ. دَ هغۀ کلا يوه لۀيه دروازه او ډېرې کېړکياني لرلې. دَ هغۀ په لوی دالان کښې ښايسته ګلداري پردې راځړېدلې. ډېر ښکاري سپي يې هم لرل، او دَ اسانۀ سايس به يې د ښکار مير ؤ. دَ کلي ملا «پادري» دَ هغۀ دَ لنګر سرېښته نيوله. خلګۀ به دَ هغۀ پرټۀکۀ ټکالۀ او کيسۀ خندل.

د سردار مېرمنه چي پر تۀل برابره پاو باندې څلۀر منه وه، هم خورا يوه غوره ښځه وه. دې مېرمنې چي په کوم درَب او پرتم کومې مېلمستياوې ورکولې هغۀ يې نوم نۀر هم خورا اوچت کړی ؤ. دَ دې لور، چي اوه لس کلنه وه، کونګند نومېدله. ډېره ښايسته، ګلبدنه او زړۀ وړونکې وه. دَ سردار زوی بيا له هرې خوا د خپل پلار وړ ؤ.

دَ دې ځوان ښۀونکی، پينګلاس،به دَ پۀهنې له چارۀ سره سره دَ کالۀ په واړۀ چارۀ کښې دَ يوۀ درېيم په تۀګه هره پرېکړه کوله. ځوان کېنديد دَ خپل ښۀونکي زدکړه او پۀهاوی په پوره باور او داسې په پټۀ سترګۀ منله، چي دَ دې کار چاپ دَ دۀ پر سرېتۀب او ژوند وَشۀ.

پينګلاس هغۀ ته دَ ديني او جهاني پۀهنۀ او دَ پينځوني دَ لېمون (نظريه تخليق) زدکړه ورکوله. هغۀ پرته له کومې ريښتينی او مرنی دا زباتولای شوه چي، بې له سوبه هيڅ پايله نۀ وي؛ او دا چي په دې بهترينه نړی کښې دَ ښاغلي سردار ځای او تون تر ټۀلۀ ځايۀنۀ پرتَمين ؤ، او دَ هغۀ مېرمنه بهترينه مېرمنه وه.

هغۀ به ويل: « څيزونه چي څرنګه دي ، بل ډوَل ښت کېدای نۀ شول، ولې چي څيز دَ يوې مۀخې لپاره پيدا شوی دی؛ ورپسې دا هم زباتيړې چي هر څيز دَ بهترينې مۀخې لپاره پيدا سوی دی.
ګۀرئ: زموږ پۀزې دَ دپاره جۀړې سوې وې چي چشمې پرې سپرې سي، له دې کبله موږ چښمې لرو. ښکارۀ ګای دی چي پرکي د جۀرابۀ دپاره پيدا شوي دي، هغه ده چي موږ جۀرابې اغوندو. ډبرې دَ دې دپاره پيدا شوې دي چي وَتراشل شي او کۀرونه ترې جۀړ شي. همدغه سوَب دی چي زما بادار تر ټۀلۀ ښايسته کۀر او مانی لري. ولې چي دَ وېسټ فاليا تر ټۀلۀ لوی سردار پکار ده چي تر ټۀلۀ پرتَمين کۀر او مانی ولري. او سۀډر د خوراک دپاره پيدا سوی ؤ نۀ ځکه يې موږ سروکال غوښه خورو. له دغۀ دا هم زباتيړې چي هر هغۀ څۀک

چي وايي هر شی پر خپل ځای ښه دی، هغوی جک وهي. بلکې پکار ده چي  داسي وَوايي چي، هر شی بهترين او سمترين دی.

کېنديد دا ګايونه ډېر په پام اورېدل. ولي چي هغهٔ کونګنده ببخي ښايسته ګڼله. خو دومره زړهٔ يي نهٔ ؤ چي هغي ته داسي ووايي. هغهٔ دا منلي ول چي په نړیٔ کښې تر هر څه لويه نېکمرغي سردار تنډرترانخ کېدل دي، بيا ورپسې پېغله کونګندل کېدل او دريمه دا چي دَ هغي رؤزانه ليدل کو،  او په پای کښې دَ ښؤونکي   پينګلاس فلسفي او اپلتي اورېدل ، ځکه چي هغهٔ د وېستېٔ فاليا لوی فلسفي ؤ او له همدې کبله د نړیٔ هم لوی فلسفي ؤ.

يوه ورځ کونګندې دَ خپلي ماڼۍ په خوا کښې په باغ کښې چکر وهلؤ ، څه ګؤري چي دَ څه وريؤ بوټؤ «وری» تر شا ښؤونکی پينګلاس د هغي د مؤر يوې ښايسته خېزمتګارې ته دَ پؤهني لوست ورښيي، او هغي نجلۍ هم ښه په خوند زدکولؤ.

ځکه چي پېغله کونګنده دَ پؤهني ډېره مينه واله وه، نؤ کومې دَ پؤهني تجربې چي دې مخامخ ليدلي په نيولي ساه او وازه خوله يي کتلي. دي دَ پؤهاند پينګلاس خورا ډېر «سوَبونهٔ» ښکاره وليدل او دَ سوَب او پايلي (علت او معلول) په کيسه پؤهه شوه. هغه په ډېرې پرېشانی او انديښني کښې بېرته کؤر ته راغله. سينه يي دَ پؤهني له تندې ډکه وه. دا ګومان به يې هم کولؤ چي ځوان کېنديد همدغه شان دَ دې دپاره سوَب کېدلای سي او دا بيا د هغهٔ دپاره.

له چکره پر واپسي د کؤر په خوا کښې هغه له کېنديد سره مخامخ شوه او له هيا يې مخ تک سور شؤ. کېنديد هم وَ شرمېدلؤ. دې په رېږدېدلي ږغ هرکلی ورته وَويلؤ. کېنديد هم په ځواب کښې څه ورته وَ ويل خو په پوهېده نهٔ چي هغه څه ول. په دا بله ورځ چي د ډؤډیٔ له مېزه سره ولاړ سول نؤ کېنديد او کونګند دَ يوې پردې تر شا سره پېښ شول. کونګندې خپل دسمال وَغورزولؤ. کېنديد هغه راپؤرته کړلؤ. هغي هسي په بېواکې سپېڅلتيا دَ هغهٔ لاس وَنيولؤ. او بيا هغهٔ هم هغه شان په بېواکه سپېڅلتيا دَ هغي لاسونه کوښل کړل. دَ دوی سترګې وَبله وبرېښېدلي ، بيا ښونډې يي وَبله يوځای شولي، ګؤنډې يي وَ پرکېدلي او لاسونه يي نهٔ ارامېدل. بخت ګوره ، چي پر همدغه شېبه سردار تنډرترانخ پر پرده ورغلؤ او هغهٔ سوَب او پايله وليدل. کېنديد ته يي دَ شا لخوا ښې زؤرورې لتي ورکړې او له کؤره يي بهر وَ ايستلؤ. کونګنده بې هؤشه شوه، او چي کله پر سد شوه نؤ مېرمني پر غوړو څه څپېړې او سوکان ورکړل. په همدې تؤګه په دې غوره او ښايسته ماڼۍ کښې اريانې او خوابدي خوره شوه.

کېنديد چي له دې جهاني بهشته بهر شؤ، نؤ هسې بې مخې رهي سؤ. چي روان ؤ نؤ کله به يي ژړل او اسمان ته به يې کتل. خو ډېر ډېر به يې هغي پرتَميني ماڼۍ ته کتل چي په هغي کښې تر ټؤلؤ ښايسته نجلۍ دَ سردار لور وه. بيا يي پر يوې کروندې کښې شپه شوه چي څپک څپک واوره وربانډې ورېدله او دی شوم شلنډ پروت ؤ. په دابله ورځ د يخنی او لوږې له لاسه ټوکر ټوکر او ستړی ستومانه دَ يوه نيژدې بازارګي خوا ته وَ ځکېدلؤ. په جيب کښې يي يوه پيسه هم نهٔ وه. چي په لاره کشېدلؤ نؤ له يوه سرای سره تم سؤ او په ډېر ارمان يي د هغهٔ دروازې ته وَ کتل. دَ دوؤ شين کاليؤ کسانؤ دهٔ ته پام شؤ.

په هغؤ کښې يوهٔ ويل، « ياره! دغه دی پيدا مو کړؤ هغهٔ ښه مزی او جګ ځوان چي زموږ په کار ؤ.»

هغوی دواړه کېنديد ته ورغلل او ښه په ادب يي ورته دَ خوړلؤ ست وَکړؤ.

کېندید په هیا ځواب ورکړۀ چي له هغۀ څخه لپاره هیڅ پیسي نښته.

هغۀ شین کالي ورته وَویل، « کوم خلک چي ستارنګه کړۀوړۀ لري هغۀ ی پیسۀ شندلۀ ته اړتیا نۀ لري. ولي ته پینځ فوټه او پینځه اینچه جګ نۀ یې ، څه؟ »

کېندید ورته کښېخوتلۀ او وَ یې ویل، ښښکه زما وَنه همدرومره لوړه ده.

« ښه نۀ راځه کښېنه، موږ به ستا برخه پیسي هم پرې کړو. بلکې ستا غوندي ځوان اړتیا او موتاځي به هم لرې کړو. اخېر اینسان خو دَ یوۀ بل دَ مرستي دپاره وي، که داسي نۀ ده؟»

« ښاغلیۀ، تاسي ډېر ریښتیني یئ. او دَ پینګلاس اوستاز لیمون (نظریه) هم دغسي ده. ستاسي لورېینه او پېرزۀینه دا زباتوي چي په نړی کښي هرڅه دَ ښۀ او ښېګړۀ دپاره وي.»

له دې پسته هغوی دواړۀ نغدي پیسي ورته پېښ کړي. کېندید په ډېره مننه  او کۀرودانۍ ترې واخیستلي او دَ رسید لیکلۀ ته یې چمتو شۀ، مګر هغوی نۀ منل. له دې سره دوی ټۀل خوړلۀ ته کښېناستل.

یوۀ شینکالي تر وَپوښتل، « ته دَ چا وفادار مَیَین یې؟»
کېندید په زغرده ورغوځه کړه، او وَ یې ویل،« هو، زه دَ ښکلي کونګندې سره ډېره مینه لرم.»
له هغو دوۀ یوۀ ورته وَ  ویل، « یې به، مګر زموږ پوښتنه دا نۀ وه. موږ پوښتل چي ایا ته دَ لغاریي له باچا سره مینه لرې، او که نه؟»
« نۀ، دا خو دې ښېخي اجبه وکوله. هغۀ ما چیري لیدلی نۀ دی.»
« پهۀ! هغه خو په باچهانۀ کښي یو ډېر خوږ باچا دی. او موږ پکار ده چي دَ هغه په نوم رۀغتیاجام  وَ چیښو.»

کېندید وَ ویل، « هو خود، ښاغلیو»،او بیا خپل جام په غاړه واړَولۀ.
له دې سره سملاسي هغوی ورته وَویل، « بس بس، ته اوس دَ هغۀ باچا ساتونکی او ځارونکی شوې. او له دې سره سره د بلغاریي یو نومیالی هم شوې. ویده بخت دي راویښ شۀ. هله ورځه، برَم او پرتَم ستا مخه ګوري.»

له دې پسته هغوی دی په ځولنۀ کښي چاونی ته یۀوړۀ. هلته یې  هغۀ ته چپه او راسته ، پرېډ، پرجندي، تېزګام، په ټۀیک نخښه ویشتل او ډز کول  وَرزده کړل او په پای کښي یې دېرش غمچیني وَ وهلۀ.

په دا بله ورځ یې پرېډ او نۀر کړۀ یو څه ښه ول نۀ یې شل شلاخي وَ وهلۀ. په دریېمه ورځ مازې په لس شلاخي خلاس شۀ. ملګرۀ دی یو ښېساری پیاوَړی کس ګڼلۀ.

هغۀ چي سَدبَد او هۀش یې بایللی ۀ په دې ستې نۀ پۀهېدلۀ چي له دۀ څخه څنګه یو پیاوړی نومیالی جۀړ شۀ.  دَ پسرلي یو خوندور ګهیځ ۀ او کېندید چورت وهلۀ چي   دوۀښۀل او ځلۀربۀل واړه دا ریښته (حق) لري چي خپلي پښي دَ خپل ځان په خوښه وَکاروي. او له چاونۍ سم په مخه پسي رهي سۀ. خو ایله شپږ میله به لا نۀ ۀ تللی چي تر شا شپږ فوټیز پیاوړي سپایان پسي ورسېدل، وَ یې نیولۀ او لاس پښي ترلی کش کړۀ، او دَ مځکي دننه یوۀ زیندان

کښې واچولۀ. وروسته په پوځي منځګړی (عدالت) کښې داسي پرېکړه وشوه، چي خوښې دَ کښېنديد ده چي دَ ټۍل کنډک له لاسه شپږ دېرى (۳۶) واره سړي سر شلاخې خوري او يا دۀلس ګولۍ په سر کښې؟

کښېنديد ناري وهلي چي هر اينسان ازاد دى او زۀ دَ خپلي ازادۍ له رۀيه نۀ يوه خوښه کاږم او نۀ بله. دى اړ ايستل شۀ چي هرومرو به يوه خوښې کاږي. پس نۀ هغۀ دَ خداى دَ هغې پېرزۀينې، چي «دَ خوښې ازادي» ورته ويل کيږي، له رۀيه دَ شپږ دېرش شلاخۀ دَ وهلۀ خوښې غوره کړه.

هغۀ دوۀ واري تېر کړل او دَ ټۍل کنډک دَ دوۀ زرۀ کسانۀ له لاسه يې دَ شلاخۀ څلۀر زره ګوزارونه وَ خوړل. دَ شلاخۀ له لاسه يې له غاړې څخه تر ملا پوري ټۀلې پلې او رګونه لۀړه درېدل. دَ درېيم وار تياري کېدله چي کښېنديد وارختا سۀ او زارى يوې وکولې چي: مهرباني وکړئ او دا سر مي په ګۀليۀ والوزوئ. دا مهرباني ورسره وشوله. لومړى يې سترګې وَتړل شوې او بيا پر ګۀنډېۀ کړ شۀ. په دې ترڅ کښې دَ بلغارۀ خواخوږى باچا پر دې خوا تېرېدلۀ او تۀرن ته يې ورپام شۀ، هغۀ يې دَ ګرمي او تۀر تېۀس وکړۀ. باچا ښه ځيرک ۀ او دَ پوښتنۀ له ځوابۀ يې دا پايله وَ ايستله چي دا ځوان يو فلاسفر دى مګر دَ نړۍ له کتاره ناګاه دى، نۀ ځکه يې دى وَ بخښلۀ. د دغې خواخوږى او زړۀ سوي ستاينې به دَ تل لپاره په ورځپاڼۀ کښې کيږي. په درۀ (۳) اۀنيۀ کښې کښېنديد بېرته روغ جۀړ شۀ. تجربه کارۀ درمانګرانۀ دَ مالش ښې پخې نوسخې پر وَکتلې، نۀ دومره توان او سبک پکښې پيدا شۀ چي کله دَ بلغاريې لښکرۀ دَ اباريه دَ شاهي لښکر سره دَ دغرې لپاره کۀچ وکولۀ نۀ کښېنديد هم ورسره رهي سۀ.

# په بلغاریانو کښې دَ کېښدید ځان ژغوٌرنه او وروپسې نوٌرې پېښې

کوم چا چې دوې لښکرې مخامخ پله ښځې پخپلو سترګو نهٔ وي لیدلې هغهٔ دَ ښایسه لنداري ښه سمه اندازه هم نهٔ سي کولای. دَ نغارو، ډوٌلونو، تولو ، تورمونو او توٌپکو ډزهار یو داسي دندوکار جوړ کړو نو ساری چي ساری به یې په دوٌزخ کښې هم نهٔ سي پیدا. لومړي باړ له دواړو خواو شپږ شپږ زره تنه وَ ربېل. وروپسې بیا توٌپکو دغه بهترینه نړیَ له نهو لسو زرو سپړو تشه کړه. او په پای کښې د دواړو خواو ګورزونو هم په زرهاو دَ اجل تر کلي پوري وَ رسول. ټوٌلټال دېرش زره تنه وَ وژل شول. کېښدید لکه یو فلسفي رېږدېدلو، مګر په دې ټوٌلي درنې ژوبلي کښې یې خپل ځان پټ وَساتلو.

کله چې جګړه سړه شوه او سیالو چهانو په خپل خپل لښکرکوٌت کښې دَ سوٌبې او برې نغارې وهلې، نو کېښدید پرېکړه وکوله چې چرته بل ځای ته ورګوري چې هلته بیا د «سوَب او پایلې » پلټنه روانه وَ ساتي. دَ مړو او مړهٔ کېدونکو په کوټو او امبارونو ختلو او څوړېدلو، پرزېدلو او لتېدلو چي دَ ابار دَ باچهی پولې ته څېرمه یوې سوېزېدلې باندې ، چي اوس هم لوخوړې ترې ختلې، ته ورسېدلو . دا کلی بلغاریانو دَ نړیوال کانون لاندي سوزولی وٌ. دَ خدای زاړهٔ او بوډاګان له ټپونو مات ژوبل او نسکوٌر پراتهٔ ول، په څېرو وچو سترګو یې دَ خپلو هلالې شوو ښځوٌ دَ زنګندن سوي اهونه اورېدل چې خپل بچي یې اوس هم په وینو سرو ځیګرونو پوري ټینګ نیولي ول. بېشمېره نجونې چي پیاوړو بلغاریانو خپل مخ ورسره توٌر کړی وٌ او نسونه یې ورڅیرلي ول ، دَ زنکندن په پېچ و تاب کښې وې. ډېرې نوٌرې چي دَ اوٌر لمبوٌ لوغړنې کړې وې په چیغارو زاریَ کولې چي څوک یې وَوژني چي درده او خوړوٌ یې ازادې کي. هغهٔ چي هر پلو کتل نو دَ وژل شویوٌ لاسونه، پښې، کوپړیَ او ماغزهٔ خواره واره پراتهٔ ول.

کېښدید ګړندی شوٌ چي بل ځای ته ور سي. په مخه بل کلی، چي دَ بلغاریانو وٌ ، او اباریانو هم دغسې کاني ورسره کړې وې، ورګډ شوٌ. په دې ویرانه کښې دَ مړیوٌ پر خوځېدونکوٌ غونډیوٌ ختلوٌ او څوړېلوٌ. په پای کښې هغهٔ دَ جنګ له میدان څخه بهر شوٌ. دَ هغهٔ په بغلجوٌله کې لاتراوٌسه هم یو څه څوٌرَی (خوراکه) وٌ. لا اوس هم دَ هغهٔ چورتونه کله کله دَ خپلې کونګندې پر خوا تلل.

چي دَ هالنډ وېش ته ورنیژدې شوٌ نوٌ یې څوٌرَی ختم شوٌ. خو هغهٔ اورېدلي ول چي دَ هالنډ ټوٌل وګړي مېسهیان دي او هر سړی یې خورا شتمن دی. نوٌ دا یې پوخ باور وٌ چي له دهٔ سره به هم هغه ډول پېرزوٌینې او لوربینې کیږي لکه دَ سردار تنډرترانخ په کلا کښې دَ کونګندې دَ مستوٌ کتلوٌ او بیا دَ هغه دَ ښرل کېدلوٌ څخه مخکې ورسره کېدلې.

هغهٔ یو څوٌ کسانوٌ ته ، چي په ښکاره ودانان ایسېدل، دَ بسپنې لاس وغځولوٌ . خو هغوٌ واړوٌ دا ورته وَویل چي که هغهٔ له غوښتنې وَ نهٔ درېدلوٌ نوٌ هغهٔ به یو سمتون (اصلاح خانې) ته وَ لېږل شي چي هلته خپله ډوٌډیَ پخپله وَګټي.

په پای کښې هغهٔ یوهٔ داسي کس ته لاس وَنیولو چي اوس اوس یي نوَرو ګڼو کسانوٗ ته دَ بسپنې نسیهت کولوٗ. هغهٔ کس دهٔ ته ځیر ځیر وَکتل او ورڅخه وَ یي پوښتل:

« ته دلته څهٔ کوې؟ دَ زړې پخې ګروهې (عقیدې) دَ سوَب مرستندوی یې او که نه؟»
کېندید په ډېر ادب ځواب ورکوٗ، « هیڅ پایله بې سوَبه نهٔ وي. واړه ځیزونه هرومرو پله تړل شوي دي دَ خیر لپاره. دا هرومرو بخت وٗ چي زهٔ له ښکلي کونګندې څخه وَشړل شوم. او بیا د هغهٔ جنګ تر شوٗرماشوٗره راتېر شوم. او اوس په بسپنې ډوډۍ غواړم. پای دا شوٗ چي زه اوس پخپله دَ ګټلوٗ جوٗګه هم نهٔ یم. دا هرڅه چي وَشول په بل ډوَل نهٔ شول کېدلای.»

«ګوٗره یاره! ته دا منې چي پوٗپ دَ مسیه پر چپه (ضد) دی که نه؟» ملا پادري ورڅخه وَپوښتل.
« ما ته خو هیڅا داسي څهٔ نهٔ دي ویلي. خو خیر، هغهٔ دی که نه، زه دا وخت بېخي وږی یم.»
«زغله، بدبخته سپیره. تهٔ دَ خوراک رېښته (حق) نهٔ لرې. ګوٗره، چي ما ته رانیژدې نهٔ شي. که نهٔ وي نوٗ ارمان به کوې.»
دَ ملا مېرمني له کیړکۍ سر راوَایستلوٗ او وَ یي لیدل چي داسي سړی هم شته چي دَ پوٗپ دَ مسیه په دوښمن کېدلوٗ کښې شکمن دی. سملاسي یي د ګندګۍ ټوٗکرۍ دَ کېندید پرسر وَ رااېله کړه. له دې دا زباتیرِي چي دیني جزبه ښځې څومره پر مخ وړي.

دلته جېمز نومي یوهٔ نېکنام انابپتیسټ، (هغه کسان چي نهٔ غواړي کمکیان په کمکیتوٗب کښې په مسیهیتوٗب ګډ کي) ، دا هرڅه ولیدل. هغهٔ دَ خپل یوهٔ اینسان وروٗر دا ناترسه ځورېدل ولیدل. اخېر، په هغهٔ کښې هم دَ خدای اروا وه. هغهٔ نېک سړي دغهٔ خوار خپل کوٗر ته بوٗتلوٗ. هلته یي ښه ولمبولوٗ، ډوډۍ او شراب یي ورکړل او بیا یي یوڅه پیسي هم ورکړې. دا یي لا هم ورته وَویل چي دی به د پارسي وربښموٗ په خپلي کارخاني کښې، چي په هالنډ کښې جوٗړېدل، شاګرد ولګوي. کېندید دَ هغهٔ په پښوٗ کښې پرېوتلوٗ.

« زما ښوٗونکي، پېنګلاس، بېخي رېښتیا ویل چي زموږ په دې نړۍ کښې هرڅهٔ دَ خیر لپاره دي. ولي چي ستا سخا له ما څخه هغهٔ دَ توٗرې چوغې دَ ملا او دَ هغهٔ د مېرمني ناترسي هېره کړه»، کېندید په زوٗته وویل.

بله ورځ کېندید چکر ته ولاړوٗ. یو سوالګر یي وَلیدلوٗ چي ټوٗل ځان یي داني داني وٗ. سترګې یي مړې، پوزه یي شوړېدلي ، خوله یي کږه او غاښونه یي تک توٗر ول. ږغ یي لوېدلی وٗ او ډېر بد ټوخېدلوٗ. کله کله چي به له ټوخي بېخي شین شوٗ نوٗ له توکلوٗ سره به یي یو غاښ هم تو کړوٗ.

# دَ کېنديد له خپل پخواني ښؤونکي، پؤهاند پېنګلاس، سره ليدل

کېنديد دَ دغي خوړجني بلا په ليدلؤ وَ وېرېدلؤ، خو زړه يې هم پرې خوړ شؤ. هغه پيسې چي ايمانداره جېمز دهٔ ته ورکړې وې هغه يې دغه سوالګر ته ورکړې. دغي بلا دهٔ ته ځيرځير وَ کتل، سترګي يې له اوښکؤ ډکي شوې او کېنديد ته ورترغاړه وتلؤ. کېنديد له کرکي پر ښا ځيني وَتمبېدلؤ.

« ارمان، ته اوس خپل ګران ښؤونکی پېنګلاس هم نهٔ پېژني.» يوهٔ بدبخت سپېره هغه بل بدمرغهٔ ته وَويل.

کېنديد په چيغؤ چيغؤ ورته وَويل، « پېنګلاسه، زما ګرانه ښؤونکيه! ته چيري؟ په دغه مختورن اکر کې! هغه کومه بدمرغي وه چي ته يې له هغې پرتَميني مانۍ راوايستلې؟ هغه کونګنده، هغه د نجونؤ ميره او د پېنځون شاهکاره څه شوه؟»
«زما ساه لنډېږي» پېنګلاس وَ بونېدلؤ. کېنديد سملاسي هغهٔ دَ جېمز تبلي (اسخانی) ته يؤوړلؤ. څه خوراک يې ورکؤ. کله چي هغهٔ لږ پرتوان شؤ نؤ يې داسي تپؤس تري وکړؤ، «تا دَ کونګندي هيڅ خبر را نهٔ کؤ.»
« هغه خو مړه شوه» هغهٔ بل ځواب ورکؤ.
کېنديد هغه ګړۍ بېهؤشه شؤ. خو ملګري يې يوڅه سيرکه وَ موندله او هغهٔ يې پر سَد کؤ.
کېنديد سترګي وَغړولي او بيا يې وَيل، « کونګنده مړه شوه. او هغه بهترينه شوني نړۍ څه شوه؟ له څه مړه شوه؟ بېشکه چي زه يې له په زؤره له هغي پرتَميني مانۍ راوَايستلم نؤ دا له شرمه مړه شوه.»
« نهٔ، داسي نهٔ ول.» پېنګلاس ځواب ورکړؤ. « بلکي بلغاريانؤ ورسره دومره زيات مخ تؤر کړؤ تر څؤ چي هغې خوارکۍ زغملای شؤ. بيا يې نس ورڅيري کړؤ او کولمي يې راوَايستلې. زما بادار دَ هغې دَ ژغؤرلؤ وس وکړؤ. خو دَ هغهٔ سر يې هم ورمات کړؤ. ګرانه مېرمنه يې ځله خاشي خاشي کړه. زما له غريب شاګرد سره يې هم دَ هغهٔ دَ خؤر غوندي چلند وَکړؤ. دَ هغي پرتَميني مانۍ يوه لوټه لا هم پر ځای پاته نهٔ شوه. ګودامونه، درختي، مېږې، چرګان ، مرغان ټؤل تالاوالا شول. مګر زمؤږ پؤر بيا پوره واخيستل شؤ. ځکه چي اباريانؤ هم بيا تَ بلغاريانؤ دَ يوهٔ جاګيردار په جاګير کښي همدغسي چمونه وکول لکه له مؤږ سره چي شوي ول.»
دلته کېنديد يو ځل بيا بېهؤشه شؤ. او کله چي پر سد شؤ نؤ دَ يو څؤ دؤديزؤ خبرؤ پس يې دا تپؤس وکولؤ.
« اوستاده، ستا هغه د سوَب او پايلي کيسې څه شوې؟ هغه کوم داسي «بشپړ سوَبونه» ول چي ته يې تر دې ځايه راوَرسولې؟»
«دا ټؤل دَ ميني له لاسه.» دَ هغهٔ ملګري په ځواب کښي ورته وَويل. «مينه، هغه نازکه مينه، چي دَ اينسانانؤ ترسله او تسلي ده، دَ ټؤل جهان ژغؤرونکي او دَ ټؤلؤ ژويؤ د ځانونؤ اورا هم ده.»
کېنديد سر وَ ښورولؤ او بيا يې وَويل، « زه څه پر دغي ميني پوه يم. دغه دَ زړونؤ رانۍ او دَ ارواؤ اروا ده. زما لپاره دَ دغي ميني ټؤلي پېرزؤيني بس مازي يوه خولګۍ او بيا پر ملا شل لتې وې.» بس دا زما برخه وه. مګر دې ته هک پک يم چي څرنګه دومره ښکلي سوَب په تا کښي دومره خوړجنه پايله پيدا کړه.»

«ګرانه کېنديده، هغه ښکلي چوړۍ، پکيټي، چي زموږ دَ لويي مېرمني چوپړ به يي وهلوٗ، خو به ستا ښه ياده وي.» پينګلاس جواب ورکوٗ. « دَ هغي په غېږه کښي ما دَ جنت خوندونه وَ موندل. او بيا هغوٗ ما کښي دغه دوٗزخي کړاونه پيدا کړل. هغه دَ سوٗزک په رنځ اخته وه. او کېدای شي چي اوس بېخي ترې مړه شوې وي. د دغه رنځ سرچينه يي داسي بيانوله. هغې، پيکټي، ته دا رنځ له يوهٔ مسېهي پوهيالي ملنګ څخه ورپېښ شوی وٗ. پخپله ملنګ بيا له يوې زړې بېګمي اخيستی وٗ. بېګمي دَ رسالي له يوهٔ تورن څخه، او تورن له يوې نوابي بېګمي څخه. دغي نوابي بېګمي له خپله غلامه موندلی وٗ. غلام له يوه مسېهي راوړی او غلام چي لا نابلده وٗ سيخ يي دَ کولمبس له يوهٔ ملګري رانيښلولی وٗ. پاته شوم زه، زه به هيڅا ته نهٔ ورکوم. ځکه چي زه اوس مرګ ته نيژدې يم.»

«څه نادره کهوٗل ونه او پيړۍ دي بيان کړې! د دې ټوٗلوٗ جرړه خو پخپله شيتان ښکاري.» کېنديد په هېښتيا ورته وَويل. هغه لوی مشر په ځواب کښي ورته وَويل، « داسي بېخي نهٔ ده، بلکي دَ دې نړۍ دا يوه نهٔ بېلودونکي برخه ده. ځکه چي که کولمبس د لوېديځ هيند ټاپوګانوٗ ته پيښه نهٔ وای کړې او دغه رنځ ، چي دَ زېږېدني سرچينه زهرجنه کوي، بلکي بېخي يي بندوي چي دَ جندون دَ کانون بېخي اپوټه دی، يي نهٔ وای اخيستی، نوٗ موږ ته به چاکلېټ او کوچينل «سور رنګ» له کومي راپيدا کېدل؟ او دا هم موږ منو چي تر نن ورځي پوري دغه رنځ او ديني نانډرۍ او شخړې زموږ دَ اورووپايانوٗ ځانګړې ځانګړني دي. تورکان، هيندکيان، پارسيان، چينيان، سياميان يا جاپانيان ست پر دې نهٔ دي خبر. مګر داسي پوره سوَبونه شته چي په يو څوٗ پېړيوٗ کښي به دوی ته هم دغه تجربه وَشي. خو په موو اوروپايانوٗ کښي اوس هم دغه دَ باړې په ايمانداره لوٗيوٗ لښکروٗ کښي ، چي زموږ د کامونوٗ د بخت پرېکړې کوي، ښه په درب پرمختګ کوي لګيا دی. دا په پوره باور ويلای شو کله دېرش دېرش زره دوې لښکرې پله ښخي شي نوٗ له هرې خوا به برابر شل زره کسان دغه رنځ اخلي.»

« ستا ګايونه خو بس سړي ترپايه اورېدلای، مګر تر هرڅه ړومبی ستا درملنه پکار ده.» کېنيد وَويل.

« زما درملنه به په څه کيږي؟ زه يوه پيسه هم نهٔ لرم. او دَ خدای په دې ويره نړۍ کښي داسي يو هم ډاکټر نشته موفت زما رګ وَوهي او درملنه مي وکي.» پينګلاس وَويل. دَ پينګلاس اوستاد روستی خبرې کېنديد راوَپارولوٗ او هغهٔ په زغاسته سخي جېمز (نابسپټيسټ) ته ورغلوٗ او دَ خپل يار ربړونه او کړاونه يي په داسي خواخوږۍ ورته بيان کړل چي هغهٔ ښه سړي پوٗهاند پينګلاس له هم ځانه سره کړوٗ. موفت يي دارو درمل پرې وکړل. پرته له يوې سترګي او له يوهٔ غوږه ، پوٗهاند نوٗر بېخي جک جوړ شوٗ. هغهٔ اوس هم ليک کولای شوٗ او هم په هيساب کيتاب کښي ډېر تکړه وٗ. نوٗ هغهٔ ؤ چي جېمز دی دَ خپل کاروبار خزانچي وَلګولوٗ. دوې مياشتي پس جېمز ته اړتيا ورپيدا شوه چي ليزبن ښار ته ولاړ شي. هغهٔ له خپلوٗ دوٗ فلسفيانوٗ ملګروٗ سره يو ځای په خپلې ځاني بېړۍ کښي رهي شوٗ. په مزله کښي پينګلاس دا زباتول چي په نړۍ کښي هرڅه چي پيښيږي هغه دَ ښېګړې لپاره وي. خوٗ جېمز ورسره نهٔ منله. بلکي جېمز به دا ويل، « اينسان خپل اينساني خوی او کړهٗوړهٔ بايللي دي. په لوی سر کښي خو هغهٔ لېوهٔ نهٔ ؤ، مګر اوس دی خدای .... خو دوی ته توٗپي ، ټوٗپک او ګورزونه نهٔ ول ورکړي. مګر دوی دَ يوهٔ بل بېخ ايستلوٗ لپاره جوړ کړي دي. په همدې توٗګه زه ځان ډيوالی اچوم، او هم هغه کانون چي پکار ده دَ ډيوالي هرڅه يوسي، دَ دې لپاره دی چي پوٗروَړي تېر باسي.»

يو سترګي پوٗهاند په ځواب کښي ورته وَويل، « داسي نوٗرې بېلګې شته چي له پيښي تېښته نشته. دَ يو چا په ځاني ناخوالوٗ کښي دَ نوٗرې ټوٗلني ښېګړې پرتې وي. څومره چي ځاني بېخيرۍ زياتيږي هغه دا زباتوي چي هرڅه سم دي.»

دا لا بیا هم ګډ ؤ او خپلې غورې يې کولې چې پر اسمان ګڼې وريځې راخورې شوې. له څلوړ کونجه نرۍ سيلۍ راپؤرته شوې او دَ دوی بېړۍ ليزبن ښار ته مخامخ په سخت تؤپان کښې راګېره شوه.

ځلرم ځېرکی

# توپان، بېړۍ غرکه، زلزله
# پوهاند پېنګلاس، کېنديد او ايماندار جېمز ته څه ورپېښ شول؟

بېړۍ توندو بادونو او اوبو پورته کښته او هرې خوا ته وزنګوله. نيمی سواريان دَ خوارګرځۍ او دېرې ستومانۍ له لاسه دومره بېسېکه او بېتوانه شوي ول چي هډو په هيڅ وېره او ترهه اګاه نهٔ ول. او هغه بل نيمی يې بيا په غوښتنو او دعاګانو اخته ول، چي دَ بېړۍ ځولۍ ځيرې شوې وه، لوی سکام او تمبې يې ماتې شوې وې او تختې يې چاودلې وې. که څه هم هر چا زيار ايستلو او خپل وس يې کولو ، خو په يوه خوله نهٔ ول او نهٔ يې يوه بولنده لرله ، نو ځکه خو هر څوک اوتربوتر ول. ايماندار جېمز هم له يوهٔ لوَړه ځايه ږغ کولو او وس يې و چي دَ بېړۍ مخه سمه کي، چي نابَبره يوه مانو داسې کافر سوک ورکړو چي خوارکی تيرتېک پر دړو راوپرزېدلو. مانو بيا دَ خپل زور له تاوه خپل اندول چپه کړو او دَ سر په خوا په هوا شو، خو يوې ماتې تمبې راونيولو او بيا دَ بېړۍ په اړخ کې رازوړند شو. مګر ايماندار جېمز په منډه دَ مانو مرستې ته ورغلو او هغهٔ يې بېرته بېړۍ ته راوخېژولو. خو دغه درانهٔ بار پخپله دی اوبو ته لاهو کړو. هغهٔ مانو په سپينو سترګو ورته کتل او هغهٔ يې پرېښودلو چي ډوب شي.

دَ کېنديد سترګې پر خپل مهربان جېمي هغه وخت ولګېدلې چي اوبو هغه ګړۍ پر سر رابنکاره کړو او بيا يې دَ همېشه لپاره ډوب کړو. کېنديد چمتو و چي سمندر ته ورپسې ودانګي ، مګر پېنګلاس هغه راوګرځولو او بيا يې دا هم ورته وزباتله چي د ليزبن بندر جوړ شوی دَ همدې موخې لپاره و چي ايماندار جېمز پکښې ډوب شي. هغوی له دَ بنسټيز زبات او زباتنې په خبرو لګيا ول چي بېړۍ دوې دړې شوه، او دَ پېنګلاس، کېنديد او هغه مانو، چي دَ ايماندار جېمز دَ مرګ سوَب و، پرته نور ټول سواريان تباه شول. شيتان مانو تکړه لامبوزن و نو ځکه خو يې ډېر په مزه ځان څنډې ته ورسولو. پېنګلاس او کېنديد په يوې تختې پورې تر هغو ټينګ نيښتي ول چي يوې څپې څنډې ته وَ بهول...

دوی تر څه وخته پورې هلته بېسده پراته ول. کله چي پرسَد شول نو دَ ليزبن ښار خوا ته رهي شول چي کوندې يو څه خوراک پيدا کي، کني له لوږې مره کېدل. يو څه پيسې لا اوس هم ورخخه وې. داوړه دَ خپل مهربان جېمز ښار ته ايله ورنيژدې شوي ول چي مځکه يې تر پښو لاندې په لړزان شوه. سمندر وَ پرله اېشېدلو او هغه ټولې بېړۍ چي په بندر کښې لنګر ولاړې وې ټولې تباه شوې. پر ايرو او لمبو لړلې لپونۍ سيلۍ پر کوڅو او چارسوګانو راوګرځېدلې. کورونه ارتاو شول او چتونه او بنسټونه يې ټول وَنړېدل. دېرش زره سړي، ښځې او کمکيان تر خرابو لاندې چيختاړه شول.

مګر مانو په کړس کړس خندل او ويل يې، « خدای ږو! اوس به څه ښه شيان وَ مومو.»

پوهاند پېنګلاس بيا وَويل، « دَ دې پېښې ښه ډېر سوَبونه کېدلای شي.»

کېديد چيغه کړه، « وی دا خو کيامت شو!»

سراښ مانو ځان په خطر کښې واچولو او دَ خرابو په منځ ورګډ شو چي څه پيسې پيدا کي. څنګه چي يې يو څه پيسې وَموندلې نو په تراټ ميخانې ته ولاړو او هلته يې ځان په مَيو ښه

ټمبه کړۀ او بیا ببغمه پسي ویده شۀ. له خوبه وروسته چي ښه هوسا شۀ نۀ په نړېدلۀ خونۀ او کوټۀ کښي یي تلاش او لټون پیل کړۀ. مړه شوي او مرګ ته نیژدې کسان شاوخوا پراته ول خو ده دومره پیسي اوس موندلي وې او په هغۀ یي دَ ځان لپاره یوه خړه نجلۍ یاره پیدا کړه.

پېنګلاس دی تر لستوڼی وَنیولۀ او په کلکه یي ورته وَویل، « مه یاره!، داسي مه کوه. ته دا ناورین نه وینې! دَ هوشیارۍ له جهاني کانون نټه (انکار) مه کوه.»

هغه په ډېره تونده ژبه ځواب ورکړۀ، « ورک شه سرګوزیه. زه ستا دَ جهاني هوښیارۍ کانون لخوا هیڅ نه راځم. زه یو مانو یم. په بټېویا کي زېږېدلی یم. جاپان ته ځلۀر پلا تلی یم او هر وار پر سلېب ورختلی یم.»

کېندید، چي دَ کورونۀ په نړاندۀ خښتۀ او ډبرۀ زخمي بېچاره خړپړ په سړک کښي پرۀت ۀ، پېنګلاس ته یي ورچیغه کړه، « هله د خدای دپاره! یو څه شراب او تېل راوړه، زه مرم.»
پۀهاند پېنګلاس ځواب وربیا کړۀ، « زلزله کوم نوی شی دی. پرۀسږ کال دَ امریکي دَ لیما ښار همدغسي دړکي وَخوړلي. دَ یو ډوَل سوَب پایلي هرچیري یَو شان وي. خامخا به دَ ګوګړۀ یو رګ له لیما څخه تر لیزبن پوري تر مځکي لاندي غځېدلی وي.»
« هوسمه ده، غځېدلی به وي، مګر اوس پر ما لږ زړسوی وکه، تېل او شراب راوړه!» کېندید په فریاد ورته وَویل.
فلسفي پېنګلاس کړیکه کړه، « وی به، بس! دا ته څه وایې؟ زه درته وایم دا زباته شوې او پخه خبره ده.»
کېندید بېسده شۀ او پېنګلاس ورته له نیژدې چیني څخه څه اوبه وَ راوړې.

په دا بله ورځ، دوی په ویرانۀ او خرابۀ کښي سره کرښېدل او کښېدل چي څه خوارکي شیان یي وَموندل. کله چي څه سبک پکښي پیدا شۀ او یو څه دَ کش شول نۀ له نۀرۀ ژوندي پاته شویۀ کسانۀ سره دَ هغۀ کسانۀ په موندلۀ کښي کومک پیل کړۀ چي لا ژوندي ول. ځینه ښاریانۀ، چي دوی مرسته ورسره وَ کوله، دوی ته مېلمستیاوې وکولې. خو په دې ویرژلې ورځ کښي به څه مېلمستیاوې وې. مېلمنۀ به هم ژړل او هم به یي خوړل. خو پۀهاند پېنګلاس لګیا ۀ دوی ته به یي ترسله ورکوله او ورته ویل به یي، « هر څه چي وشول هغه په بل ډوَل کېدلای نه شول.»
هغه خپله وراسه نۀره پسي اوږده کړه او وَ یي ویل، « دآ ټۀلي پېښي دا ښکاروي او زباتوي چي هرشه په خپل ځای سم دی. ځکه چي، که سېرغاو (اتشفشان) په لیزبن کښي دی نو مانا دا چي بل ځای سټ کېدای نه شۀ. ولي چي دا ناشوني ده چي شیان دي هلته شته نه وي چیرته دوی شته دي. ځکه چي هر شی دَ ښېګړې لپاره دی. دا دَ پینځون لاره ده.»

دَ پېنګلاس پر څنګ یو تۀرپوستی کوچنوټی سړی ناست ۀ، چي دَ مالیي دَ دفتر یو څرکبه افسر ۀ. هغه پېنګلاس ته مخ وروَګرځولۀ او کرار یي ورته وَ ویل، « ښاغلیه! ستا له ګایونۀ دا جوتیږي چي دَ لومړنۍ ګوناه ګرۀهه مني. که هر شی پر خپل ځای سم او بهترین دی، نۀ بیا خو دَ ادم له جنته دَ لومړنۍ ګوناه په سوَب ایستل او وربسي دَ تل سزا کېدل څه مانا لري؟»

پېنګلاس تر پخوا هم په ادب ځواب ورکړۀ، « ښاغلیه، زه بخښنه غواړم، خو دا درته وایم چي لومړنۍ ګوناه او بیا وربسي همېشنۍ سزا دواړه زموږ دَ دې بهترینې نړۍ نه بېلودونکي برخي ګرځېدلي دي.»

هغه افسر ورته وَويل، « له دې ښځه دا زباتيړي چي ته دَ خوښۍ کسنه (دَ اختيار نظريه) نه منې...... »

پېنګلاس ورته وَ ويل، « نه ښاغليه! داسي نه ده. خوښي او زوُر هرومرو دواړه اړخ پله لګوي. ځکه چي دا سپر (بخت) چي ؤ چي موږ خپلواک شوو، نؤ هغه هؤډ چي په زوُر ... »
پېنګلاس لا خپله خبره نه وه پای ته رسولې چي افسر خپل هغه نؤکر ته اشاره وکوله چي ده ته يې دَ مَيؤ جامونه ورډکول.

پینځم څپرکی

# له زلزلې څخه دَ ژغورنې لپاره دَ ديني دستورې لمانځنه، او په شلاخو دَ کېنديد وهنه

کله چي زلزله سؤکه شوه نؤ دَ ليزبن ښار دربيمه برخه تباه شوی ؤ. دَ هغهٔ ځای دَ کويمبرا پؤهنتون پؤهاندانؤ او پؤهندويانؤ دا پايله راوَايستله ، چي که څه کسان په نري نري اؤر وَ سوزول شي نؤ به هرومرو يوه باوري نوسخه شي چي  دَ راتلونکؤ زلزلؤ مخنيوی وکي. ورپسې چارواکؤ دَ دغې نوسخې دَ ترسرکَولؤ سريښته وَ نيوله او ورسره يې دَ ګوناهګارانؤ پلټنه پيل کړه. يو بسکاوی يې په دې تؤر وَ نيولؤ چي له «خپلې ستانه مور» سره يې وادهٔ کړی ؤ. دوهٔ پورتګالي يهوديان يې بيا په دې تؤر وَنيول چي دَ چرګانؤ غوښه خو يې خوړله مګر دَ سؤېر له هغې يې نټه کوله. دَ ماليې دَوتر شينکاليؤ چارواکؤ پؤهاند پېنګلاس دَ ناروا خبرؤ کولؤ په تؤر وَ نيولؤ او  کېنديد يې ورسره په دې تؤر وَنيولؤ چي دَ پېنګلاس ګايونهٔ يې په داسي څېر او تؤګه اورېدل چي ګوا هغه مني. دواړه يې جلا جلا په سختؤ سړؤ او تاريکؤ کوټؤ کښې بنديان کړل. يوه اونۍ پسته چي يې راوَايستل نؤ ډېر ناپېريت کالي وراغوستي ول او دَ کاغز اوږدې خولۍ يې ور پر سر کړې وې. دَ کېندنديد په کاليؤ دَ اؤر چپه لمبې او دَ شيتانانؤ داسي انځؤرونه رغېدلي ول چي لکۍ او منګولې يې نهٔ وې. مګر دَ پؤهاند پېنګلاس پر کاليؤ دَ اؤر لمبې هم سمې پؤرته خوا ته جګې شوې وې او دَ شيتانانؤ انځورونؤ هم لکۍ او منګولې لرلې. بيا نو په يوهٔ لاريون کښې لندارتون ته بؤتلل او  هلته ملايانؤ (پادريانؤ) زړه بوږنونکې ويناوې ورته وَکولې. ورپسې يې ښه خوندَور سازونه ورته وَږغول. کله چي ساز ږغول کېدلؤ نؤ دَ زېروبم سره په کېنديد شلاخې ورېدلې. هغهٔ بوسکاوی او ورسره هغهٔ دوهٔ پورتګالي يهوديان، چي دَ سرکوزي غوښه يې نهٔ خوړله، يې درې واړه ژوندي په اؤر کښې وَسوزول. پېنګلاس اوستاد يې په دار  راوَ ځړولؤ، که څه هم په هغه وخت کښې پر داسي ځايونؤ کښې دا يو منل شوی دؤد او دستور نهٔ ؤ.

مګر پر همدغه ورځ يوه بله سخته زؤرَوره زلزله وَ شوه او بېخي ډېره تباهي يې جؤړه کړه.

کېنديد خوارکی په سرؤ وينؤ کښې لت پت او لړلی ډېر وېرېدلی ؤ او دَ وېرې او درد له لاسه ډېر بد رېږدېدلؤ. هغهٔ په زړه کښې دا سؤچ کولؤ، « که دغه بهترينه شونې نړۍ ده ، چي پېنګلاس اوستاد به په واريؤ واريؤ موږ ته ويله، نؤ خدای زده چي هغه نؤره پاته به يې بيا څنګه وي؟» که يوازي ما شلاخې خوړلې وای ، خو خير دی سهلې او ګاللې به مي وې، ځکه چي بلغاريانؤ پخوا هم دغه چم ډېر راسره کړی ؤ. خو زما خوږ اوستاد پېګلاس ولي بېګوناه تېزندی شؤ؟ هی ارمان! هغه دَ نړۍ دَ واړؤ فلسفيانؤ سترين فلسفي! دَ دې څه سوَب کېدلای شي؟ ايا دا ټاکلی او ليکل شوي بخت ؤ چي ايماندار جېمز به دلته دَ ليزبن بندر مخامخ په اوبؤ کښې ډوبيږي؟ اه کوکندې دَ نجونؤ ميرې! ايا دَ دې سېر (بخت) بيا دا ټاکل شوی ؤ چي په داسي کړاو او درد دې يې نس وَ څيرل شي؟ کېنديد له دَ ملايانؤ ويناؤ، وهلؤ او بخښلؤ پسته په دې چورت کښې ؤ چي له دې سپېره ځايه ايسته شي چي دلته يوه بوډۍ ورسره پر څنګ شوه او ورته وَ يې ويل، « ځوانه، هيمت کوه او سم په ما پسې راځه.»

شپږم څپرکی

# د يوې بودۍ لخوا دَ کېنديد ساتنه
# او دَ کېنديد له خپلې اينجلې سره بيا ليدنه

دَ هيمت کولؤ وينا خو اسانه وه مګر کومه بده ورځ چي پر کېنديد وه په هغې کښي هيمت کول ډېر ګران کار ؤ. خو بيا هم دی په هغې بودۍ پسي شؤ او يوه نابلده کؤر ته وَرسېدل. هلته مهرباني بودۍ دهٔ ته دَ خوراک او څيښاک شيان ورکړل او ورسره يې څه تېل دَ مالش او ټکؤر لپاره ورکړل. بيا يې يوه ښه پاکه بيستره وروَښيله او هم يې يوه جوړه ښه پاک کالي ورله ورکړل. بيا بودۍ داسي ورته وَويل، « ښه ځان مؤږ که او شپه ښه په ارمه خؤب وکوه. دَ خدای ستانه بزرګان دي ستا ساتندؤيان شي! زه به سبا ګهيځ درله راشم.»
کېنديد چي اګاهو څه ليدلي ول او څه چي پر تېر شوي ول پر هغؤ هکېک ؤ چي دا هرڅه څرنګه او ولي وَ شول. او اوس بيا دَ دې بودۍ پر پيرزؤيني او خواخوږي نؤر هم هيران شؤ. هغهٔ غوښتل چي دَ بودۍ لاسون کوښل کي مګر هغې دی وَ درولؤ او داسي يې ورته وَويل، «زما لاسونه ستا دَ کوښلولؤ وړ نهٔ دي، ته دي خپل خورک کوه او بيا دي په ارامه ځان ټکؤر که. زه به سبا ګهيځ بيا راځم.»
له دغؤ ټؤلؤ ربړونؤ او کړاونؤ سره سره کېنديد بيا هم ښه په خوند ډوډۍ وَ خوړله او ښه دروند پسي ويده شؤ. سبا ګهيځ بودۍ هغهٔ لره ناشته راوړه. نن يې دَ هغهٔ خوَړ ملا هم وَ کتله او بيا په هغؤ درملؤ ، چي دې له ځانه سره راوړي ول، په پخلؤ لاسؤ دَ هغهٔ شا ښه مالش او ټکؤر کړه. غرمه او ماښام يې هم ډوډۍ ورله راوړه. په دا بله ورځ يې بيا همدغه شان وکول. کېنديد به له هغې هر وخت داسي پوښتني کولې، « ته څوک يې مهرباني انا؟ ته ولي پر ما دومره مهربانه يې؟ زه به ستا دَ دومره پيرزؤيني او لورېيني مننه څنګه وکوم؟» مګر هغه نېکه ښځه به هر وخت پټه خوله وه. په دا بل ماښام بيا راغله، او له راتلؤ سره يې کېنديد ته وَويل، « له ما سره راځه، او ګوره چوڼ به هم نه کوې!»

بودۍ کېنديد تر لاس وَ نيولؤ او له ښاره يې دوه فرلانګه ورچني وَ ايستلؤ. هلته يې دَ داسي يوهٔ يوازي کؤر، چي شاوخوا يې ډېرې مڅکې او بندونه ول، وَ يوې اړخيزې دروازې ته وَ درولؤ. بودۍ دروازه وَ ټکوله. دروازه سملاسي پرانيتسل شوه او بودې کېنديد دَ يوې پوړۍ پر لاره پؤرته وَ خېژولؤ او بيا يې يوې ښې ښايستې اؤډلي خونې ته ننه ايستلؤ او هلته يې يوې چکن شوې بخملي سوپې ته وَ ګومارلؤ. بودۍ پخپله ورچني وَوتله او په کېنديد پسي يې دروازه بنده کړه. کېنديد هيران ؤ چي دی په وينه دا هر څه ويني او که چيري دَ خپل تېر ژوند دَ ربړونؤ څخه دَ پس دی هسي يو خوشاله خؤب ويني؟

بودۍ واپس راغله او په څه خوارۍ يې دَ يوهٔ ښکلي جؤړاپ (قدقامت) يوه ښځه خونې ته له ځانه سره راوستله. ښځې پرده کول او رنګارنګ غمي يې پر کاليؤ لګېدلي ول. هغه چي ورؤ ورؤ رانيژدې کېدله نؤ رېژدېدله.

« پرده تې ايسته کړه» ، بودۍ کېنديد ته وَ ويل.

ځوان کېنديد چي په وېره او ناويساتؤب ورجوخت شؤ او پلو يې ترې پؤرته کؤ، نؤ هک هيران شؤ. څه ګوري!!! لکه چي به مېرمن کونګنده دهٔ ته مخامخ ولاړه وه. چي ښه ورته ځير شؤ، نؤ يې باور وَ شؤ چي په ريښتيا کونګنده وه. دهٔ کېنديد هؤش وَ تښتېدلؤ ، توان يې په هوا شؤ او

مړاوی غوندي دَ هغې په پښو کښې وَلوېدلو. زبون یې وَ وهل شو او هغې ته یې په وازه خوله کتل. وړپسي کوګنده هم بې سده شوه او په یې سوېې کښې پرېوتله. بوډۍ پر دواړو باندي یو څه دَ ګلابو اوبه وَ پاشلې نو هغوی پر سَد شول او بیا دواړه ورو ورو په خبرو شول. لومړی یې یو څو مات ګوډ ټکي دَ خولو څخه سره وَ وتل، وړپسي نیم نیمګړي تپوسونه او بیا نو ساړه اسوېلي او ژړاګاني شوې. بوډۍ چي ډاډه شوه چي دواړه سم روان دي نو ورته وَ یې ویل، « سوکه سوکه وبله ګاپرئ». او پخپله بهر ولاړه.
کېندید چیغه کړه، « ته ریښتیا کونګنده یې؟ دا ته لا ژوندۍ یې؟ چا ګنله چي له تا سره به په پورتګال کښې وینم؟ نو ته وَ نه کوټل شوې؟ ستا نس وَ نه څیرل شو؟ لکه پوهاند پینګلاس چي به ویل، « بېشکه همهغسې وشول، مګر زه بچ شوم.»

« او ستا مور او پلار دواړه وَ وژل شول. »
د کونګندې سترګي له اوښکو ډکي شوې او غرېب یې وَ ویل، « هو! هغوی دواړه وَ وژل شول.»
« او سا وروړ؟»
«هغه هم وَ وژل شو.»
« اوس دا راته وَ وایه چي ته پورتګال ته ولي او څنګه راغلې؟ څرنګه په ما خبر شوې چي زه دلته یم او څرنګه تا زه دلته را ورسولم؟»
« زه خو به دا ټول حال درکم. مګر لمخه به تا دا حال راکوې چي ستا دَ هغې پاکې مَچې او بیا وړپسي چي کومې ناترسه لتې تا وَ خوړلې ، له هغه ورسته تا ته څه پېښ شول؟»

دَ کېندید ملا تر اوسه هم خوږېدله او نور هم ښخې ښخونده و. خو په رپېدلي اواز یې هغه واړه پېښې ورته بیان کړې چي له څخه دَ بېلتون وروسته دهٔ ته وړپېښې شوې وې. کونګنده ډېره اغېزمنده شوه او دَ پوهاند پینګلاس او ایماندار جېمز پر مړینه یې اوښکې تویې شوې. کله چي دَ کېندید دَ غمونو داستات پای ته وَ رسېدلو نو دې خپل نکل ورته پیل کړ او کېندید په ډېره پاملرنه دَ هغې ټکی اورېدلو او سترګې یې دَ هغې په مخ کښې ښخې وې.

اؤوَم څېرکی

# دَ کونګندې کیسه

یوه شپه زه ښه په خرګنده مست خوّب ویده وم چي بلغایان زمونږ ښکلي مانۍ ته راوَرسېدل. زما پلار، مؤر او ورؤر یې وَ کوټل (حلال کړل). مؤر مي یې راته دَ هلالولؤ پس خاشي خاشي کړه. زه دَ دي کسابي دَ لیدلؤ سره بېسده شوم. هلته پر سَد شوم چي یوي ګزي بلا بلغاري سپاهي وَ پرزولم او راباندي لګیا شؤ. دلته مي دَ مرستي لپاره ډېري چیغي وکولي، خو زه لا په دې پؤهه نهٔ وم چي هرچیري دغه هال دی. ما ډېر بد لاس پښي وَ وهلې، هغهٔ بدبخت مي په نوکونؤ او غاښونؤ وَخیرلؤ. زړهٔ مي غوښتل چي سترګې یې راوَباسم، هغه ځناور زه پر کینې ورانهٔ ټپي کړم، چي نښان یې تر اؤسه هم لا شته ...

کیندید ساده ، دي یې نهٔ وړي نهٔ دي یې راوړي، په زؤره یې وَ ویل، « ځومره به ښه وي ، که زا دي دا ټپ وَ وینم.»

« هؤ سمه ده، بیا به یې وَ وینې ، خو اوس زما کیسه مخکي واوره.» کونګندې ورته وَویل.

« هؤ خوَد، سمه ده راته وایه یې.» کېندید ورغبرګه کړه.

« هغه ځناور زه رالاندي کړې وم او زما تر وارنهٔ سر وینې بهېدلې. هغهٔ ؤ چي یو بلغاری تورن نابېبره پر مونږ رابرابر شؤ، مګر سپاهي بیا هم له ځایه وَ نهٔ خوځېدلؤ. تورن ته پر دې سپک چلند دومره خشم ورغلؤ چي پر ما دپاسه سپؤر وَ وژلؤ. بیا هغهٔ تورن زه دَ یوهٔ جنګي بندی په څېر خپل ځای ته بؤتلم. ټپ یې راله پاک وَ مینځلؤ او پندکی یې پر وَ لګوله. ما به هغهٔ له دؤډی پخوله او کالي به مي ورله مینځل. زه په دې پؤه وم چي هغهٔ تورن هم زه ډېره ښکلې ډېره کارنده ګڼلم. پخپله دی هم ښه ښکلی ، سپین او چیټ ځوان ؤ، مګر پؤهنه یې چندو نهٔ لرله، او په فلسفه خو بېخي هیڅ نهٔ پوهېدلؤ. ښکاره خبره ده چي دَ پؤهاند پینګلاس غوندي اوستاز یې نهٔ ؤ موندلی. درې میاشتې پس چي دَ هغهٔ پیسې تمامي شوې او له ما هم خوامؤړی شوی غوندي ؤ، نؤ یې په اساچر نومي یهودي کاروباري باندي خرڅه کړم. یهودي په هالنډ او پورتګال کښي هم کاروبار کولؤ. هغهٔ دَ ښځؤ ډېر هَوَسي ؤ. پر ما یې ډېرې پیرزؤینې کولې ځکه چي ډېر راباندي ګرم ؤ. خو ما ورسره هیڅ لاره نهٔ موندله. ځکه ما دی تر هغه بلغاري ښه په اسانه پر شا تمبوَلای شؤ. دَ یوې ننګیالۍ پاکلمنې لمنه یوازې یو وار پؤرته کېدلای شي. دَ بیا لپاره دغه ترخه تجربه دَ کمزؤرۍ پر ځای هغې ته ځواک او زړه ورتیا ورکوي. هغهٔ یهودي زما دَ نرمَولؤ او پوخلا کولؤ لپاره زهٔ دغي مانۍ ته راوستلم چي اوس دا یو مونږ ورکي ناست یو. زما به دَ ټندرترانخ په مانۍ کښي دا ګومان ؤ چي تر دې به نؤر زیات ښایسته ځایونه نهٔ وي. مګر اوس مي دا دي په خپلؤ سترګؤ ولیدل.» په دې شېبؤ کښي هغې خپلې سترګې شاوخوا وَ غړولې.

یوه ورځ دَ اودیني (جمعي) په لمانځه کښي لوی څارنوال زه ولیدلم. ډېر ځیر ځیر یې راته کتل، او په سترګؤ سترګؤ یې دا وَیل په یوازې او ګؤښه ځای کښي څه ځاني خبره راسره لرې. له لمانځه پس یې دَ هغهٔ خپل کؤر ته بؤتلم. هلته ما هغهٔ ته دَ خپلې کورنۍ او کالهٔ په هکله هر څه وویل. بیا هغهٔ راڅرګنده کړه چي، « ستا غوندي ښځه بؤیه چي دمره سپکه وَ نهٔ مني چي دَ یوه ایسرایلي ځاني شتَمَني ورګرځي.»

ډېر ژر ډان اساکر یهودي ته دا وړاندیز ورکړ شؤ چي زهٔ دې ښاغلي لوی څارنوال ته وَ سپارل شم.

ډان اساکر هم څه کمزؤری سړۍ نهٔ ؤ. په دربار کښي یې خورا اوچت ځای ؤ. هغهٔ پر دې ګا خپل ځان کوڼ واړولؤ. خو څارنوال هم دَ خپلې فتوا دَ وېرې زؤر وربښکاره کړؤ. یهودي هم

ناچاره شو او داسي روغه يې ورسره وَمنله چي زهٔ او دغه مانۍ به دَ دوی دواړو په ګډه وي. دَ نهي ، زيارت او اوديني په ورځ به دَ يهوديي وار وي او دَ اونۍ پاته ورځي به بيا دَ څارنوال وار وي. دَ دوی تر منځ دَ دغي روغي اوس شپږ مياشتي کيږي. ما تر اوسه هغوی دواړه له خپله ځانه ايسته او بېرته ساتلي دي ، او کېدای شي هم دا سوَب وي چي دوی دواړه له ماسره ډېره مينه کوي.

له څه وخته رايسته ښاغلی څارنوال دې ته چمتو شوی ؤ چي دَ بيا لپاره له زلزلو ډکه دَ ژغورني او مخنيوي لپاره يوه ښه برابره دَ کفاري مېله پله وَ باسي. ورسره يې زه هم په پوره درناوي لندارتون ته وَ بللم او هلته يې په وړاندي کتار کښي ځای راکړو. پر ښځو دَ دورهاؤ (دعاګانو) او نورو کاروايي په ترځ کښي خوړې وَ وېشل شوې. خو ته وَ منه چي کله هغه دوه يهوديان او يو هغهٔ بېچاره بوسکاوی، چي له خپلي ستانه مور سره يې واده کړی ؤ، دَ اوَر سرو لمبو ته ورواچول شول نو زما خوا وَ ګرځېده. خو ته زما دَ هيرانۍ، وېرې او پرېشانۍ اندازه بيا هغه شېبې وکوه کله چي ما دَ پينګلاس اوستاد غوندي ښه دَ بلهاری په کاليو کښي وليده چي دَ کاغز جګه خولۍ يې پر سر وه او په لکۍ ورو شيتانانو رغېدله وه. ما خپلي سترګي وَ موښلي او ښه ورته ځيره شوم. بس دغه مي وليدل چي اوستاد په دار راځوړند کړ شو. دلته زه بېسده شوم. چي ايله لږ څه په سَد شوم نو څه ګورم! ته مخامخ لڅ لغړ راته ولاړ يې. په دې وخت کښي ته زما هيراني، پرېشاني ، غم او نهيلي باملای شې. ته دا له ما په ريښتيا وَمنه چي ستا ځرمنه دَ هغهٔ بلغاري تر هغي زياته سپينه ده او هم تازه ده. ستا ليدو زه داسي رالاندي او ډوبه کړم چي ما چيغي وَ وهلې. غوښتل مي چي داسي نارې کم، « ځناورو! مه کوئ!» خو اواز مي بند شو. او بند نهٔ هم وای نو بېکاره ؤ. چي ته يې په شلاخو ښه کلک وَ شړکولي نو ما ځان ته وَ ويل، «زما ګران کېدنديد او زموږ کلتاغ (هوښيار) پينګلاس څه بلا ليزبن ته راوستل؟ دَ دې لپاره چي يو يې لڅ لغړ سل شلاخي وَ خوري او بل يې تېزندۍ شي؟ او دا هم دَ هغه څارنوال په وينا چي زما دمره وفادار دی!!. اه، پينګلاس اوستاد ما ته دا ناترسه دوکه راوکوله چي هروخت به دا راښودله چي « په دې نړۍ کښي هر څه بهترين دي.»

«ته زما هغه ورکه ويران ورځ ښه باملای شې. کله خو به له خشمه لېونۍ وم. بله ګړۍ به له ډېرې کمزوری دَ مرګ پولي ته ورجوخته شوم. هر شېبه به زما سوچ دَ خپل مورپلار او خپل ورور په ناترسی وژل کېدلو ته راګرځېدلو. بيا به مي په مغزو کښي دَ هغهٔ بدماش بلغاري سپاهي زياتی او هغهٔ ټپ چي ما ته يې راکړی دی راګرځېدلو، ورپسي به بيا دَ بلغاري تورن مينځه او پختنی ګرځېدل رايادېدل. بيا هغهٔ سپيره ډان اساکر يهودي او هغهٔ کرکجن څارنوال او بيا بېرته دَ پوهاند پينګلاس مړينه او بيا هغهٔ پَرتَمين ساز چي دَ هغهٔ له زېر او بم سره پر تا شلاخي لګېدلي. دا ټولي پېښي زما په مغزو کښي پله پسي غونېدلي. خو زما ماغزهٔ پر هغي مچې تر هر څه زيات راګرځېدل چي تا دَ پردې تر شا له ما څخه واخيستله او زما او ستا هغه وروستی ليدنه. دا پيښه بيا بيا رايادېدېله. ما دَ خپل خدای ستاينه پر ځای کړه چي له دومره کړاونو پس يې ته او زهٔ وبله يو ځای کړو. ما خپلي بوډۍ نوکرې ته وَويل چي پر تا ښه پام وکوي او چي څومره ژر کېدلای شي نو دي تا تر ما پوري راوَرسوي. هغې زما دغه غوښتنه په ايمانداری پر ځای کړه. اوس ستا موندلو ، ستا دکيسي اورېدلو او دَ خپلي هغي درته بيانولو زه دومره زياته خوشاله کړې يم چي څه به درته وايم. خو ته به بښخي وږی يې او زه هم بې توانه او بېسېکه شوې يم نو راځه چي ډوډۍ وخورو. له هغه وروسته چي دوی پر مېز روټۍ وَ خوړله نو هلته په يې ښايستې سوَېې ارام وَ غزېدل. دغه وخت ډان اساکر، د دې مانۍ څښتن، راورسېدلو. نن دَ اوديني ورځ وه او دَ ده وار ؤ نو ځکه خو دَ خپلي برخي څخه دَ خوند اخيستلو او خپلي اينجلي ته زړهٔ ورښکاره کولو لپاره راغلی ؤ.

اتم ځپرکی

# کونګند، کېندید، لوی څارنوال او دَ یهودي کیسه

دَ «بابل د غلامی» له زماني راپه هیسته په واړه ایسرایل کي دَ ډان اساکر غوندي توندخویه یهودي بل موري نهٔ ؤ راوړی. هغه چي کله له دوی سره ولیدل نؤ یي بغ وهل، « اې د ګلېلي مرداري سپی، هغه لوی څارنوال دي نه دی بس چي به اوس دغه لغړ بدماش ته برخه ښندي؟»

دغه یي وَ ویل او یوه اوږده چاړه، چي تل به یي له ځانه سره ساتله، راکش کړه او پر کېندید وررهي شؤ. هغهٔ ګومان هم نهٔ کولؤ چي کېندید به هم درسته لري. هغي مهرباني بوډۍ کېندید ته یو جامي نهٔ، بلکي یوه ښایسته توره یي هم ورکړې وه. هغهٔ که څه هم دَ یوه نرم خوی خاون ؤ بیا یي هم توره راکش کړه او ایسرایلی یي دَ کونګندې په پښؤ کښي مړ راغوځار کؤ.

« وَ پاکي مریمي! اوس به څه کیږي. زما په کور کښي سړی وَ وژل شؤ. که پولیس راغلل نو موږ خو ګار یو.» کونګندې په چیغؤ چیغؤ ویل.

«که پینګلاس اوستاد ژوندی وای نؤ هرومرو به یي موږ ته لارښؤوَنه کړې وه. اوس چي هغهٔ نشته نو راځه چي خپلي زړې بوډۍ تپوس وکو.» ، کېندید ځواب ورکړؤ. کونګنده ډېره اهتیاتي وه او لا یي خپل خیال نهٔ ؤ وربښکاره کړی چي یوه غلي بغلي دروازړه پرانیستل شوه. تر نیمي شپې یوه ګنټه تېره وه او دَ ایتوار ورځ کېدونکي وه او نن د لوی څارنوال وار ؤ. هغه چي ؤ چي هغه رادننه شؤ او هغه سړی یي توره په لاس ولیدلؤ چي دهٔ په شلاخؤ وهلی ؤ، او پر فرش بیا بل سړی مړ ورته پرؤت ؤ. د کونګندې سَدبَد الوتي ول او بوډۍ بیا لارښؤنه ورته کوله.

کېندید په یوې ګړۍ کښي داسي وَ سنجوله، «که چیري دا بزرګ ناري کړې او خلګ راخبر کړل نو ما خو خامخا په اور وَ سوزوي او سوزوي خو کېډلای شي چي کونګنده هم راسره وسوَزوي. برسېره پر دي هم خو زما سیال او رکیب هم دی. هسي هم په وژني اخته یم ـــــ ، نؤر دَ پس و پېښ وخت نشته.» دَ هغهٔ چورت ډېر کره او ښخي چټک ؤ. څارنوال لا هېښ پاته ؤ چي کېندید یي کار تمام کؤ او هغهٔ هم له یهودي سره پر څنګ یوځای مړ ولوېدلؤ.
« دا دي یي لا بله.» کونګندې په زؤټه کړیکه کړه.

« موږ اوس کافران شوو. پر موږ باندي به نؤر هیڅ رهم او ترس نهٔ کیږي. زموږ دَ ژوند وروستی ګړۍ دي. تهٔ خو ډېر خاستبل (خاکسار) وې، دا تا څرنګه په دوؤ شېبؤ کښي یو یهودي او بل بزرګ وَ وژل؟ دا ته کوم چورت وړی وې؟»
کېندید ورغبرګه کړه، « یو خاربا‌ز مین نهٔ پوهیږي چي څه کوي. او په تېره بیا هلته چي د څارنوالانؤ شلاخي لا هم خوړلي وي.»
دلته زړې بوډۍ دوی ته داسي سلا ورکړه، « په استبل کښي دري خورا پیاوړي اسان زین شوي ولاړ دي چي ولونه (جیلوونه) یي هم تیار دي. مېرمني که ته څه غمي او ملغلرې لرې راوایي خله او بؤیه چي موږ په تلوار د کادیز په خوار سپارهٔ شو. که څه هم زما لپاره په یوهٔ کوناټي پر زین باندي اندوَل ساتل به ګران وي خو خیر موسم ډېر خوندوَر دی او دَ شپي په سړزګي (یخني) کښي به دَ خوند سفر وکړو.»

کېندید سملاسي اسان زین کړل او له دې سره سم بیا درې واړ رهي شول. هغوی بې ټېکېدلۀ پرلّپسې رهي ول او دېرش میله لرې ولاړل. دَ دوی له خوندي وتلۀ پس پولیس هغې مانۍ ته راورسېدل. دَ کارډینل جنازه یې یوې ګرجې ته یوړه او دَ ډان اساکر لاش یې پر یوۀ ډېران وَ غورځولۀ.

په دې ترخ کښې کېندید، کونګنده او بوډۍ درې واړه دَ مورېنیا په غرونۀ کښې دَ لوسینا بازارګي ته وَ رسېدل او هلته په یوۀ سرای کښې دېره شول. او بیا یې داسي منجلسونه پله پیل کړل ....

# په کادیز کښې پر کېندید، کونګندې او بوډۍ دَ ناورینونو راتګ

څرنګه کېندید، کونګنده او بوډۍ په ډېر ویرژن هالت کښي کادیز ته وَ رسېدل او څرنګه بیا نوې نړۍ (امریکې) ته په بېړۍ ...... کښي بیا پسې روان شول.........

کونګندې په ژړَغونو بغارې وَ ویل، « اخ، زما غمې او مرغلرې چا غلا کړې!! موږ به اوس به اوس ګوزاره په څه کوو؟ اخېر څه به کوو؟ نور یهودیان او څارنوالان به چېرته پیدا کوو چي یو څه پرېکړه روڅخه وکوم.»
بوډۍ وَ ویل، زما خو کلک شک دی پر هغۀ بزرګ درېش چي هغه بله ورځ له موږ سره په یوۀ سرای کښي تم ؤ. زه نۀ غواړم په چټکۍ کومه پرېکړه وکوم، مګر زما ښه یاد دي هغۀ دوۀ واره زموږ خوني ته راغلی ؤ او زموږ له تګه ښه مخکې له سرایه رهي شؤ.»
کېندید وَویل، « زموږ بهترین پېنګلاس به زیاتره دا زباتول چي دونیایي ښیان زموږ دَ واړؤ اینسانانؤ پله ګډ دي او دا هر سړی برابره برخه پکښي لري. که دا په زبات رسېدلي ده نؤ بیا خو پکار وه چي درویش فرایر زموږ دَ سفرخرڅ لپاره څۀ پرې یښي وای. ګراني کونګندې له تا څخه نؤر هیڅ هم نشته.؟»
«یوه پیسه هم نشته.» کونګندې ځواب ورکؤ.
«موږ به خامخا یو اس خرڅوو. زه به دَ خپلي مېرمني ترشا سپره شم. که څه هم زما لپاره په یوۀ کوناتي پر ځای تینګېدل څه ګران دي، خو بیا هم کادیز ته به یورنګه ورسېږو.»، بوډۍ وَویل.
په دغه سرای کښي دَ بینډک د بخښونکې ډلي (شفاعتي فرقې) یو ملا هم ؤ. هغۀ اس ډېر وړیا ځیني واخیستلؤ. کېندید او دَ هغې دوې ملګرې اخېر کادیز ته دَ لوسینا ، چیلاس او لبریجا په لاره ورسېدل. په کادیز کښي دغه وخت لګیا وه تیاري کېدله. په یوې سمندري بېړۍ کښي تؤښه او خوري برابرېدل. یو کوچنی لښکر هم پله راټوّل شوی ؤ. دَ هغۀ لښکر مؤخه دا وه چي دَ پیراګوای دَ یسویانؤ ماغزه پر ځای کي، چا چي دَ سپېن او پورتګال دَ باچهانؤ په چپه یوه پرګنه راپارولي وه.

کېندید د دې وړوکي لښکر دَ بؤلندوی ترمخ هغه پوځي کمالات ښکاره کړل چي د بلغاریانؤ د چؤپؤ په مهال یې زده کړي ول. بؤلندوی د کېندید له برمه، چوستی، مېړاني او کړؤوړؤ څخه ژور اغېز واخیستلؤ او هغه یې د سپرؤ (رسالې) بؤلندوی جوړ کړؤ. اوس مېړه، کونګنده، بوډۍ او دوه نوکران د پورتګال د لوی څارنوال له اسانو سره په بېړۍ کښي رهي شول.
دَ مزلۀ په ترځ کښي به دوی هروخت د اوستاد پېنګلاس پر فلسفي خبرېا اترې کولې.
کېندید وویل، موږ اوس بلې نوې نړۍ ته روان یو. زه هیله کوم همدغه به بهترینه نړۍ وي. ولي چي زموږ په دا اوسنی نړۍ کښي خو داسي ویرجني کیسي پېښیږي چي سړی یې په بدني او اخلاکي توګه نه شي خوښولای. زه خو دا وایم.
کونګندې وویل، « زما له نړۍ سره په پوره تؤګه مینه کوم. خو بیا هم، چي څه ما لیدلي دي د هغؤ ګومان مي اوس هم ولړزوي.»
« ګردې به سمې شي. دلته سمندر هم لا زموږ تر نړۍ بهتر دی چي خاموش دی ځکه چي بادونه او شمالونه یې په لاره سم دي. ښېشکه دغه نوې نړۍ هغه غوره نړۍ ده چي شونې ده. »
کېندید ځواب ورکړؤ.

کونګندي وویل، «خدای دي وکوي چي دغسي وي، خو زما ورځ اوس دومره بده شوې ده چي زه اوس ښځي ناهیلي شوې یم.»
بوډۍ مخ ورواړولو او ورته ویې ویل، «تاسي خوشي ګډ یئ. زما غوندي ناورینونه او کړاوونه تاسي کله هم نهٔ دي ګاللي. تاسي زما ګای ومنئ.!»
کونګندې دَ بوډۍ پر دې ګای په ګړس وخندل چي ګوا تردې هم زیات غمونه چا لیدلي دي.»
کونګندې سر په زوره وَښنډلو او ویې ویل، « زما ګراني اناګو! ترڅو چي له تاسره دوهٔ بلغاریان مخ تؤر نهٔ کي، په نس کښې چړې وَ نهٔ خورې، دوې ستري مانۍ دي تباه نهٔ شي، ترڅؤ چي ستا دوه پلرونه، دوې مندې ستا تر مخ هلالي نه شي، تر څؤ چي ستا دوهٔ میَنان ستا تر مخ د کفارې په لندارتون کښې په شلاخؤ وَ نهٔ وهل شي، زه دا څرنګه وَ منم چي ته په غمونؤ کښې زما ساری کېدای شې؟ په تېره بیا په دې چي زه د هغه نواب لور یم چي دَ ویاړ او برم دوه اویا نښاني یې په توره ډال لرلې. او زه بیا هم یوه پختنۍ (اشپزه) او خزمتګاره اوسېدلې یم. »
بوډۍ بیا داسي ځواب ورکړؤ، « مېرمنې ته زما په پرتمیني کؤرنۍ هیڅ نهٔ یې اګاه. او که چیري ما خپله شا دربښکاره کړه نو بیا به دا ګایونه پربېږدې او خپله پرېښکړه به هم وَ ځنډوې.»
دَ بوډۍ پر دې وینا دَ کونګندې او کېندید تلوسه خورا راوَ بورنېدله. بیا بوډۍ هم خپله کیسه داسي ورته پیل کړه...

# کیسه د بوډۍ

« نه خو همشه زما دا سترګې داسي تکې سرې او لَچنې اوسېدلي دي او نه لکه دا اوس زما زنه او پزه تل ترتله سره بلوسېلې. زه د یورپ اوربون لسم او د پلیسټرینا د شهزادګۍ لور یم. دَ ځوالس کلنۍ پوري زه په یوه داسي شاهي ماڼۍ کښي وَروْزل شوم چي دَ هغې استبل هم ستاسي د جرمني د نوابانۆ تر کوْرونۆاو پلازونۆ زیات پرتمین او ښایسته و. زما هرې یوې جوْړې کالیۆ دَ وېسټ فالیا دَ واړه شان او دبدبې ځخه زیات نرخ لرلۆ. زما د ښایست درناوي او هونرونۆ ورځ په ورځ وده کوله، او هر ډول ښې او ښادۍ راڅخه چاپېره وۍ. زه د ډېرۆ زړونۆ هیله او هوَس وم. او هرچېرته چي به زه تلم نو هلته به زما درَب ۆ او خورا هرکلی به مي کېدلۆ. په دې ترڅ کښې مي سینۆ ښه وده کړې وه او ښې برابرې راپورته شوې وې. نو ته وا دا به ځرنګه ګلالۍ سینه وه. زه د یونان د راڼۍ غوندي تراشل شوې او رنګ لکه سپین ګلاب وم. او زما سترګې... نادره باڼوګان او تکې توْرې وروځې چي رایادې کم نۆ دَ هغې سیمې دَ شایرانۆ دا ګای رایاد شي چي ویل به یې، « ستا دَ دوۆ کسیۆ ځلا دَ ستوْرۆ تر ځلا هم زیاته ده.» کومۆ ښځینه خیزمتګارۆچي به ما ته جامې رابدلولې او زه به یې له مخ او شا لوري وَلیدلم نۆ بې سَده به شوې. داسي ډېر نارینه ول چي ارمان به کولۆ چي کاش دوی د هغۆ ښځۆ پر ځای وای. زما کوزده د مساکرارا دَ واکمن شاهزده سره وشوه. هغه شاهزاده هم په ښایست زما ساری ۆ. دَ نادره درنښت او ښکلا ځښتن ۆ او له هوښیارۍ ډک ۆ او په مینې سرشاره ۆ. ما ورسره بې کچه مینه کوله، بلکې دومره مینه مي ورسره کوله چي دَ لمانځنې تر بریده رسېدلې وه. دا یوه داسي مینه وه چي په ژوند کښي بیا نه کېدلای. زموږ واده په ډېر درب دروب وَشۆ. یو پرلَپسې روان بهیر ۆ دَ خوښیۆ، ښادیۆ، مېلمستیاۆ، اتڼونۆ او لندارۆ. له ګردې اټالیې ما ته د موبارکۍ لیکل شوې سندرې رااستول کېدلې، خو زما یوه پکښې خوښه نه وه. زه دَ خوشالۍ پر توږو ځوکو وم چي یوه ورځ د شهزاده یوې زړې یارې، چي نوابزادۍ وه، دی مېمله کۆ چي چاکلېټ سره وچیښي. دوې ګېنټې پسته شاهزاده په ډېر پېچ وتاب کښي مړ شۆ. خیر، دا خو لا اسانه وه، مخکښې یې واورۍ. زما مؤر ته دَ شاهزاده دَ مرګ دومره تکان وروَرسېدلۆ لکه ځومره چي ما ته رسېدلی ۆ. هغه دومره پرېشانه شوه چي اخېر یې دا پرېکړه وکوله چي دغه سپېره ځای بېخي پرېږدي او له لېري دَ ګایټا له سیمې سره نیژدې خپل ښایسته چاګیر ته ولاړه شي. موږ په یوې زرین رنګې بېړۍ کښي سپاره شوو او بیا پسې رهي شوو. په لاره کښې یوه مراکشي شوکمار پر موږ چپاو وکولۆ. زموږ ملاتړ سپاهیانۆ، لکه دَ پۆپ ساتندۆیانۆ، خپل ځانونه ژغورل، پر ګوْنډۆ شوکمارانۆ ته پرېوتل، بخښنې یې وَ غوښتلې او سملاسي یې خپله درسته پر مځکه وَغورځوله. غلۆ هم دوی لڅ لغړ کړل او هم یې زه ، زما مؤر، زموږ خیزمتګارې او نوْرې ښځې بربنډې کړې. زه دَ غلۆ چوستۍ او تلوار ته هکه هیرانه وم چي ځومره چابک او سملاسي دا کار وَکولای شۆ. خو ترهرڅه بیا دې ته هکه پکه وم چي دوی خدای وَهلۆ دَ ښځۆ په هغۆ پټۆ ځایونۆ کښي ګوتې وهلې چېرته چي ښځې زیاتره هیڅ هم نه پرېږدي. ما ته دغه دۆد بېخي نابلده ښکارېدلۆ. خو هر کله چي موږ له خپلې سیمې او اوبچې ورچنې ولاړو موږ ته هر شی همدغسي ښکارېدلۆ. پسته زه په راز وَ رسېدلم چي غلۆ خپله ترسله کوله چي چرته موږ دغلته غمي او مرغلرې پټې منډلې نه وې. دا خو د ساهو سمندري اولسونۆ او میلتونۆ له وختونۆ راهیسي دود او خوی پاته شوی دی. ما ته دا هم ځرګنده شوه چي هرکله دَ مالټا دَ هزرت جان توریالي او جنګیالي سرداران چي نارینه او ښځینه ترکان وَ نیسي نو چرته یې هم له همدغسي تالاشۍ پرته نه ایله کوي. او ریښتیا خو دا دي چي دا اوس یو نړیوال کانون شوی دی او هیچا تر اوسه پر دې کومه نیوکه او غندنه نه ده

کړي. تاسي ته دَ هغؤ خواریؤ په باره کښي دَ ویلؤ څه هؤري (چندان) اړتیا نشته ، کومي چي یوې ځواني شهزادګۍ او دَ هغې مور ته دَ مراکش دَ مزله په وخت ورپیښي شوې. تاسي پخپله په ډېره اسانۍ اټکل لګولای شئ. زما مور لا تر اوسه هم یوه ښکلي او ښایسته مېرمنه وه. او زموږ خیزمتګاري څه زموږ مینځي لا دومره ښایسته وې چي په ټؤله افریکه کښي چا دومره ښایست په خؤب هم نه ؤ لیدلی. پاته شوم زه! ما ته خو ښېخي زړونه رنګېدل. دَ ښایست او نازونؤ یوه بېلګه وم. او بله دا چي زه بیا پېغله هم وم. مګر ارمان ارمان ! دَ پېغلتؤب کوم پاک ګل چي دَ مساکرار دَ شهزاده لپاره ساتل شوی ؤ هغه یوه خواګرځني تؤر هبشي وَشوکولؤ. هغه دَ شوکمارؤ دَ بېړۍ میر ؤ. اپوته دَ هغه لا دا ګومان ؤ چي زما یې ډېر درناوی وکولؤ. زه او زما مؤر ډېرې تکړه وو چي دا دومره کړاونه مو تر مراکش پوري وَ سهل. مګر تر ابده نؤ بس! دا ډول نؤرې کیسي دومره ډېرې راپېښي شوې چي زیاته اوږده بیانونه یې نه دي پکار.»
« کله چي موږ مراکش ته وَرسېدلو نؤ په هغه ځای کښي هرچیري سرې وینې بهېدلې. دَ مراکش د شهنشاه، مولایي ایسمایل، پنځؤس زؤیان ول او همدغسي پنځؤس ډلې په یوې خونړۍ کورنۍ جګړې وبله اخته وې. تؤرپؤستي، غنمرنګي او دوه رګه ټؤلې پرګنې په خپل منځ کښي او دَ یوه بل په چپه جنګېدلې. دَ هیواد په اوږده او وساره کښي هرچیري دغه بده ورځ وه.
موږ ایله له بېړۍ پر ښخده شبوه شوي وو چي دَ تؤرانؤ یوې ډلې پر موږ برید وکړؤ ا و دَ کپتان شوکمار ټؤله مال دولت یې ځانته کابو کړؤ. او په هغه مال کي له زرؤ او غمیؤ پس بیا موږ ډېرې ارزښتناکې وو. دلته ما یو داسي جنګ ولیدلؤ چي په یخؤ او سړؤ یورپي هیوادونؤ کښي یې موږ ساری نه شو لیدلای. د شمالي نسلونؤ وینه دومره تَوده نه ده څومره دَ لېونتؤب تر بریده چي دَ افریکي خلګ پر ښځؤ مستي کوي. داسي ښکاري لکه چي دَ یؤرپیانؤ په رګونؤ کښي به دَ وینې پر ځای شیدې بهېدلې او افریکي کښي دَ اتلس دَ غره شاوخوا خلګؤ په رګونؤ کښي به اؤر او تېزاب بهېدل. دوی زموږ پر سر لکه دَ خپل هیواد دَ زمریانؤ، پړانګانؤ او مارانؤ غوندي ځله وَجنګېدل (چي موږ به دَ کوم چا په برخه یو) یوه مراکشي زما ادې تر ښي مړوند وَنیوله او زما دَ کپتان مرستیال یې بیا کیڼ لاس ټینګ کړی ؤ. یوه بل مراکشي سپاهي یې پښه څیکوله او یو بل یو شوکمار یې بیا په هغه بله پښه پوري نښتی ؤ. زموږ ټؤلې ښځې په دغه چل سرتېرؤ پر یوه بله خوا کشولې. زما کپتان بیا زه تر خپلې شا پټه کړې وم او کوم څؤک چي به ده ته مخامخ کېدلؤ نؤ هغه به یې په توره غوَټ پرېکولؤ. اخېر ما وَلیدل چي زموږ ټؤلې اتالوۍ ښځې بند پر بند ځله پرې او پر تورؤ وهل شوې او دَ هغؤ بلاګانؤ له لاسه، کوم چي دَ دوی پر سر ځله جنګېدل، وژل شوې دي. سوبمن او مات شوي دواړه او ورسره تؤر سپین او دوه رګه سپاهیان او هم زما ملګري ټؤل وَوژل شول. او په پای کښي زما شوکمار کپتان هم وَوژل شؤ. او پخپله زه هم دَ مړیؤ په یوه امبار پر زنکندن کښي پرته وم. دغسي کاني په دغه وړوکي هیوادګي کښي هرځای پېښېدلې؛ دا اوس ما ته ښېخي څرګنده شوې وه. سره له دې چي دوی هره ورځ په پینځؤ لمنځونؤ کښي یو هم نه ناغه کوي ځکه چي دا پیغمبر ورته ویلي دي. زه په ډېر کړاو له هغه امباره، چي وینې ترې بهېدلې، راوَښکېدلم او پرڅلؤرؤ مي دَ نارنګۍ یوې ونې ته، چي دَ خوړ پر غاړه ولاړه وه، ځان ورسیخ کړؤ. دلته له ډېرې وېرې، نامېندۍ او بېسېکۍ پړمخې وَلوېدم او بیا همهلته پسې ویده شوې وم، مګر ریښتیا درته وو‌ایم بې شده شوې وم. زه دَ ناتوانۍ او بې هوشۍ او دَ مرګ او ژوند په منځ کښي دغسي ورکه ویرانه پرته وم چي ما وَهؤشله چي یو شی زما پر ځان باندي ښوریږي . بیا مي ورؤ سترګي وغړېدلې چي یو ښه رنګی سړی مي ولیدلؤ. هغه ارمانون او اسوېلي او اهونه یې ایستل.»

یوؤلسم خپرکی

# دَ بوډۍ دَ بدبختۍ کیسه روانه ده

« دَ خپل هیواد ژبې په اورېدلو زه هم هیرانه شوم او هم خوشاله ، خو سړي چې څه ویل په هغو زه لانؤره هم هکه پکه شوم. ما هغه ته ورغبرګه کړه، چې ته دَ کومو ناورینونو او رېرونو ګیلې او مانې کوې، تر دې لا لوی کړاونه هم شته. او ما کوتاه کوتاه خپل غمونه ورته بیان کړل او یو ځل بیا پسې بې سده شوم. بیا هغه زه یوه جوَت کور ته یؤوړم او هلته یې پر بستره واړولم، او د خوراک لپاره یې یوځه راوړل. هغه زما خیزمت کولؤ، ترسله به یې راکوله او پاستېیَلم به یې. هغه راته وَویل چې په ګرده ژوند کښې داسې ښکلي ښځه نه وه لیدلې. او بل دا چې هغه اوس په خپل کړاوونه ډېر زیات نه ماسوسوي. بیا هغه راته وَویل، « زه په نېپلز کښې زېږېدلی یم. هلته دا رواج دی چې په کال کښې دوه درې زره هلکان خسیانوي. په هغو کښې ځینه له دې چارې مړه شي، دَ ځینو بیا اواز تر ښځؤ هم نازک او ښایسته شي. ځینه بیا په سیاست کښې دومره هسک ولاړ شي چې وزیران او سؤبه دارن شي. زما خسیتؤب هم په بریا ترسره شؤ نؤ دَ فلسترین دَ شهزادۍ سازنده وَتاکل شوم.
« زما دَ مؤر» ما په هیرانۍ ورته وَویل.
«ستا دَ مؤر؟» هغه چیغه کړه. او بیا یې سترګې له اوښکؤ ډکې شوې. « ښه، نؤ ته هغه وړوکې شهزادګۍ یې چې تر شپږؤ کلؤ پوري ما زدکړه ورکوله. هغه وخت لا څرګنده وه چې ته به ډېره ښایسته یې. همدا راز لکه اوس چې دې وینم.»
« ته ښېخ سم ویایې. له دې ځایه څلؤر سوه ګزه هؤرته زما مؤر ځله څلؤر خاشې دَ مړیؤ تر امبار لاندې ده.» ما ورته په ځواب کښې وَویل. بیا مې یوه په یوه خپلې پېښې ګردې ورته بیان کړې. هغه بیا خپل نکل داسې راته وکړؤ، چې دی یوه مسېهي شهزاده په دې مؤخه د مراکش باچا دربار ته لېږلی ؤچې له هغه سره دَ جنګي بېړیؤ، تؤپونؤ او باروتؤ یو تړون وکي چې دی به د غؤ وسلؤ په مرسته دَ خپل مسېهي ګاونډي ځواکونؤ سوداګري ور تباه کي.
« ما دَ خپل ایلچیتؤب دنده ترسره کړې د، هغه ایماندره خسي راته وَویل، « او زه به اوس له سیوتا سملاسي رهي کیږم، تا به هم له ځان سره بېرته اټالیې ته بؤځم.»
« دَ هغه لوربېَنې پر ما دومره ژوَره اغېزه وکوله چې غرېب وَنیولم. ما پر لندؤ سترګؤ هغه ته مننه وَویله.
مګر دَ اټالیې پر ځای هغه زه الجزایر ته بؤتلم او بیا یې هلته دَ هغه ځای پر سؤبه دار وَپلؤرلم. لږ وخت لا نه ؤ تېر شوی چې دَ تاوون هغه وبا چې افریکه ، اسیا او یؤرپ یې په مخه راخیستي ول اوس په الجزایز کښې لا په نؤر زؤر او شؤر خوره شوه. مېرمنې، ته خو زلزله لیدلې ده. مګر دَ تاوون وبا به چیرې هم نه وي لیدلې؟»
« نه، کله هم نه.» کونګندې ځواب ورکړؤ.
بوډۍ ورته وَویل، « که چیرې تا لیدلې وای نؤ په دې به سځه شوې وې چې تر زلزلې هغه ډېره بده ده. دا په افریکې کښې خورا زیاته وه او ما ته هم راوَپوري شوه. اوس نؤ ته زما بده ورځ پخپله وَبامه! دَ پینځلسؤ کلونؤ دَ یوّ پؤپ لور چې په درې میاشتې کښې دننه دننه یې خواري او غلامي دواړه ولیدلې، کابو هره ورځ یې ابرو اخیستل کیږي. خپله مور تر خپلؤ سترګؤ لاندې ځله خاشې کېدل وینې. دَ جنګ او لوږې بربادۍ یې سهلې وې او اوس په الجزایر کښې په تاوون اخته دَ مرګ لاره ګوري. خیر، زه بیا هم مړه نه شوم. خو هغه خسي او دَ الجزایر سؤبه دار سره له خپل ټؤل هرم مړه شول.

هرکله چي د دي وبا هغه لومړی زوړ سوړ شؤ نؤ دَ سوبه دار واړه غلامان لیلام کړل شول. زه هم یوه سوداګر واخیستلم او تیونس ته یې بؤتلم او بیا یې هلته پر بل سوداګر خرڅه کړم. هغه ټریپولي ته بؤتلم او یو ځل یې بیا خرڅه کړم. له ټریپولي څخه سکندریه ته او ه هغه ځایه څخه سمرنا او بیا کوستنتنیه ته وَرسېدم. هر ځای له یوه لاسه بل شوم او په پای کښې د سولتان دَ ساتندؤیانؤ دَ یوه بؤلندوی په یوه هرم کې ورګډه شوم. خو هغه بؤلندوی ته سملاسي دَ سولتان لخوا وَویل شول چي دَ روسیاننؤ په چپه دَ ازاف ساتنې ته ځان وَرسوي. دا بؤلندوی ښه ساهو سړی ؤ. خپل ټؤل هرم یې هم له ځانه سره بار کؤ، او دَ ازاف سمندر پر غاړه یې په یوه کوچنۍ کلا کښې کلابند کړؤ. هلته دوه توران خواجه سراګان (خسیان) او شل سپاهیان زموږ دَ ژغؤرنې لپاره وَګومارل شول. ګڼ شمېر روسیان وَوژل شول ، خو هغؤ هم وس وَکولؤ او بده ورځ یې جؤړه کړه. ازاف ښار یې وَ سوزولؤ او ټؤل ښاریان نر او ښځې یې وَوژل. مګر زموږ کوچنؤټې کلا لاتراؤسه ټینګه وه. دوښمن پر موږ ګېره واچوله، لاربندي یې وَکوله چي موږ پر لوږه مړه کي. زموږ ساتونکیؤ لؤړه کړې وه چي درسته به نه اچوي. خو لوږې تر دې ځایه راوَرسول چي هغه دوه خواجه سراګان یې وَخوړل مګر بیا یې هم لؤړه ماته نه کړه. یو څؤ ورځې پسته هغؤ پرېنې وَکولؤچي اوس به ښځې خوري. زموږ په کلا کښې یو مسلمان ایمام هم ؤ چي ډېر پرهېزګار او مهربان سړی ؤ. هغه سپاهیانؤ ته داسي خوږکی وینا وکوله، « ځوانانؤ، دا ښځې یو دم مه وژنی. بلکي دَ هرې ښځې یو کوناټې پرې کی. دا به ستاسي لپاره ښه خوَندوَر خوراک شي. که بیا تاسي ته اړتیا پېښه شوه نؤ دَ څؤ ورځؤ لپاره دغومره تؤښه به بیا لاس ته راوړئ. خدای به ستاسي له دغه زړه سوي څخه خوَشال شي او ستاسي کلابندي به پای ته وَرسوي.»
دَ ایمام ښې وینا اغېزه وکوله او لښکریانؤ بیا دغه وېرونکې چاره ترسره کړه او له ښځؤ څخه یې یویو کوناټې پرې کؤ. بیا هغه ایمام زموږ پر کوناټؤ ملهم پټی او پوندکی وَلګولي لکه له ختنې کولؤ وروسته چي یې وړؤ هلکانؤ ته کوي. ډېر درد موږ د مرګ تر غاړې پوري رسولي وو.
تورکان زموږ دَ غوښؤ له خوراکه ایله رهېدلي ول چي روسیان راوَرسېدل. یو تورک هم ژوندی پاته نه شؤ. روسیانؤ زموږ په بده ورځ کښې هیڅ چورت هم نه وهلؤ. خو یوه فرانسي درمانګر زموږ ډېره ښه درملنه او خیزمت وَکؤ. دا فرانسیان په هر هیواد کښې لیدل کیږي. فرانسي درمانګر زما ښه وزله کوله. هغه موږ ته دا هم ترسله راکوله چي داسي پېښې په زیاترؤ کلابندیؤ کښې شوې دي او دا دَ جنګي کانون سره ښځې سمون خوري.
هر کله چي موږ څه دَ ټیرېدلؤ شوو نؤ ماسکؤ ته وَ لېږل شوو. هلته په لیلام کښې زه دَ یوه روسي امیر په برخه شوم. هغه زه دَ ځان باغوانه کړم ، مګر هره ورځ به یې شل شلاخې هم وهلم. دوه کاله پس دغه امیر سره له دېرشؤ نؤرؤ سردارانؤ ملګرؤ په کاټ کښې مات کړ شؤ چي په دربار کښې یې څه پټه چلوَټه کړې وه. ما هم وار پیدا کؤ او له هغه ځایه وَتېښتدلم. دَ روسیې ډېرې پراخې او اوږدې سیمې او اوېچې مې وَکچلې. ډېره موده په ریګا کښې په یوه سرای کښې نؤکره پاته شوم. له دغه ځایه روستاک، بیا وسمار، بیا لیبزیګ، کسل، یوترخت، لیډن، هېګ او بیا رؤټرډم ته ولاړم. دغه ده زه په دې کړاوونؤ، ربړونؤ، شرم او یوه کوناټې را زړه شوم، خو دا یو ګای مې هیڅکله نه هېریږي چي زه دَ یوه پؤپ لور یم. سل ځله خو به ما په ځان وژلؤ چورت وهلی وي، خو دغه دی بیا هم له ژوند سره مینه لرم. دغه نادره کمزؤري ګومان کوم زموږ دَ جندون (فطرت) یو ډېر خوؤجن اړخ دی. تر دې بله زیاته ناپؤهي شته چي هغه پېټی په ډېر خوند په شا ګرځوو چي زړه یې هر وخت غواړي وَ یې غورځوي. له خپله مېَنه ځانه کرکه کول او بیا هم ټینګ ورپوري نښتل دَ هغه مار پر سر لاس ټېرول دي چي لګیا دی موږ خوري او اخېر کار زموږ زړه پسې وَخوري؟؟»
« کومو هیوادونؤ کښې چي درپدره ګرځېدلي یم او دَ جهان په سرایونؤ کښې چي ما چؤپړ وهلی دی، ما ډېر خلک لیدلي دي چي له خپله ژونده یې کرکه کیږي. خو یوازي دوؤلس کسان

مي داسي هم وَليدل چي په خپله خوښه يې ځانونه وَوژل او له کړاوه ازاد شول. په هغۇ کښې درې تۇران (هبشيان)، څلوٌر انګرېزان، څلوٌر سويسان او يو جرمنی پرۇفيسر روبېک ۇ. په پای کښې زه دَ دوٌان اساکر يهودي مينځه شوم او هغه زه ستا په چۇپړ وَلګولم. ګرانې مېرمنې! اوس مي سپړ (قسمت) له تا سره تړلی دی. او تر ځان زه ستا په غم ډېره اخته يم. که تا چيري دَ خپلۇ ربړونۇ او کړاونۇ ډېرې ګيلې نه کولای نۇ ما به دا خپلې بدبختی نه وې درته بيان کړې. ګرانې مېرمنې، تا وَليدل چي زه يوه تجربه کاره ښځه يم. په نړۍ پوٌه يم. کوٌشش وکوه چي هر مسافر خپله خپله کيسه بيان کي. او که تا يو هم داسي کس پيدا کۇ چي هغه زياتره په خپل ژوند لخ او لانت نه دی ويلی او ځای يې بدترين بدبخت نه دی ګڼلی، نۇ بيا ما په سمندر کښې سرِدَلاندي تسه که.»

دوؤلسم ځپرکی

## د کېندید له ښکلي کونګند او بوډۍ ښځه له مجبورۍ بېلتون

ښکلي کونګندي چي دَ بوډۍ کیسه واورېده نۆ بیا دپاره يي دَ هغې دَ مرتبې او کړدي وړ سلوک ورسره پیل کۆ او په درنه سرترګه يي ورته کتل. هغې دَ بوډۍ دا وړاندیز هم وَمنلۆ چي دَ له ټۆلۆ مسافرۆ ښځه دَ دوی دَ ژوندن تېرې شوې پېښې واوري. کېندید او کونګند پر دغه هم سځ شول چي بوډۍ چي هر څه ویل سم يي ویل.

کېندید په ډېر ارمان وَویل، « ارمان دی چي دَ کفار دَ لنداريِ دَ منل شوي رواج اپوټه يي زموږ هوښیار پېنګلاس راوَځوولۆ، کنه وای اوس خو به دۀ موږ ته پر هغۆ مادي او اخلاکي بدیۆ چي پر وچه او لنده خوروري دي، یوه ناده وینا او ورسه کړې وه. خو په ډېر ادب به ما دَ دۀ پر وینا یو څۆ نیوکې او ګوتنیویه هم کړي ول.»

مسافران پخپلۆ کښې ځله اخته ول او پر چي هرڅه تېر شوي ول هغه يي ځله اورول او بېرۍ مخ پروړاندي تېزه رهي وه. پای دوی بونس ایرس ته وَرسېدل. کپتان ، کېندید، کونګنده او بوډۍ پر مځکه کښته شول او دَ هغه ځای واکمن، ډان فرینډوډي اباراېي فګیورا مسکارینبس لمپور دي سؤزا، دَ لیدلۆ لپاره رهي شول. دا دَ دغې سیمي یو ساهو (Noble) کس ۆ او دَ خپل ډېر اوږده نامه سره په غټي او لۆيي کښې هم برابر ۆ. خلګۆ سره به دَ باداریِ په ژبه ویېدۆ او یزه به يي په پاس په هوا کښې چوڼلي نیولي وه. ږغېدا به دومره لواړه او بېباکه وه او سر به يي هم دومره پرسېدلی ۆ چي هر څۆک به ساماني او سلامي له ورتلل دَ هغۆ به دننه په زړه کښې دا غوښتل چي پردا سر يي په سوک وَوهي.

دا واکمن پر ښځۆ بېخي ناوړه لهېدلی ۆ. کۆنګنده ده ته تر هغۆ واړۀ ښځۆ ، چي دۀ لیدلي وې، ښایسته ښکاره شوه. نۆ ځکه خو يي تر هر څه لمخه دا تپۆس وَکۆ، چي ایا دا دَ کپتان زګه (ماینه) ده؟

په کوم ډوَل چي دا پوښتنه وَشوه کېندید وَ وېرېدۆ. هغۀ دا زړۀ نۀ شۆ کولای چي وَوېایي چي هغه دَ دۀ ماینه ده. ځکه چي په ریښتیا هم هغه خو لا تر اوسه دَ دۀ ماینه نۀ وه. مګر هغۀ دا هم نۀ شۆ ویلای چي هغه يي خوَر ده. دا هم بېخي غلته وه. پر داسي اکر کښې پخوانیۆ خلکۆ دروغ ویل روا کړي ول او کېدای شول چي دَ اوسنیۆ لپاره هم ګټوَر ګرځېدلی وای، خو کېندید دومره پاک اروا او سپېځلی ۆ چي دَ ریښتیا اپوټه يي هیڅ هم نۀ شۆ ویلای.

هغۀ داسي ورغبرګه کړه، « دَ مېرمن کونګندې دغه پرین دی چي ما په ودغلي (وادۀ) وَلمانځي او موږ ډېر په لېزمه (عاجزی) دا غوښتنه کوو چي تاسي به پېرزۆینه کوئ او زموږ په ودۆزن کښې به ګډون کوئ.»

ډان فرېنډ یۆ څه داسي تروټلی غوندي وَمسېدلۆ ، برېتونه يي تاو کړل او کپتان کېندید ته يي وَویل چي خپل لښکر تر کټنې لاندي وَنیسئ!. کېندید يي وینا وَمنله او رهي شۆ واکمن له کونګندې سر یوازي پاته شۆ. واکمن له کونګندې سره ډېره مینه ښکاره کړه او لۆړه يي وَکوله چي سبا سبا له دې وادۀ کولۆ ته تیار دی. « که دَ ګرجي له لمانځنۆ سره وي او که بې له لمانځلنۆ وي ، دا خوښې او ښادي به بس همستا لپاره وي.» کونګندې یو څه وخت وَغوښتلۆ

چي پر دې ګای چورت وَوهي او سلا وکوي. خپلې بوډۍ ته ورغله او تپوس يې ترېنه وکولؤ چي څه کول پکار دي. هغې بوډۍ ،چي ټؤل جهان يې ليدلی اوکتلی ؤ، کونګندې ته داسي وَويل، « ته بېشکه دَ خپلې کورنۍ دوَه اويا دَ وياړ او پرتم نښانې مګر پيسه يوه هم نۀ لرې. که ته دَ سوهېلي امريکې له سترترين خانداني کس سره، چي خوَړکي برېتونه هم لري، وادۀ نۀ کوې نؤ دا شپيانه او ملامته وي. ته هسې دَ وفا په تشؤ لوزونؤ لؤيي او ستريانه کوې. دَ دې څه رېښته (حق) لرې؟ ته دا درپه ياد که چي دوؤ بلغاريانؤ ته شرمولې يې. يوۀ يهودي او يوه څارنوال هم له تا خوندونه او مزې اخيستې دي. دا هم درپه ياد که چي کړاوونه او ربړونه څه ګټې هم لري. که ستا پر ځای زه وای ما خو به سملاسي دَ واکمن سره وادۀ کړی ؤ او دَ کپتان کېډنديد مرَغ (قسمت) به مي جؤر کړي ول. » بوډۍ دَ خپل ژوند او تجربؤ په رڼا کښې کونګندې ته سلا ورکول چي په هغه مهال په بندر کښې يوه بېړۍ راګډه شوه. په هغې بېړۍ کښې يو کازي او ورسره دوۀ څري (خفيه) کؤټوالان ملۀ ول.

بوډۍ سيخ اټکل لګولی ؤ چي ويل يې دَ کونګندې غمي او مرغلرې هغه اوږد لستونړي ملنګ غلا کړي ول چي دَ بداجوز په سرای کښې له دوی سره يوځای تم ؤ، کوم وخت چي دوی دَ کاديز پخوا په تېښته ول. ملنګ هغه وخت ګير شؤ کله چي هغه څه غمي پر يوۀ زرګر خرڅول. دوکاندار غمي وَپېژندل چي دا خو دَ لوی څارنوال دي. دَ تېزندۍکېدلؤ نه وړاندي ملنګ وَمنل چي دغه غمي هغه غلا کړي ول. له چا چي يې غلا کړي ول دَ هغؤ نخښې نښانې يې هم وَښيلې، او دا يې هم وَويل چي هغوی کوم پلّو ولاړل. دَ کېنديد او کونګندې تېښته اوس يوه ښکاره ګای ؤ. تر کاديز پوري دَ هغوی سوراغ مالوم شوی ؤ. او بيا له هغه ځايه په دوی پسې سملاسي بېړۍ رهي شوې وه چي اوس دَ بونس ايرس په بند کښې ولاړه وه. اوازه داسي خپرې وه چي کازي دَ څارنوال په سورلاستيؤ (وژونکيؤ) پسې رارسېدلی دی. هوښياره بوډۍ سملاسي په ګار وَرسېدله چي څه کول پکار دي. کونګندې ته يې وَويل، « اوس ته نه شې خلاسېدلای. مګر بيا هم ته هيڅ وېره مه کوه. تا خوپخپله هغه نه دی وژلی. او بيا واکمن هم په تا پسې لېونی دی تا ته هيڅ بده نۀ پرېږدي. نؤ ته چي چېرې يې هم دالته ښه يې. له دې پسته هغه په منډه په کېنديد پسې ولاړه او ورته وَيې ويل، « هله! چټک راغورزه! که نه وي په يوه ګېنټه کښې دننه به دې په اؤر کښې وَسوزوي.»

وخت خو رېښتيا نشته. خو کېنديد به څرنګه پرېږدي؟ او چي وَتښتي نؤ پنا به چيري پيدا کوي؟ کېنديد اوس په دغه سؤچ کښې ؤ.

# دَ پېراګوايې په جېزوستېانوْ کښې دَ کېنديد او کاکمبو هرکلی

کېنديد ځان سره له کاديز څخه يو نؤکر راوستلي ؤ. دغه ډول نؤکران دَ سپېن په بندرونؤ او نوابادیانؤ کښې زياتره پيدا کيږي. دغه نوکر يو پاو هسپانوی ؤ او دورګه دَ ارجنټاين توکم او ناغ څخه ؤ. دی په ګرجه کښې بدلزن (قاري) بيا ګوُرکن، بيا مانو، بيا دروېش، بيا سيلاني، بيا سوداګر، بيا سرتېری اوسېدلی ؤ. او اوس خيزمتګار ؤ. دَ دهٔ نوم کاکمبو ؤ. او دَ خپل بادار ډېر وفادار ؤ. ځکه چي دغه بادار ډېر ښه سپېځلی سړی ؤ. دَ بوډۍ دَ خبرې دَ اورېدلؤ سره يو دم يي هغه دوه ابفر اسان زين کړل او ويي ويل، « باداره! راځه چي همدا ګړی دَ بوډۍ له مشورې سره سم کار وکو. اوس مو لا مخه خلاسه ده.»

دَ کېنديد اوښکې راتويې شوې او وَ يې ويل، « های زما ګراني کونګندې! ګوُره دغه وخت زه له تا څخه بېلېږم چي والي زموږ په ويدغلي کښې دَ ګډون لوز کړی ؤ. ته به اوس څه شي ګراني؟ او له خپله کوُره او هيواده ما خومره لیرې راوړې.

کاکمبو ورته وَ ويل، « باداره ژر کوه! ښځې کله هم تاواني نه وي. خدای دَ دوی ساتنه کوي. دا به ښېخي په ارام کښې وي.»

«ته ما پر کومه خوا بيايې؟ له کونګندې پرته به موږ څرنګه يو؟ موږ به چېرته ځو؟» کېنديد تپؤس وکولؤ.

« ولې، ته دَ يسويانؤ په چپه جنګېدلؤ دپاره نهٔ وې رارهي شوئ، څه؟ او س راځه چي دَ دوی ملګري شو. ما ته دَ دوی لاره ښه بلده ده. زه به تا دَ دوی باچهي تا وَ رسوم. دوېبه دَ يوهٔ داسي بؤلندوی (کېپتان) تؤد هرکلی وکوي چي دَ بلغاري پوځ روزنه هم لري. او تهٔ به ډېر دولت پيدا کې. کله چي په يوهٔ اړخ کښې تا ته څه په لاس نهٔ درځي، نؤ که په هغهٔ بل اړخ کښې په لاس درشي دا به ډېر ښه وي. نوي تازه ځايونه ليدل او له نويؤ پېښؤ سره مخامخ کېدل همېشه يو خپل خوند لري.» کاکمبؤ په جواب کښې وَ ويل.

« ښه! نؤ تهٔ مخ کښې هم پېراګوايي ته تللی يې.» کېنديد ورته وَ ويل.

کاکمبؤ وَ ويل، « هو خود تللی يم. بلکې زه هلته په ديني پؤهنځي کښې نؤکر هم اؤسېدلی يم. هلته دَ ګيرجې درنؤ پادريان چي په څه ډول واکمني چلوي زه ورسره ډېر ښه بلد يم. بس داسي لکه دَ کاديز له بازارونؤ سره چي بلد يم. دوی ځان ته يوه نادره سمونډ (سيسټم) لري. دَ دوی هيواد چي له يوه سره بيا تر بله پوري درې سوه پرسنګه دی په دېرشؤ سوبؤ کښې وېشل شوی دی. دَ هرڅه څېښتنان همدغه پادريان دي. خلګ ځانځاني هيڅ نهٔ لري. دغه شی زه دَ پؤهي او نياو (انصاف) يو شاهکار بؤلم. ما دَ دغؤ پادريانؤ غوندي پاک اوخدای ته نيزدې خلګ هيچېري نه دي ليدلي. دلته امريکه کښې دوی دَ سپېن او پورتګال دَ باچهانؤ سره په جنګ اخته دي. او په يؤرپ کښې بخښنه ورته کوي. دلته خو دَ سپېن والا وژني خو په مېډريډ کښې دوی په دورهاؤ (دعاګانؤ) جنت ته لېږي. څرنګه؟ دغه تؤګه خوند کوي؟ مګر راځه چي موږ په مخ ځو. ته به اوس دَ دونيا خوشالترين سړی وَګرځې. ښاغلي پادريان به دَ يو داسي بؤلندو په موندلؤ ډېر خوشال شي چي دَ بلغاريا په پوځ کې روزنه شوې وي. دواړه پر اسانؤ سپاره شول او هر کله چي دَ ټک (پولې) لومړۍ چوکۍ ته ورسېدل نؤ کاکمبؤ دَ هغه ځای بدرګچي ته وَ ويل، « يو بؤلندوی ستاسي له ښاغلي ډګروال سره خبره کول غواړي.» يوهٔ سپاهي په تراټ دا خبر ورسولؤ. دَ کېنديد او کاکمبؤ اسان له دوی څخه واخيستل شول او له دوی څخه خپله درسته واخيستل شوه. او بيا يي دوی دَ دوی دَ سپاهيانؤ دَ دوؤ کتارونؤ په منځ کښې رهي کړل او ډګروال، چي دَ دوؤ کتارونؤ په سر کښې ولاړ ؤ، ته يي ورسول. دَ ډګروال پر سر درې کونجه ديني خولۍ وه، دَ چوغې ګروې يي تړلې وې او په لاس کښې يي نيزه وه

او هم يي يوه توره پر ډوډي ځړېدله. هغۀ څه اشاره وکوله نو سملاسي ځلېرويشت سپاهيان پر دوی جاره واره راتاو شول. يوه پاسوال ورته وَويل، « تاسي به هرومرو کوت (انتظار) کوئ ځکه چي ډګروال له تاسي سره هيڅ خبره نۀ شي کولای. ښاغلي سوبايي پادري دا ويلي دي چي هيڅ هسپانوی به په هيواد کښې تر درې ګنټې زيات نۀ اوسي او له دۀ (سوبايي پادري) پرته به نور هيڅا سره هم يو هسپانوی خوله نۀ پرنيزي.»
« ښاغلی سوبايي پادري چېرته دی؟ » کاکمبو تپوس وکولو.
« هغۀ اوس لمونځ وکولو او پوځي چاروُ ته ولاړو. تاسي درې ګنټېنوُرې هم لا دَ هغۀ پښې نۀ شئ مچولای.» پاسوال ورته وَ ويل.
کاکمبو وَ ويل، « مګر دا بوُلندوُی هسپانوی نۀ دی، بلکې جرمنی دی، او دی بېخي له لوږې مري. ايا ترڅو چي موږ دَ ښاغلي پادري کوت کوو په دا منځ کښې موږ ته څۀ دَ خوړلوُ شی پيدا کېدلای شي؟»
پاسوال سيخ ډګروال ته ورغلوُ او دغه خبر يي وکړوُ. ډګروال وَ ويل، « دَ خدای ډېرمننډوی يم، چي له جرمن سره زه ږغېدلای شم. هلئ، هغۀ زما ځای ته راولئ.»
کېنديد يي سملاسي دَ ونوُ په منځ کښې يوه کونج ته بوُتلوُ. دغه ځای دَ شنوُ او زرينوُ مرمر ډبروُ څخه رغېدلوُ تمبوُ کتارونه لرل. په تمبوُ کښې دَ ښايسته مرغانوُ لپاره کپسونه تراش شوي ول. بلبلان، چنچني، دَ جنت مرغی او نوُروُ نادروُ مرغانوُ په چغار کښې خوړې سندرې ويلې. کېنديد ته بهترين خوراک دَ سروُ زروُ په لوُښوُ کښې ورکړ شوُ. دَ پيراګوايي خلګوُ په لمر کښې په لرګينوُ لوُښوُ کښې سوکړک خوړلوُ. او ډګروال دَ خپلې ارامګاه يخ سوُري ته خورا په درب ولاړوُ.
دا ډګروال يو ښکلی ځوان وُ. مخ يي ګردی او بڼه يي تازه وه. وروځې يي لکه ليندۍ او سترګې يي روُښانهوې. دَ غوړوُ څوکې يي سرې وې او شونډې يي تروبخوَني سرې وې. داسي ښکارېدلوُ چي دی خورا تاټ (غرور) لري. مګر دَ هغۀ تاټ نۀ هسپانويانوُ غونډي وُ او نۀ دَ يسوُيانوُ په شان.
کېنديد او کاکمبوُ ته خپل دواړه اسان او خپله درسته ټبرته ورکول شوه. کاکمبوُ دَ اسانوُ توبرې ډکې کړې او اسان يي هيڅکله له پامه نۀ ايستل. خدای زده چي څۀ پېښيږي. کېنديد تر خوړلوُ اګاهو دَ ډګروال دَ چوغې يوه څنډه په ادب کوښل کړه.
هغه يسويي په جرمني ژبه کښې په تپوُسونوُ پيل وَکولوُ. «ښه، نوُ تۀ جرمنی يې؟»
«هوُ، ښاغليه» کېنديد ځواب ورکوُ.
دواړه پله ږغېدل او په هيرانی به يي يو بل ته ځير ځير کتل او داسي ښکارېدل چي خپلي جزبې نۀ شي کابو کولای.
يسويي تپوُس وَکولوُ، « تۀ دَ جرمني دَ کومې رخې څخه يې؟»
کېنديد په ځواب کښې ورته وَ ويل، « دَ ويسټ فاليا له سوبې څخه يم. زه دَ ټنډرترانخ په کلا کښې زېږېدلی يم.»
يسويي بيا تپوُس وَکولوُ، « خدايه پاکه! تۀ ريښتيا وايې، څه؟»
کېنديد په زوُره وَ ويل، « په دې کښې نوُ کومه داسي نادره خبره ده»
ډګروال وَ ويل، « ايا دا ريښتيا تۀ يې؟»
کېنديد وَ ويل، « دا خو بېخي ناشوني او دَ منلوُ وړ نۀ ده!»
دواړه له ډېرې هيرانی په شا وَ تمبېدل او بېرته يو بل ته ورغاړه وتل او پر مخونوُ يي اوښکې بهېدلې.
کېنديد وَ ويل، « اې ښاغليه پلاره! تۀ دَ ښکلې کونګنډې وروُر يې؟ تۀ بلغاريانوُ وژلی نه وې؟ تۀ ډاډۀ يې چي دَ سردار زوی يې؟ اوس بيا ګوره تۀ په پيراګوايي کښې يو يسويي يې.! زموږ اوستاز پينګلاس به څومره به اوس څومره خوشاله شوی وُ، خو ارمان که دی په دار شوی نۀ وای.»

ډګروال هغۀ تۀرانۀ غلامانۀ ته روخست ورکۀ چي دوی ته یې دَ رونۀ ډېرۀ ښخه تراش شویۀ جامونۀ کښي شراب ورکول. دَ خدای او ایګناټیَس بزرګ مننه یې ادا کړه. او کېندید یې په غۀزي کښي ټینګ وَ نیولۀ او بیا په ژړا سر شۀ.
کېندید هم دَ ډګروال غوندي ژړل او په ژړا کښي یې ویل، « دا لا بیا نۀره هیراني! دا واوره! ستا خۀر کونګنده چي تا مړه ګڼلي وه، ژوندۍ ده او بېخي جکه جۀړه ده.»
« هغه چېري ده؟» ډګروال وَ پوښتل.
« بېخي نیژدې ده! دَ بونس ایرس له والي سره. او زه امریکي ته دَ دې لپاره راغلی یم چي تاسي (یسویانۀ) سره جنګ وَکوم. کېندید په ځواب کښي وَویل.
دوی دوارۀ خورا اوږد مېلس سره وَکړۀ. هر ټکی چي به دوی سره وَویلۀ نۀ له هغۀ ښخه به یوه نوې ناشوده او نادره خبره راڅرګنده شوه. دَ ویلۀ او اورېدلۀ په ترس کښي دَ دوی سترګي له ډېره جوّشه برېښېدلې او ځلېدلې. دوی دَ ریښتونیۀ جرمنانۀ په شان پر ډۀډۍ ناست وَ ښاغلي پادري کوت (انتظار) وَکولۀ. او بیا ډګروال داسي په ګاډلۀ شۀ:

خوارلسم څپرکی

## دَ ډګروال بيان

## «څرنګه کېنديد دَ خپلې ګرانې کونګندې ورور وَوژلو»

« ترڅو چې زه ژوندی يم هغه بېرانده ورځ به مي هيڅکله نهٔ شي هېره چې زما مؤرپلار زما تر مخ وَوژل شول او خؤر مي ليدله چې بلغاريانو بېپردې کوله. کوم وخت چې بلغاريان په شا واپس شول، زما خؤر ستړه ورکه شوه. زه، زما مؤر او پلار ، دوه نؤکران او درې کوچني هلکان چې وژل شوي ول، ټؤل يې په يوې رېړۍ کښې واچول او زمونږ دَ کؤر څخه پر دوه فرسنګه دَ يوې يسؤيي ګرجې هديرې ته يې کش کړو. هلته يوهٔ يسويي پادري څه سپېڅلې اؤبه راباندي وَپاشلې. هغه مالګينې وې او څه ځاڅکي زما په سترګؤ کښې وَلوېدل. پادري وَليدل چې زما سترګې رپېږي، نؤ يې زما پر زړهٔ يې لاس کښېښؤدلؤ او پؤه شؤ چې هغهٔ درزيږي. په همدې شان زه وَژغؤرلم. زه په يوې اؤنۍ کښې دننه دننه ښېخي جګ جؤړ شوم.
ګرانه کېنديده، ستا ياد دي چې زه څومره شايسته هلک وم. چې پلستی (ځوان) شوم لا نؤر ښسې ښکلی شوم. زه دَ هغه ښاغلي پادري کراوسټ، چې دَ خپلې ديني ډلې مشر وُ، ډېر خوښېدلم. هغهٔ زه شاګرد کړم. لږ وخت پس يې روُم ته وَلېږلم هلته دَ دغې يسؤيي ډلې هغهٔ دَ ټؤلؤ ستر پادري ته. ځکه چې هلته يو څؤ جرمن يسؤيان دَ ګؤمارنې لپاره پکار ول. دَ پېراګوايي واکداران له ډېرې مجبورۍ دَ هسپانوي يسؤيانؤ ګومارنه هم کوي. پردې کامونه ځکه غوره ګڼي چې پر هغؤ باندي ښه باور کولای شي. ښاغلي پادري زما چونې دغه تاکستان (پېراګوايي) لپاره وَکؤ او بيا زه له يوه پولنډي او تايرؤلين سړي سره دلته راغلم. کله چې دلته راوَرسېدلم نؤ پرکمشر او مرستيال پادري جؤړ شوم. اوس دغه يم پوره پادري او ډګروال يم. مونږ دَ هسپانوي باچا لښکرې ښې ټينګې اخته کړې دي او تهٔ ډاډهٔ اوسه چې مونږ به دوی وَوهو او له هيواده به يې وَ شړو. تهٔ خدای هرومرو زمونږ دَ کؤمک لپاره رااستولی يې. خو تهٔ دا راته وايه چې ريښتيا زما ګرانه خؤر کونګنده دلته نيژدې دَ بونس ايرس له والي سره تم ده.»
کېنديد وَلؤړل چې ريښتيا هم دغسې ده او بيا دواړه په ژړا شول.
ډګروال بېشمېره ځله پر کېنديد غېږ وَغوړوله. او دی به يې خپل ورؤر او ساتونکی بللؤ.
ډګروال وَويل، « ګرانه ياره! زما دا باور دی چې په ښار به بريالي سپارهٔ ورګډ شو او زما خؤر کونګنده به را ابېله کو. »
کېنديد وَ ويل، « دغه خو زما هڅه هم ده. زما او دَ هغې خو دَ وادهٔ پرېنې وُ او زهٔ اوس هم اومېندوار يم.»
ډګروال کړيکه کړه، « ورکه شه ناوړه! زماله خؤر سره دَ وادهٔ جورات کوې؟ هغهٔ دوه اويا دَ کؤرنۍ وياړونه او نخښې لري. شرم نهٔ لرې؟ ماغزهٔ دي خراب دي، څهٔ؟»
کېنديد په دې غرپر کښې هکپک شؤ.
کېنديداسي ځواب ورکړؤ، « ښاغليه پادري، دَ نړۍ واړه نخښې نشانې هيڅ توپير نهٔ اچوي. ما ستا خؤر له يوه يهؤدي او يوه ځارنوال څخه رااېله کړې ده. هغه زما ډېره مننه کوي او په خپله خوښه له ما سره وادهٔ کوي. پېنګلاس اوستاز ما ته دا ښؤوَنه راکړې ده چې ټؤل اينسانان پله برابر دي. او دا وادهٔ به زهٔ هرومرو کوم.»
يسويي سردار ټنډرترانخ هغهٔ پر مخ دَ تورې په پڅې خوا وَ وهلؤ او ورته وَ يې ويل، « بدماشه! اوس به سره ګورو.»
کېنديد هم سملاسي خپله توره وکشله او تر موټي پورې يې دَ سردار په نس ورچخ کړه. او بيا يې توره بېرته راوَڅکوله چې سرې وينې ورڅخه څڅېدلې. کېنديد وَژړل او وَ يې ويل، « اوه خدايه! دا ما څه وکول. ما خپل زړر بادار، خپل دؤست او خپل اخوښی وَوژلؤ. که چيري يو

نرم زړی ؤ هغهٔ خو زه یم. او بیا هم دغه دربیم کس دی چي زهٔ یې وژنم. په هغؤ کښي دوه لا راهیبان او ملایان هم دي.»
کاکمبؤ ، چي دَ ارامګاه په دروازه کښي یې چوکیداري کوله، په منده راوَرسېدلؤ. هغهٔ ته خپل بادار، کېندید، داسي وَویل، « اوس لې له دې بله نشته چي موږ خپل ژوندون ګران خرڅ کړو. اوس به یسویي لښکریان راشي او زهٔ او تهٔ پکارده چي تورې په لاس مرګ ته تیار شو.»
مګر کاکمبؤ داسي پېښي ډېرې لیدلي وې. د دهٔ سدبد بېخي پر ځای ول. هغهٔ دَ مړهٔیسویي سردار چوغه راواخیستله او کېندید ته یې ورواغوستله. دَ هغهٔ څلؤر کونجه خولی یې ور په سر کړه او دَ هغهٔ پر اس یې سپؤر کؤ. دا ټؤله چاره هغهٔ دَ سترګؤ په رپ کښي ترسره کړه.
بیا کاکمبؤ په زؤره وَویل، « هله باداره، ژر سپرېږه او په تراټ تښته. هر څؤک به دا ګومان کوي چي یسویي ډاک والا دی. او چي دوی خبرېږي او په موږ پسې رارسیږي تر هغؤ به موږ له ټاک ځخه اوښتي یو.»
چي دا ویل کاکمبؤ خپل اس له مخه کړؤ، پونده یې ورکړه او په هسپانوي ژبه کښي په زؤره داسي نارې وهلې « خبردار، واه دي تاسي په ځان! مخه اېله کړئ! ښاغلی پادري ډګروال درغلؤ.»

## دَ دوؤ موسافرانؤ کیسه دَ دوؤ نجونؤ او دوؤ بیزؤګانؤ سره، او په بیا هغۀ چي په یاغي او ځنګلي اوریلینز کښي دوی ته څه وړپیښ شول

تر هغؤ چي دَ پېرګوايي لښکریان دَ جرمن یسويي په مرګ خبرېدل، کېندیداو دَ هغۀ نؤکرتر ټاک اوښتي ول. هوښیار کاکمبؤ خپله بغلجؤله لا له مخه له ډؤډی، چاکلېټؤ، غوښؤ، مېوې، او شرابؤ ځخه ډکه سیخلي وه. نؤ یي خپل اېفر اس مخ په وړاندي په یوه نابلده هیواد کښي ور هی کړؤ. دلته هیڅ سړکونه نۀ ول. اخېر کار دوی یوه ښکلي میداني ناوه وَلیدله چي هره خوا پکښي خوړونه بهېدل او دوی پرېبکړه وَ کوله چي دالته به تم کیږي چي خپل اسان هوسا او تازه کي. کاکمبؤ خپله بغلجؤله راواړوله او خپل بادار ته یي دَ خوړلؤ ست وکولؤ. او پخپله یي په خورک پیل وَکولؤ.

کېندید وَ ویل، « ته څرنګه ماته دَ غوښؤ خوړلؤ وایې؟ ما د خپل سردار زوی وَوژلؤ. او پخپل پاته ژوند کښي ښایسته کونګنده بیا هیڅکله په سترګؤ نۀ شم لیدلای. که هسي هم زما اوس له هغي ځخه بېلتون دی نؤ دَ ارمان او نامېندی دا بخته ژوندون نؤر ولي اوږدوم؟ او بل دا چي یسؤيي ورځپاني او مهالنی به څه ډول خبرونه او لیکني کاږي؟»

کېندید دغه ډَول ګورمجن چورتونه هم وهل او په خوړلؤ یي هم ځان ښه ټمبه کؤ. لمر پر ډوبېدؤ ؤ چي دغؤ دوؤ ګرځلاویانؤ داسي نرۍ چیغي واورېدلي چي دَ ښځؤ ښکارېدلي. په دې نۀ شول پوهېدلای چي چیغي دَ غم دي که دَ خوښی. خو نابلده هیوا ؤ او اودوی چټک او اندېښمن ورغلل، څه ګوري؟ چي چیغي د دوؤ نجوني دي چي دَ میدان په څنډه لڅي لغړې رهي دي او دوؤ بیزؤګیان په دوی پسې دي او دَ دوی پر کوناټؤ خولې لګوي. کېندید پر هغؤ زړه وَ سوېزدلؤ. هغۀ له بلغاریانؤ سره ښه ټؤپک ویشتل زده کړي ول. دومره پؤخ ویشتندوی ؤ چي په ونه کښي یي دانه وچه رکه ویشتلای شوه او یوه پاڼه به نۀ بېځایه کېدله. هغۀ خپل هسپانوی دوؤ نلیز ټؤپک راواړولؤ، ډزې یي وکولي او دواړه بیزؤګیان یي ځای پر ځای وَوژل.

بیا یي وَ ویل، «ګرانه کاکمبؤ! دَ خدای مننډوی یم چي دوې بې اسرې نجوني مي له لویه ناورینه وَژغؤرلې. که دَ یوه څارنوال او یوۀ یسويي په مرګ ګناهګار وم اوس مي کفاره دا ده ادا کړه او دوې بېچاره نجوني مي بچ کړې. ماته خو دواړه ښځې دَ ښؤ کؤرنیؤ ښکاریږي. کېدلای شي چي دغه پېښه مور ته په دې نابلده هیواد کښي څه ګټه راوَرسوي.»

دی لا همداسي ګډ ؤ چي ناځاپه وَچ ودرېدلؤ. څه ګؤري چي نجونؤبیزؤګیان په غېږؤ کښي نیولي دي، پر دوی اوښکي تؤیَوي او دَ غم چیغي بغارې وهي.

څه وخت یي دغه اکر کتلؤ بیا کاکمبؤ ته واسي وَ ویل، « داسي زړه سوی او خواخوږي ما هیڅکله هم نۀ ده لیدلي.»

کاکمبؤ سر وَ ښؤرولؤ او وَ یې ویل، « ښه دي وَ نۀ کړل. تا خو دَ دواړؤ نجونؤ مېَنان وَ وژل.»

« دا ته څه وایې؟ مېَنان؟ دا ناشونې ده. زۀ ستا خبره کله هم نه شم منلای کاکمبؤ. ته پر ما ملنډې او هنک ولې وهې.؟»

کاکمبؤ ځواب وکؤ. « ګرانه باداره، ته خو هر شي ته هک هیران یې. تا ته دا ولي نادره پرېبوزي چي دَ نړۍ په ځینؤ برخؤ کښي ښځې بیزؤګیان خوښوي. بیزؤګیان خو څه نۀ څه سړیؤ غوندي دي. لکه زه چي څه نا څه هسپانوی یم.»

کېندید ورته وَ ویل، « کېدلای شي چي ته سم وایې. ولي چي ماته دَ اوستاز پېنګلاس ګایونه راباديري چي ویل به یې، « داسي په تېرؤ زمانؤ کښي هم شوي دي. او له دغي شاندې او اړیکي ځخه نادره ځناوران لکه کنتور، فانز او ساتر وَزېږېدل. هغۀ به دا هم ویل چي ډېرؤ

پخوانيؤ لؤيؤ لؤيؤ سړيانؤ دا ځناوران پخپله ليدلي ول. مګر ماته به دا هسې کيسې او نکلونه ښکارېدل.»
کاکمبؤ وَويل، « ښه اوس خو پکار ده چي تهٔ سخ شي او دا وَ مني چي خلک اجب ناوړه خويونه کوي که د دوی په ځانګړي ډوَل روزنه او لارښؤوَنه وَ نهٔ شي. زه خو لا په دې هم وېرېږم چي دغه ښځې موږ سره څه خوږجن چمونه وَ نهٔ کوي.»
دغؤ پټيؤ (پخؤ) خيالونؤ کېنديد اړ ايستلؤ چي دغهٔ ځای پرېږدي او په ځنګل کښې پټ شي. دی او کاکمبؤ ډؤډی ته کښېناستل ځانونه يې ماړهٔ کړل. دَ پورتګال ځارنوال، دَ بؤنس ايرس والي او سردار ته ښېراوې وَکولي او دَ خوَږ پر نوجنه غاړه ويده شول. څه وخت چي راويښ شول نؤ پؤه شول چي دوی ببخي له ځايه نهٔ شي خوزېدلای. پېښه داسي شوې وه چي هغهٔ دوؤ نجونؤ خپلي اوريلينز پرګني تهٔ، چي دَ دې هيواد اؤسېدونکي ول، د دوی په هکله شکايت کړی ؤ. کله چي دوی دَ شپې ويده ول نؤ هغوی دوی په پړيؤ په ونؤ پوري دواړه ټينګ تړلي ول. شاوخوا يې پنځؤس کسان دغه اوريلينز لځ لغړ وليدل چي غشي ليندی، ډنډې او ډبرين کوهاړونه يې اخيستي پر دوی راګرځېدلي دي. څه کسان لګيا ول دَ يو لوی دېګ لاندي يې اؤر بلولؤ، چا مځکه کيندله او ټؤل انګؤهن دا ناريِ وهلي، « دغه دی يسؤيي، يسويي، اوس به موږ خپل پؤر واخلو او هم به ښه خوندور خواړهٔ وخورو. يسؤيي به زموږ شومه شي.»
کاکمبؤ وَويل، «ګرانه باداره! ما درته وَويل چي هغه دوې نجونې به موږ سره خوږجن چمونه کوي.»
کېنديد چي دېګونه او اؤرونه وليدل نؤ يې چيغه کړه. « دا باوري ده چي يا به مو اېشوي اويا به مو تېيي. که اوس پېنګلاس اوستاز دا هرڅه ليدلي وای نؤ څه به يې پکښې ويل؟ ساده فيترت څرنګه خوی کوي؟ بېشکه هرڅه دَ ښېګړې او شمر لپاره دي مګر دا بيا هم وايم چي له کونګندې بېلتون او بيا دغه اؤرونه ډېر بد تېري او زولمونه دي چي کيږي.»
کاکمبؤ چي کله هم نهٔ وارختا کېدلؤ وَ يې ويل، « تهٔ وار مهٔ ختا کوه. زهٔ لږ څه دَ دوی په ژبه پوهيږم. اوس دوی څه وراسه کوم.»
کېنديد وَ ويل، « هله! شابه! په دا يې هم پؤه که چي خپل همجنس اينسان پخول څومره نااينساني کار دی. دا کله هم يوه مسېهي سره نهٔ ښايي.»
کاکمبؤ دوی ته داسي وينا وکوله، « ښاغلؤ! تاسي داسي ګڼلي ده چي ګوا تاسي يو يسؤيي خوری. زهٔ پر دغه هيڅ نيوکه او ګيله نهٔ لرم. دا ببخي سمه خبره ده چي سړی له خپلؤ دوښمنانؤ سره دغسي چاره وکي. بلکي دَ فيترت کانون سيده دا راښيي چي خپل وړ او همجنس مړ کو. او دغسي په هر کونج دَ دونيا کښې هر وخت کيږي. که موږ دغسي خوی او رواج نهٔ لرو نؤ هغهٔ په دې چي موږ تر دې بيهترې درستي او وسلي دَ ښهٔ خوراک لرو. تاسي زموږ غوندي وسلي نهٔ لرئ. دَ خپل برياليتوب برولي مرغانؤ او ځناورؤ ته ابله کوئ. پخپلؤ دوښمنانؤ خپل ځان مؤړول ډېر بيهترين خوی دی. مګر ښاغليؤ! زهٔ باور لرم چي تاسؤ خپل دؤستان نهٔ خورئ. ستاسي ګومان دا دی چي اوس تاسي يو يسؤيي پخوئ. مګر دا خو ستاسي دَ دوښمنانؤ دوښمن او ستاسي مل دی. چي اوس ستاسي ورته دَ تېيَلؤ او اورتولؤ سلا کړې ده. زهٔ پخپله هم ستاسي دې هيواد کښې پيدا شوی يم او دا بل زما بادار خو سټ يسؤيي نهٔ دی، بلکي اوس اوس يې يو يسؤيي وَوژلؤ او دَ هغهٔ مال او دولت يې له ځانه سره راواخيستلؤ. په دې ځای کښې تاسي ختا او غلت يئ. زما دَ ګای ريښتيولي او سپيناوی تاسي داسي کولای شئ. زما دَ بادار چوغه واخلئ او دَ ښاغليؤ پادريانؤ دَ باچهی دَ تاک پر چوکی تپؤس وَکئ چي ريښتيا زما بادار يو يسويي وژلی دی که نه؟ ستاسي به ډېر وخت نهٔ ګاريږي. که زهٔ دروؤغجن وم بيا هم تاسي موږ خوړلای شئ. او که زهٔ ريښتيا وايم بيا نؤ کام منځي (international law) کانون تاسي ته پخپله ښه څرګند دی. هيله لرم چي ناوړه چلند به نهٔ راسره کوئ.»
دا اريلينز پرګنؤ باندي دَ کاکمبؤ وينا سخته اغېزه وکوله او خپل دوه مشران يې په منډه وَ استول چي ريښتيا جوت کي. هغؤ دواړؤ مشرانؤ دنده په ښه تؤګه پوره کړه. ډېر چټک بېرته راستانه

شول او ښه زېرى يې راوړلۀ. دلته ايلنز پرګنۀ خپل دواړه بنديان اېله کړل او ښه چلند او درناوى يې ورسره وکولۀ. دوى ته يې خوړې او نجونې وړاندې کړې او بيا يې په مخه کړل دَ خپلې باچهۍ ټاک ته يې وَرسول. هغوى په زوّته زوّته دَ خوښۍ داسې نارې وهلې، « دا يسوّيي نۀ دى» « نۀ دى»

کېنديد پر خپله رهايۍ خورا په چورت کښې ؤ او دَ خلګوّ په ستاينه داسې ګډ ؤ، « دا څومره برمناک او پرتَمين اولس دى!» څومره بيهترين خلګ دي. او څومره ښه خوى او دوّد يې دى! زما بخت بيدا شوّ چي دَ کونګندې وروّر مي چټ کوّ. کنه ول اوس خو به زۀ په دوړه خوړل شوى وم. خو هر څه چي وويل او وَکول شي دا ګاى ښېخي زباتوي چي ساده فيترت بيا هم غوره څيز دى. کله چي دوى ته دا څرګنده شوه چي زۀ يسوّيي نۀ يم نوّ له ما سره يې ډېر درون چلند شوّروّ کوّ.»

# څرنګه کېنديد او دَ هغهٔ نوکر الدورادوٗ ته وَ رسېدل او هلته يې څه وليدل

کله چي دوی دَ اوريلانز هيواد اخيري ټاک ته وَرسېدل نو کاکمبوٗ کېنديد ته داسي وَويل، « تهٔ ويني چي دغه نوې دونيا دَ هغي زړې څخه څه هوٗري (چندان) ښه نهٔ ده. که زما ښيَنه (نصيحت) مني نو راځه دچي څومره ژر کېدلای شي بېرته يوٗرپ ته وَ ګرځو او ولاړ شو.»
«مګر هلته به ځو څرنګه؟» کېنديد وَ پوښتل. « او چي هلته وَ رسېږو بيا به کوم هيواد ته ځو؟» که زهٔ خپل هيوادته ځم نوٗ هلته بلغاريان او اباريان يو دَ بل غاړې پرېکوي. که پورتګال ته ځم نوٗ هلته بيا ما ژوندی سوزوي. او که دلته کښې پاتېږو نوٗ دَ ادم خوٗروٗ هر وخت خطره ده. په هر ډوَل زهٔ هغه دونيا چيري مېرمن کونګنده پاتيږي څرنګه پرېښوٗدلای شم؟ ما ته دا پرېکړه ډېره ګرانه ده.»
کاکمبوٗ وَ ويل، « راځه چي کاين ته ولاړ شو. هلته به څوٗک هغه فرانسيان پيدا کو چي په نړۍ کښې ګرځي. او ښايي زموږ څه کومک هم وکوي. کېدلای شي چي اخېر کار خاوند خدای زموږ پر بده ورځ وَ رهميږي.»
کاين ته رسېدل اسان کار نهٔ وٗ. دَ مخې څه اټکل خو دوی کولای شوٗ مګر لار ډېره اړه وه. دنګ اړ غرونه، ګړنګونه، دريابونه او هرڅه ول. پر دې سربېره دَ شوکمارانوٗ او ځنګليانوٗ خطره لا هم وه. دَ دوی اسان ببخي له ستوماني مړه شول او دَ لارې څوری او ازوغه يې هم تمامه شوه. پوره يوه مياشت دوی په ځنګلي مېوٗ ګوزاره وکوله. اخېر کار دوی دَ يو داسي روٗد څنډې ته وَ رسېدل چي پر دواړوٗ غاړوٗ يې ليکي ليکي دَ کوٗپرې ونې ولاړې وې. دَ کوٗپرې خوړلوٗ په دوی کښې سېک پيدا کوٗ او څه تازه دم شول.
کاکمبوٗ دَ بوډۍ غوندي ، چي دَ دهٔ لارښوٗدني ته به تل ښه وه، وَ ويل، « موږ ښه ډې پلي راغلي يو. ستومانه يو، نوٗر نهٔ شو تلای. په څنډه زهٔ يوه تشه بېړۍ تړلې وينم. راځه چي دَ کوٗپرې څخه يې ډکه کو او پکښې سپاره شو او دَ څپوٗ بهاو پر خوا رهي شو. درياب ښشتره دَ ابادۍ پر خوا مخه کاړي. که مو خوَندوَر شيان نهٔ کړل پيدا هم څه نوي شيان خو به هرمرو پيدا کو.»
« هوٗ خوَد، ستا ګای مي خوښ دی. راځه پر خدای توکل دی.» کېديد وَويل. درياب دوی ښه ډېر ميلونه پر مخ بوٗتلل. دَ درياب څنډې چېري هوارې او له رنګارنګ ګلانوٗ ډکې وې او چيري بيا وچي کلکې پرښې وې. کرار کرار دَ درياب وسوٗر زياتېدلوٗ. او اخېر کار دَ داسي سهمناکوٗ پرښوٗ چي څوکي يې پاس هسک سره بلوٗسېدلي، دَ منځ په ګړنګ کښې پرېوتلوٗ. دا دواړه موسافران خورا زړه ور ول او ځانونه يې دغه درياب ته وَسپارل. دَ پرښوٗپر ګړنګ ورهی شول. درياب بېرته پله تنګېدلوٗ او دوی يې يوه سهمناک او هَيبتناک ږوغ او تګ پر مخ وړل. څلېرويشت ګنټې پسته دوی لمرڅرېکي ته راوَوتل. دلته دَ دوی بېړۍ له يوې غټې ګوپلې (ډبرې) سره ډېره بده وَجنګېدله او خاښې خاښې شوه. او دوی درې مېله پوري په ډبروٗ او پرښوٗ کښې پله څکېدل اخېرکار يوهٔ وير ډګر ته وَرسېدل. ډېر اړ غرونه له هغهٔ ميدانه راچاپېر ول. داسي ښکارېدله چي دَ دغه ځای کروندګر او دَ مځکې دَ ښکلا باغوانان ښه زيارکښ ول. او دَ اينسان چي څه شيان په کارېږي هغه واړه دلته ښه په خوند پيدا کېدل. په بازاراونوٗ کښې دَ خلکوٗ انګوهڼ وٗ او سړکونه په داسي شاندارو ګاډوٗ کزل شوي ول چي له ډبروٗ ګرانوٗ او لوړبها سامانونوٗ رغېدلي وې. دغه ګاډي غټوٗ غټوٗ سروٗ مېږو کشول چي دَ اوندلس تر تازيانوٗ لا هم تېزې وې. داسي نارينه او ښځمنې په دغوٗ ګاډوٗ کښې سپاره ول چي دَ ښايست ساری په هيڅ ځآی کښې نهٔ وٗ. کېنديد او کاکمبوٗ يوهٔ نيژدې کلي ته رهي ول او کېنديد داسي وَويل، « دغه هيواد تر وېسټ فاليا ډېر ښه دی.» دواړه کلي ته ور جوت شول. دَ کلي هلکان موٗځه او

غوچکاني اخته ول، لؤبي يي کولي. دَ زرتارؤ اؤبدلي کالي يي اغوستي ول. زمور دَ بلي دونيا موسافران وَ درېدل چې دَ هلکانؤ لنداره وکي. دَ دوى مؤخې دېرې ځلېدلي. دوى ورکښېخوتل او خؤ بېلګي يي وَکتلي. وَ يي ليدل چي هغه دَ سرؤ زرؤ، زمرودؤاو ياکوتؤ ټؤټې وې. ځينه ژړې، ځينه سرې او خينه بيا شني وې. هغه کمترينه ټوټه به يې هم دَ موغل دَ تخت تر غوره زېوَر لا هم ښه وه.
کاکمبؤ وَويل، « دغه هلکان به بې له شکه دَ دغه هيواد شاهزادګان وي.»
دغه وخت دَ کلي دَ ښؤوَنځي اوستاز راښکاره شؤ او هلکان يي ښؤوَنځي ته وَغوښتل.
کېنديد وَويل، « دا به هرومرو دَ شاهي کؤرنى اوستاز وي.»
هلکانؤ سملاسي ساتېرى بند کؤ او دَ ساتېري سامان يې دلته هلته وَغورزول او بيا ښؤوَنځي ته ولاړل. کېنديد په هغؤ شيانؤ کښې يو څؤ راټؤل کړل او په منده يي اوستاز ته وَرسول.
ورته سرکوزى شؤ او داسي اشارې يې ورته وکولي چې، ښاغليه برمناکه، ستاسي خپل سرؤ زر او غمي هېر شول. مګر اوستاز هغه شيان ېېرته تس کړل، وَ مسېدلؤ او په هيرانى يې کېنديد ښهٔ پؤرته کښته وَکتلؤ. بيا پټه خوله رهي شؤ.
موسافرانؤ هغه دَ سرؤ زرؤ، ياکوتؤ او زمرودؤ ټؤټي له ځان سره واخيستلي.
« دا مور کومي دونيا ته راغلو؟» کېنديد په هيرانى وَويل. « دَ دغؤ شهزادګانؤ رؤزنه به دېره اوچته وي چې دوى ته له سرؤ زرؤ او بېشبها غميؤ څخه کرکه ور زده کول کيږي.» کاکمبؤ هم دَ کېنديد غوندي هک هيران ؤ.
لږ پېښن دوى دَ کلي يوه لوى کؤر ته وَ رسېدل. دا کؤر دَ يؤرپ دَ شاهي مانيؤ غوندي ؤ. ګڼ خلک له دروازې سره شاوخوا ولاړ ول. او دننه په کؤر کښې هم دېر ول. دَ ساز او اواز ښکلي سندرې او نغمي خورې وې او ښؤ خوندَورؤ خوراکؤ ورمې رالټېدلي.
کاکمبؤ دروازې ته ورجوخت شؤ. غور يي وَ نيولؤ. خلګؤ پېرؤيي ژبه پله ويله. ستاسي به ياد وي چي کاکمبؤ پخپله په ارجنټاين کښې زېږېدلى ؤ چي دَ خپل کلي دَ ژبې پرته يي بله ژبه هيځ نهٔ وه زده. نؤ دا پيرويي ژبه خو دَ هغه مؤرنى ژبه شوه.
«راځه چي دننه ورشو دا يو سراى دى. زه بهستا ژباړى يم.» کاکمبؤ وَويل.
دننه تلؤ سرهدوه نر او دوې ښځې خيزمتګارانؤ دَ دوى هرکلى وکولؤ او مېز چوکۍ ته يې بؤتلل. خيزمتګارانؤ زرتارينې جامې اغوستي وې او وېښتان يې په ښايسته تراټؤ تړلي ول. دَ خوړلؤ لپاره يې دَ بلؤرؤ په لؤښؤ کښې ښه ښؤروا، تېيَلي لوى کارګان، مرغان او دوې بشپړې بيزګانې چي تېيَلي وې راوړې. نؤرې غورماوې او ترکاريانې هم دېرې وې. ښې خوږې کولچې هم وې. له ګنؤ څخه جوړ ډوَل ډوَل مې (شراب ) يې هم دوى ته راوړل. په هؤټل کښې خلک سوداګران اوګاډې وانان ول. دېر برم او پرتم يي لرلؤ. دېر په درناوي او پؤهنه يې کاکمبؤ څخه پوښتني کولي او کاکمبؤ به هم ښه ډاډه ځواب ورکولؤ. هرکله چې دوى له خوړؤ وَ رهېدل نؤ کاکمبؤ او کېنديد دواړؤ دا سؤچ کولؤ چي دَ سرؤ زرؤ هغه دوه ټؤټې به دَ دوى دَ ډوډۍ نرخ په پوره تؤګه پرې کي. دوى دواړه ټؤټې دَ سراى مونشي ته ورورې او دَ هغه پر مېز يي کښېښؤدلي. دَ سراى خاوند اودَ هغه مېرمن پر دې دومره په زؤره او تر دېره په خندا ول چي پر بدوګؤ يې لاسونه وَ نيول. څه وخت چي بېرته لږ پر واک شول نؤ دَ سراى خاوند دوى ته داسي وَويل، « ښاغليؤ! دا ښکاره خبره ده چي تاسي دلته نابلده يئ او مور هم دَ بهر خلک نهٔ دي ليدلي. نؤ مور بخښنه غواړو چي تاسي مور ته دَ کوڅنيانؤ دَ لؤبؤ دَ لارې کاڼي راکړل. نؤ ځکه مور دېر وخندل. څرګنده ده چي تاسي سره زمور دَ هيواد پيسي نشته. خو دلته تاسي ته هيڅ دَ پيسؤ ورکولؤ اړتيا نشته. ولي چي دلته ټؤل سرايونه په سرکاري لګښت دَ سوداګرانؤ او موسافرانؤ لپاره موفت چليږي. دلته ستاسي لکه څنګه چي ور ؤ هغسي خيزمت ځکه وَ نهٔ شؤ چي دا يو نستمن کلى دى. په نؤرؤ لؤيؤ ځايونؤ کښې به ستاسي له شان سره سم هرکلى وَشي.
کاکمبؤ کېنديد ته دَ سراى دَ خاوند دَ وينا ژباړه وَکوله او دواړه هيران شول.

« دا کوم هیواد کېدلای شي؟ دوی یوهٔ بل ته وَویل. بای کېندید داسي وَویل، « دا هیواد نؤرې دونیا ته ښېخي نهٔ دی مالوم. ځکه چی هرڅه یې زموږ له دونیا څه ښېخي ښېل دي او توپیر لري. ښایي چي هغه «ښېهترینه شوني» نړی همدغه ده. او هم پکار ده چي داسي یو ځای هرومرو وي چرته چي هر څه ښېهترین او برابر وي. اوستاز پېنګلاسه هرڅه اپلاتې چي وهلې خو ماته داسي ښکارېدله چي په وېستفالیا کښي یو شی برابر نهٔ ول.»

اولسم څپرکی

# دَ الدورادوٗ په هیواد کښې دوی څه وَلیدل

دَ کاکمبوٗ زړۀ ډېره پلټنې غوښتې او دَ سرای له څښتن څخه یې ډَوَل ډَوَل پوښتنې کولې. خو هغۀ دَ هرې یوې ځواب کښې دا ویل، « ښاغلیه، ما خو تا ته وَویل چې زۀیو نالوستی کس یم او په دې اکر کښې ډېر خوښ هم یم. موږ دلته دَ کلي په خوا کښې یو سپینږیری ناستونی (ریټایرډ) درباري لرو. هغۀ زموږ په باچهي کښې پوه ترین کس دی. هغۀ به ستاسې دَ هرې پوښتنې ډاډۀ ځوابونه درکي. بیا یې کاکمبوٗ دَ هغۀ پوٗهندوی ځای ته بوٗتلوٗ. کېندید په ژبه نۀ پوٗهېدلوٗ، هسې پسې رهي شوٗ. دوی یوۀ سادۀ مکان ته وَرسېدل او دننه ورغلل. دَ مکان دروازه یوازې له سپینوٗ زروٗ جوړه وه. دننه دَ کوٗټوٗ دېوالونه لاندې برخې له سروٗ زروٗ رغېدلې وې. مګر داسې کاریګرې پکښې شوې وه چې له ډېروٗ ښوٗ ښوٗ مانیوٗ سره یې سیالي کولای شوه. دَ تالار په دېوالونوٗ یې یاکوت او زمرود لګېدلي ول او ټوٗل کار ډېر ساده مګر په خوند وربانديې شوی وٗ.

دواړه موسافران چې سپینږیري ته ورغلل نوٗ دی دَ مرغانوٗ دَ بڼوٗ پرګدېله په سوٗپه کښې ناست وٗ. دوی ته یې دَ کښېناستلوٗ سَت وَکولوٗ. او دَ غمیوٗ په ښایسته ګلاسونوٗ کښېي شراب ورپېښ کړل. پس دَ ستوٗمانی دَ ایستلوٗ او دَ چورت دَ خوشالوٗ سپینږیري وَویل، « زما ژوندون دا وخت یو سل دوه اویا کاله دی. ما له خپل خدای بخښلي پلار څخه دَ پیروٗ دَ هیرانونکي اوښتون کیسې اورېدلې دي. هغۀ دَ باچا داروٗغۀ وٗاو هرڅه یې پخپله لیدلي ول. دغه باچهي چې اوس موږ پکښې اوسیږو پخوا دَ اینکا اولس وه. هغوی دَ نوٗروٗ هیوادونوٗ په ګټلوٗ پسې ولاړل او دا ځای یې پرېښوٗدلوٗ. خو اخیر کار هسپانویانوٗ دوی وَ وهل او تباه یې کړل. خو په دوی کښې بیا هم څه مشران هوښیار ولاو هغوی په خپل هیواد کښې پاته شول. دوی دَ ټوٗل کام په سلا او یووالي دا کانون جوړ کوٗ چې د دې کوچنی باچهی یو کس به هم بهر نۀ شي تلای. دَ همهغه کانون برکت دی چې موږ تر اوسه پوري خوشاله او خوندي پاته یو. هسپانویانوٗ ته زموږ دَ هیواد څه ګډوَډه غوندي پته وه. دوی زموږ پر هیواد باندې دَ الدورادو ( زرین هیواد) نوم کښېښوٗدلوٗ. سل کاله اګاهو یو فرنګی زموږ هیواد ته نیژدې رارسېدلی وٗ. خو زموږ خپلوٗ اوچتوٗ او اړوٗ غرونوٗ او ګړنګونوٗ تر اوٗسه پوري دَ یوٗرپیانوٗ له هیرسه او هوا څخه خوندي ساتلي یو. دغۀ یوٗرپیان زموږ دَ خاورې دَ کانوٗ، تیږوٗ او نوٗر کندګېل دومره هیرس اخیستي دي چې زموږ دَ ټوٗلوٗ خلکوٗ وژنه هم دوی ته هیڅ خبره نۀ ده. بس دومره غواړي چې دا سپېره توٗکي دوی ته پیدا شي. دَ دواړوٗ موسافرانوٗ او سپینږیروٗ مېلس ډېر اوږد شوٗ. دوی دَ الدورادوٗ پر سرکار، دوٗد دستور، له ښځوٗ سره چلند، هونر او نوٗروٗ دندوٗ باندې خوارا اوږدې خبرې وَکولې.

کېندید خو دَ خدای پېژندنې (الهیاتوٗ) ډېر تپاک لرلوٗ نوٗ کاکمبوٗ ته یې وَویل چې دا تپوٗس وکوه چې په دې هیواد کښې کوم ډَوَل دین او ګروٗهه شته؟

پر دغه تپوٗس دَ سپینږیري مخ څه سور شوٗ او په زوٗره یې داسې ځواب ورکوٗ، « دین هو، دین خود شته. ستاسې څه شک دی چې موږ دَ منني او لمانځنې هوٗش هېڅ نۀ لرو.»

کاکمبوٗ په ادب بیا تپوٗس وکولوٗ، « موږ په دې پوهېدل غواړو چې دَ الدورادوٗ منلی سرکاري دین څه دی.»

دَ سپینږیري مخ بیا څه سور شوٗ او و یې ویل، « ولې، دوۀ دینونه هم چیرې کېدلای شي؟ زۀ له هغۀ وخته دا منم چې موږ دَ ټوٗل اینسانیت دین منو. موږ له ګهیځه تر ماښامه دَ خدای لمانځنه کوو.»

« تاسي دَ يوۀ خداى لمانځنه کوئ؟» کاکمبؤ دَ کېنديد خبره سپينه کړه.
« ښېشکه، موږ دَ يوۀ خداى لمانځنه کوو. خداى خو دى يو. دوه، درې، يا څلور خو نۀ دي. تاسي دا بهرنيان خلګ څه نادره تپوسونه کوئ. سپينږيري په ځواب کښي ورته وَويل.
کېنديد هم لګيا ؤ سپينږيرى نه پسي پرېښوُدلؤ. اوس يې بيا دا تپوس وکولؤ چي په الدورادؤ کښي دَ خداى لمانځنه او دورهاوي (دعاګاني) په څه تؤګه کيږي؟
درانه سپينږيري په ځواب کښي ورته وَويل، « موږ کله هم دورهاوي نۀ کوو. موږ ته خداى هر څۀ راکړي دي. هيڅ شى مو کم نۀ دى چي له خدايه يې يې وَغواړو. هؤ، دَ خداى مننه هر وخت وايو.»
کېنديد ته اوس دا تلوسه ورولوېدله چي دَ دوى څه ملايان يې ليدلى واى. نؤ يې کاکمبؤ ته وَويل چي تپؤس وکوه چېرته به يې پيدا کي.
سپينږيرى وَ مسېدلؤ او وَيې ويل « زما يارانؤ، دلته موږ هر څوک ملا يو. پخپله باچا او دَ هرې کؤرنۍ مشرهر ګهيځ دَ خداى مننه او ستاينه په دېره پرتم او درنښت دَ پينځه ښېږ زرؤ سازندګانؤ په ملتيا وايي.»
کېنديد بيا تپؤس وَکولؤ، «مانا دا چي تاسي داسي ملايان نۀ لرئ چي ښَيَنه کوي، ريښتينى کوي، مرنې کوي، سازشونه کوي، پر خلکؤ خپله منې او چي څؤک يې له دوى سره نۀ منې نؤ هغۀ ژوندى په اؤر سوزوي.؟»
« موږ څه لېوني خو نۀ يو چي داسي کسان وَساتو. زموږ خوښي او ناخوښي ښخي يوه ده. هيڅ ټکر نۀ لرو. او تاسي چي کوم شي ته ملا وايئ پر هغۀ موږ ښخي نۀ پوهيږو. » سپينږيري ځوار ورکؤ.
دَ کېنديد چورت دَ سپينږيري په ګايونؤ خورا برابر شؤ. بيا له ځانه سره داسي ګډ شؤ. « دا خو هر څه دَ وېستې فاليا اودَ سردار تنډرترانخ دَ ماڼۍ نه ښېل شان دي. که زموږ يار پينګلاسا اوستازدَ الدورادو لېدلي واى بيا به يې دغه سورنا هر وخت نۀ وهله چي دَ تنډرترانخ کلا په ګردې دونيا کښي بيهترين او غوره ځاى دى. دا زباتوي چي خلګؤ ته پکار ده چي سفر وکي او نؤره دونيا هم وَويني.»
هر کله چي دغه اوږد مېلس ختم شؤ هغۀ نېک سپينږيري خپلؤ دوؤلسؤ نؤکرانؤ ته وايه وکړه چي موسافران دربار ته بؤځي. هغؤ دَ شېږؤ مېږؤ يوه ښايسته ګاډى تياره ساتلي وه. سپيږيري دَ روخست په وَويل، « زه بخښنه غواړم تاسي سره دربار ته نۀ شم تلاى. زما اومر اوس دَ دې وړ نۀ دى. زۀ باور لرم چي تاسي به دَ باچا دَ مولاکات او هرکلي څخه پوره ډاډه او خوشاله شئ. خو بيا هم که چيري زموږ هيواد څه ناوړه دستور تاسي وَ ليدلؤ نؤ بخښنه به کوئ.»
کېنديد او کاکمبؤ په ګاډې کښي سپاره شول. سپږ مېږې دومره تېزې وې چي دوى يې دَ باچا ماڼۍ ته په څه کم څلور ګنټې کښي وَرسول. ماڼۍ دَ پلازمېنې په يوه څنډه کښي وه. لؤيه دروازه يې اؤوه سوه ګزه جګه او دېرش ګزه وسرَوره وه. خو له کومؤ شيانؤ چي دروازه رغېدلي وه دَ هغؤ بيان لېږ ګران کار دى. په هر ډَوَل کوم رېګونه او ترونځې چي موږ سرۀ زر بؤلؤ له هغؤ ځخه هغه شيان بې انداري لوړ ول.
هر کله چي کېنديد او کاکمبؤ له ګاډي ځخه راکښته شول نؤ شل وتليؤ ښايسته شاهي خيزمتګارانؤ ښځؤ دَ دوى هرکلى وکولؤ. دَ پؤشاک خوني ته بؤتلل. هلته يې دَ همېدونکي مرغۀ ځانګړي کالي ورواغوستل. سرکاري افسرانؤ او مېرمنؤ په درباري جامؤ کښي سينګار شوي دواړه موسافران دَ باچا مولاکات لره روان کړل. لومړى په يوۀ داسي تالار ورګډ شول چي دواړؤ اړخونؤ ته زر زر سازندګان لګيا ول سازونه يې ږغول. دا دَ دې هيواد يو دؤد ؤ. هرکله چي ارګ ته نيژدې شول پر خپل ځنګ له يوۀ افسر ځخه تپؤس وکولؤ، «چي دَ برمناک باچا سامانه به څرنګه کوو؟ پر ګوَنډؤ ورته چوغ شو او که تندى ورته پر مځکه وَمږو؟ لاس پر سر يا پر نامۀ او تر شا وَ نيسو؟ مانا مي دا ده چي ستاسي دؤد څرنګه دى؟»

هغه افسر ورته وَويل، « دغه دا دی چي له باچا سره به په غبرږ روغبړ کيږي او پر دواړو بارخوګانو به کوښليږي.»
بس نو کېنديد او کاکمبو هم باچا ته ورترغاړه وتل. باچا هم دوی ته په ډېره مهرباني تود هرکلی وَويلو او دَ ماښام ډوډۍ سَت يې هم ورته وکولو. باچا وايه (امر) وکوله چي موسافران دَ ښار سوهېل ته بوځئ. دَ اولسي چارو ودانۍ دومره جګې وې چي سرونه يې هسک ته رسېدل. دَ بازار منديانې او چوکونه په بل شان ښايسته رغېدلي ول. پر هر چوک دَ پاکو اوبو ، دَ ګلابو د اترو دَ اوبو او دَ ګني دَ شرابو پواري چورلېدلې. دَ چوکونو فرشونه په داسي بېښبها ډبرو رغېدلي ول چي له هغو دَ لونګو او لاچيو ښه بوی او ورمې راپورته کېدلې. کېنديد دَ نياوتون (عدالت) دَ ليدلو هوس ښکاره کړ. مګر ريښتيا خو دا دي چي دَ دغه هيواد خلک په مرنيو، دنګلو او ريښتينيو نهٔ پوهېدل.
کېنديد له خپل لارښوُدونکي څخه دَ زيندان پوښتنه وکوله چي شته او که نه؟ لارښوُدونکي ورته وَويل چي زيندان دلته نشته. خو تر هرڅه کېنديد دَ ساينس مانۍ ته ډېر هيران او خوشاله شو. په دغه مانۍ کښي يوه ګالري دوه زره فوټه اوږده دَ ښمارنې (رياضي) له سامان او اوزارو څخه ډکه وه.
له غرمي بيا مازيګره دوی دَ ښار اپله زرمه برخه وکتلای شوه. اوس بېرته په شاهي مانۍ کښي دَ ډوډۍ لپاره دَ رسېدلو وخت و. کېنديد دَ باچا پر څنګ پر مېز ډوډۍ ته کښېنستلو. کاکمبو او ډېرې درباري مېرمنې هم ورسره وې. داسي دَ درب بلنه او مېلمستيا کېنديد هيچېرې نهٔ وه ليدلې او نهٔ يې هم دَ دې باچا غوندي زيرک کس چېرې ليدلی و. کاکمبو به دَ باچا ګاپونه کېنديد ته ژباړل. کېنديد هيران و چي داهسې شان هوشياري او زيرکتيا خو هغهٔ نهٔ چېرې ليدلې وه او نهٔ اورېدلې وه. دوی يوه مياشت په دغه شاهي مانۍ کښي په ښه خوند تېره کړه. خو کابو هره ورځ به کېنديد کاکمبو ته ويل، « زه منم چي هغه کلا چي زه په خپل هيواد کښي پکښي زيږېدلی يم له دې مانۍ سره هيڅ سيالي نهٔ شي کولای. خو بيا هم ماته هر وخت مېرمن کونګنده راياديږي او بې له هغې زه هيڅکله نهٔ شم خوشالېدلای. تهٔ به هم په اوروپا کښي کومه ليلا لرې. که موږ دلته کښي پاته کيږو نو دغسي به يو لکه دا نوُر خلک او که چيري موږ دَ الدورادو په غميو او سرو دوُلس مېږې بار کو او زاړهٔ يوُرپ ته بېرته ستانهٔ شو نو موږ به دَ يوُرپ تر ټوُلو باچهانو زيات دولتمند يو. دَ ځارنوالانو وېره به راسره نهٔ وي او مېرمن کونګنده به په اسانۍ وَ ژغوُرو.»
کاکمبو دَ کېنديد له دغي وينا خوشاله کېدلو مګر دی پخپله هم يو بې کراره اروا لرله. دَ دواړو دا زړهٔ غوښتل چي په هيواد کښي خپلو يارانو دوُستانو ته شتمني ورښکاره کي او په وياړ سره خپلي نادرې دَ سفر کيسي ورته بيان کي. بس نو دوی دواړو پرېکړه وَکوله چي تر ابده دا خوشالي پرېږدي. نو يې له باچا څخه روخست وَغوښتلو. باچا دوی ته وَويل، « دا ستاسي وړانديز خوشي ناپوُهي ده. زهٔ منم چي زما هيواد دومره دَ وياړ هيواد نهٔ دی. خو سړی پکار ده چي دَ ګوزارې پر ژوندون منندوی وَ اوُسي. په هر ډوَل زهٔ دا رېښته نهٔ لرم چي پردي خلک دَ خپلي خوښي اپوټه دلته ايسار وَ ساتم. دا کار زموږ په دوُد او کانون کښي ناروا دی. ټوُل اينسانان ازاد دي. کله مو چي هم زړهٔ وَ غواړي تاسي تلای شئ. خو په هغه دريابي لاره له دې خوا بېرته وتل ښخي ناشونی کار دی. څکه چي دَ هغو ګرنګونو، او تر مځکي لاندي لغمونو او بيا دَ اوبو تېز بهاو اپوټه تګ چورلټ ناشونی دی. پېش هم تاسي کومي ماجزي دلته راورسولئ. زما پر باچهي چي کوم جګ جګ غرونه چاپېره راګرځېدلي دي دا غرونه لس لس زره فوټه جګ دي. او داسي نېغ دي لکه ديوالونه. هر غر دېرش ميله پوري غزېدلی دی. او دې سخت اړ او پېچلي ګرنګونه لري.
په هر ډوَل اوس تاسي دَ خامخا دَ تګ غوښته کړې ده نو زهٔ به خپلو اينجينرانو ته وايه (امر) وکوم چي داسي مشين درته جوړ کي چي تاسي په ارامه تر غرونو واړوي. زما اولس دا لوُږه کړې ده چي خپل هيواد په هيڅ اکر کښي هم نهٔ پرېږدي. نو دَ غرو په هاغه خوا زموږ هيڅوک

ستاسي ملګرتيا نهٔ شي کولای. زما اولس خپله لوړه هيڅ نهٔ شي ماتولای. له دې پرته چې تاسي له ما هرڅه غواړئ ماته ويلای شئ.»
کاکمبؤ باچا ته وَ ويل، « موږ يوازي يو څؤ مېږې په خوارکي تؤکؤ او ستا دَ هيواد په ډبرؤ او ژړؤ ګټؤ بار غواړو.»
باچا وَ خندل او بيا يې وَويل، « زهٔ خو ستاسي دَ يؤرپيانؤ له دغؤ ژړؤ ختؤ سره په مينه او هوس نهٔ پوهېږم. خو څومره چې ستاسي زړهٔ غواړي هغومره ځان سره واخلئ. خدای دي وَکوي چې ستاسي په شَمر درشي.»
باچا سملاسي خپلؤ اينجينرانؤ ته وايه وکوله چې يو داسي مشين جوړ کي چې دغه دوه نادره موسافران په هغهٔ کښي له خپلي باچهی بهر وَرسوي. درې زرؤ نامتؤ ساينسپؤهانؤ کار پيل کؤ او په پنځلسؤ ورځؤ کښي يې هغهٔ مشين تيار کؤ. پر دغه مشين دَ هغهٔ هيواد شل زره پونډه لګښت راغلؤ. اخېر کار کېندید او کاکمبؤ باچا په غېږ روخست کړل او دوی په مشين کښي سپاره شول. دوه غټي سرې مېږې هم ورسره وې چې ولونه او زين کړې وې چې تر غرونؤ اوښتلؤ پس به دوی پر سپرېدل. له دې پرته شل مېږې دَ خوراکي سامان په خورجينانؤ هم بار وې. دېرش مېږې بيا په سوغاتونؤ او ډاليؤ بار وې او پنځؤس مېږې په بېشبها غميؤ او جوهرونؤ بار وې.
دَ دوی روانېدل هم ښکلي لنداره وه. اينجنرانؤ دوی او دَ دوی مېږې په ډېر هونر دَ جګؤ غرونؤ په څوکؤ واړول، په يوهٔ خوندي ځای يې څوړ کړل او بيا يې روخست کړل. اوس نؤ دَ کېنديد بس دا يو ارمان ؤ چې کله به دغه مېږې کونګندې ته وړپېښي کي.
هغهٔ کاکمبؤ ته داسي وَويل، « که دَ بونس ايرس والي کونګنده يرغماله ساتلي وه نؤ اوس خو چي هرڅومره دولت هغهٔ غواړي موږ يې ورکولای شو. راځه چې لومړی کاين ته ورشو او بيا له ځايه په سمندري بېړيؤ کښي پر مخ پسي رهي شو. په لاره کښي به پر دا هم سؤچ پله سنجوو چي اوس موږ کومه باچهي وَ پېرو.

اتلسم څپرکی

## په سرینام کښې دوی ته څه وریپښې شول او څرنګه کېندید مارتین بلد کوي

زموږ دَ مسارفرانو کېندید او کاکمبؤ دَ لومړۍ ورځې مزل خورا په خوند تېر شؤ. دواړه په چورت کښې ول چې دَ یؤرپ، اسیا او افریکي تر درې واړه لؤیؤ وچؤ زیاته خزانه له دوی څخه وه. دې تاو خو کېندید داسې دَ هوا پر نیلي سپؤر کړی ؤ چې دَ ونؤ پر ډډونؤ به یې دَ کونګندې نوم لګیا ؤ په چاکو لیکل، په دا بله ورځ دَ دوی دوې مېږې دَ ختؤ په اوزغی کښې بندې شوې او له خپلؤ پېټؤ سره یو ځای ښخې شوې. اؤه اته دانې نؤرې بیا په یوه دښته کښې دَ لوړې له لاسه مړې شوې. څه نؤرې بیا په یوه ګړنګ کښې لاهو شوې. نیژدې دَ سلؤ شپؤ دَ مزل نه پس د دوی سرې اېله دوې مېږې پاته شوې.

کېندید کاکمبؤ ته وَ ویل، « ګوره کنه، یاره دونیایي مال داسې ورکېدونکی څیز دی. پاته کېدونکی شی یوازې نېکې ده او بل دَ کونګندې دَ لیدؤ هیله. بس نؤر هر څه فنا لرې.»
کاکمبؤ ورته وَویل، « زه بېخي له تا سره سځ یم. خو موږ اوس هم دوې مېږې او دومره دولت لرو چې دَ هسپانیې باچا به یې په ګرد ژوند کښې پیدا نهٔ شي کړای. هلته لرې زهٔ یو بازارګی وینم. زما خیال دی چې دغهٔ ځای سرینام دی. دغه دَ هالنډې خلګؤ په ولکه کښې دی. ته خبر یې؟ زموږ غمونه بس ختم دی. اوس نؤ بس غوړې خوښی دې.»
هرکله چې ښار ته ورجوخت شول دَ سړک په اړخ کښې یې یو تؤر هبشی تیرتېک غزېدلی ولیدلؤ. دَ شنهٔ ټآټ څه ګودړ یې سره پېچلی ؤ، هسې نؤر هغهٔ ډېر لغړ ؤ. کېندید په هالنډې ژبه کښې پوښتنه ځینې وکوله.
« یاره! دلته تهٔ څهٔ کوې؟ دا تهٔ په څهٔ ترهجن اکر کښې یې؟»
« زه دَ خپل بادار ښاغلي واندر ډېډر، چې دَ بورې نامتو کارخانه وال دی، ته کوت (انتظار) کوم.» هغهٔ تؤر هبشي داسې ځواب ورکؤ.
« دا تا سره ښاغلي واندر ډېډر دا چمونه کړي دي؟» کېندید بیا ورځخه وَ پوښتل.
هبشي په ځواب کښې ورته وَویل، « هؤ! ښاغلیه، دلته دغه دستور دی. دَ اغوستلؤ لپاره په کال کښې یو ځل له ټاټ څخه جوړ شوی چؤتی ورکول کیږي. په موږ کښې دَ هغهَ چا چې په کارخانؤکښې کار کوي چیرې دَ مشین په ژرنده کښې ګوته وَ نښلي نؤ بادران یې هغهٔ بشپړه لاس پسې ور غوځ کې. که موږ چېرته دَ تېښتې هڅه وَکوو نؤ بیا مو یوه پښته راته پرې کوي. ماته دغه دواړه پېښې راوَشوې. نؤ ښاغلیه، کومه بوره چې تاسې په یؤرپ کښې خورئ دَ هغې نرخ او بها موږ په دغه بڼه ادا کوو.
زه په خپل هیواد ګیانا کښې دَ سمندر پر څنډه خپلې ادې مؤر په پینځؤس هسپانوي پیسې وَپلؤرلم. دَ روخست پر وخت یې ماته داسې ښَیَنه (نصیحت) وَکولؤ، « زما ګرانه زؤیه! تر تا ځار شم! مننډوی اؤسه چې دَ سپینؤ بادارانؤ مریی شوې. دَ دوی څښته ډېر درناوی او ستراوی کوه. دوی به هرومرو تا خوشاله ساتي. ستا دپاره دَ سپینؤ بادارانؤ مریی کېدل لوی ویاړ دی. تهٔ به دَ خپل مؤرپلار بخت او سېر جوړونکی شې.» بیا هغهٔ ملاست مات ګوډ او کوړکېن هبشي سر وَ خوزولؤ او وَ یې ویل، « زهٔ هیڅ نهٔ شم ویلای چې ما دَ هغوی بخت او سېر جوړ کؤ او که نه. خو ډاډهٔ یم چې زما برخه لیک دوی راجوړ نهٔ کؤ. تر موږ خو هغهٔ بیزؤګیان، سپیان او تؤتیان لا ښهٔ دي. زما هالنډې بادارانؤ زهٔ خپل دین ته واړولم. هره اؤنی دَ ایتوار په ورځ دغه دَ ښَیَنې راته کوي چې سپین او تؤر واړه دَ ادم زاګهٔ (اولاد) دي. زهٔ په شجرؤ او پېړیؤ خو ښه نهٔ پوهیږم مګر دومره پوهیږم چې که دغه ملایان او ښؤونکي ریښتوني وي نؤ

www.afghanjirga.net
افغان جرګه.نېټ

بیا خو موږ ټوله پله تربوران یو. زهٔ باور لرم چي اوس به تاسي هم په دي راسره سځیږئ چي دَ خپلوانوُ په منځ کښي به داسي له ترهي او سهم ډک چلند چیري نهٔ کیږي.»
کښدید چیغه کړه، « اه! پینګلاسه! تا داسي خوږجني ناشودي او نادرې نهٔ وي لیدلي. مګر دا سوچهٔ او کرهٔ ریښتیا دي. نو زه بایدهٔ دي چي ستا دَ غلتي او هسي له له تشوُ او پوچوُ اومېدونو ډکي ښَیَني څخه نوُر ځان بېخي بېل کم.»
کاکمبوُ تپوُس وکولوُ، « دغه دَ تشوُ او پوچوُ اومیدونوُ ښَیَینه یي بیا څه وي؟»
کښدی په ځواب کښي ورته وَویل، « دا یو ډوَل سودا ده چي که یو شی نهٔ وي سم، خو بیا هم دا زباتوي چي هر څهٔ دَ خیر او ښېګړي لپاره دی او هرڅهٔ دَ ببهتری لپاره دي.» دا یي وَویل او هبشي ته یي وکتل، سترګي یي له اوښکوُ ډکي شوي او بیا دَ سرینام په لاره رهي شوُ.
هرکله چي دوی سرینام ته وَرسېدل نوُ تر هرڅهٔ لمخه یي دا پته ولګوله چي ایا په بندر کښي داسي کومه بېړی تیاره شته چي بونس ایرس ته ځي. دوی یوهٔ هسپانوي توُرن (کپیتان) سره برابر شول. هغهٔ دا وړاندیز ورته وکولوُ چي هغهٔ درې واړه یوهٔ سرای کښي سره یو ځای شي او دَ سودا په هکله به خبرې وکوي. بس نوُ کښدید او وفادار کاکمبوُ ټاکلي ځای ته وَرسېدل له خپلوُ دوؤ مېږوُ سره.
کښدید لکه تل چي څه به یي په زړهٔ ول هغهٔ به یي په خوله ول. هغهٔ هسپانوي توُرن ته یي خپله ټوُله مزل کیسه بیان کړه. دا یي هم وَ ویل چي دی دَ مېرمن کونګندې دَ ژغوُرلوُ پرین لري.
« بیا خو زهٔ تاسي هیڅکله بونس ایرس ته نهٔ وړم.» توُرن ورته وَویل. « ځکه چي مېرمن کونګنده دَ ښاغلي والي تر ټوُلوُ خوښه داشته ده. که داسي کار وکوو نوُ زموږ پای په دار ځړېدل دي، بل هیڅ نهٔ.»
دا خبره دَ کښدید لپاره یوه له هسک څخه دَ یوې ټکي په شان وه. هغهٔ تر ډېره وخته په هونګر او سلګیوُ کښي ډوب وُ. اخېر یي کاکمبوُ یوې خوا ته کوُ او ورته وَ یي ویل، « ښه نوُ ګرانه یاره! تهٔ به اوس خامخا داسي راسره کوې. موږ هر یو خپل جیبونوُ کښي دَ پیځوسوُ شپېتو لکو پونډونوُ غمي لرو. تهٔ تر ما زیاته بیدار مغز یي. تهٔ مهرباني وکوه بونس ایرس ته لاړ شه او کونګنده کابو که. که چیري والي سترې پیښولي نوُ هغهٔ ته یو لس لکه ورکه. که یي بیا هم اړي کوله نوُ شل لکه ورکه. تا څارنوال نهٔ دی وژلی. نوُ هیڅوُک شک نهٔ دربانديِ کوي. زهٔ به چېرته بله بېړی تیاره کم او وینس ته به ولاړ شم. وینس یو ازاد دولت دی هلته دَ بلغاریانوُ، اباریانوُ، یهودیانوُ او څارنوالانوُ هیڅ وېره نشته.»
کاکمبوُ دغهٔ دَ هوښیاری وړاندیز وَ منلوُ او ډېر یي وَ ستایلوُ. که څهٔ هم دَ یوهٔ ایماندار بادار څخه، چي اوس یو ببهترین دوُست ګرځېدلی وُ، هغهٔ ته دَ بېلتانه درد خوُ وُ، خو دغه خیال چي دی دَ بادار په خیزمت پسي جلا کیږي ببرته خوشاله کولوُ. دواړوُ غېږې پرله وَ غوړولي، اوښکي یي پله تویي کړې. کښدید ټینګار کولوُ چي هغه نېکه بوډۍ هیره نهٔ کي. کاکمبوُ په هم دغه ورځ رهي شوُ. څومره دروند او برمناک سړی وُ دغه کاکمبوُ.
کښدید څه وخت نوُرهم په سرینام کښي پاته شوُ چي دَ بلي بېړۍ توُرن پیدا کي چي دی او دَ دهٔ پاته دوې مېږې اټالیي ته ورسوي. هغه څه نوُکران پیدا کړل. دَ اوږدهٔ مزله لپاره یي اړین سامان پله رَاټول کوُ. اخېر کار دَ یوې لوُیي بېړی څښتن واندر ډندر راغلوُاو دَ ځان پېژندګلوي یي ورسره کوله.
کښدید تپوُس وکولوُ، « تهٔ کهما سیخ وینس ته ورسوې نوُ به څومره اخلي؟ دعه زهٔ، زما نوُکر، سامان او دغه دوې مېږی.»
توُرن وَویل، « لس زره هسپانوي روپی.»
کښدید بې پوښتني دغه وَ منلي.
توُرن واندر ډندر له ځان سره په سوُچ کښي شوُ. « پهوُ! لس زره یي سملاسي وَ منلي. دا نابلده خورا شتمن دی لکه چي»

یوه ګړۍ پسته تؤرن بیا راغلؤ او وَ یي ویل چي تر شل زره په کمه هیڅکله نۀ ځي.
« ډېره ښه خبره ده. وي دي، شل زره دي وي. » کېندید وَ ویل.
تؤرن ځان سره وَ ویل، « دورهۀ (فضل) دي وشۀ! دا سړی خو شلؤ زرؤ ته هم سملاسي تیار شؤ.»
تؤرن یو ځل بیا راغلؤ او وَ یي ویل چي تر دېرش زره به یوه پیسه هم کمه وا نۀ خلي.
کېندید وَ ویل، « سمه ده دېرش زره به دررکم.»
هالندي تؤرن بیا په زړۀ کښي وَ ویل، « دَ دي ځوان دپاره دېرش زره هم هیڅ باک نۀ لري. څه کیسه خو هرومره شته . دغه دوي مېړې هرومرو په یوه درنه خزانه باردي. اوس باید چي نؤرې چني نۀ وَوهو. دغه دېرش زره سمي دي، نؤرې به بیا ګؤرو.»
کېندید دوه کوچني غمي خرڅ کړل چي هغه وړوکی یې هم دومره بېشبها ؤ چي تر دېرش زره ډېر زیات شؤ. دواړه مېړې ببړی ته وَ خېژول شوې او کېندید خپله یوه کوچنۍ کیښتۍ کښې سپؤر شؤ چي هغي لؤیې ببړۍ ته ځان ورسوي چي لیري په ژورؤ اوبؤ کښي ولاړه وه.
هالندي تؤرن همداسي شېبه کتله. هغۀ دَ خپلې ببړۍ لنګر پورته کؤ او بادبان یې وَ غوړولؤ. باد هم له سمي خوا چلېدلؤ نؤ څکه خو ببړۍ دَ سترګؤ په رپ کښي په هوا شوه.
کېندید لالا ویرزلی، وازه خوله په ببړۍ پسي کتل. ببړۍ په یوه شېبه کښي دَ هغۀ له سترګؤ پناه شوه.
« دغه سړی خو دي خوار شي! داسي چمونه خو زموږ په هغه زړه دونیا ، یؤرپ، کښي کېدل. کېندید بیا پسي کړیکه کړه. هغۀ ډېر ویرزلی او خوابدی ببرته دَ سمندر څنډې ته ولاړؤ. دَ شلؤ باچهیؤ خزانه یې بایللي وه. ډېر ګورمجن ؤ. کېندید یوه هالندي کازي ته فریاد کولؤ لپاره رهي شؤ. دی خوار خو څه سرتاری غوندي ؤ نؤ دروازه یې څه کلکه وَ ډبوله. دننه کازي ته پېښ شؤ نؤ بیا هم ډېر په زؤټه زؤټۀ ورته ګډ شؤ . مګرا په دا ډوَل ګاېدل خو دَ نیاوتون (عدالت) بي ادبي بلل کېدله. کازي لومړی خو دی لس زره روپۍ په نیاوتون کښي دَ شؤر او ږغ کولؤ په تؤر ناغه کؤ. بیا یي دَ کېندید بیان ښۀ په غور واورېدلؤ او دا بؤل او لوَز یي ورسره وَکولؤ چي هرکله دغۀ تؤرن ببرته راغلؤ نؤ به کازي خامخا پوښتنه ګوېږنه ځیني وکوي. لس زره روپۍ نؤرې یې دَ نیاوتون لګښت ځیني واخیستلؤ. دغۀ شان چلند کېندید ببخي ترله وَ ایستلؤ. بې شکه دۀ مخکې هم ډېر له درده ډک کړاوونه لیدلي ول مګر دَ کازي بې پرواهۍ او دَ دغه تؤرن چلند خو بیا دَ دۀ زهره چاودله. دی په سختي خواشینۍ کښي ډوب ؤ. دَ ادم زات دَ خوري او خمیر بدي دۀ ته په ډېره خوړجنه بڼه ښکاره شوه. دَ هغۀ پر دماغ دَ نامېندۍ تیارې خورې شوې. اخېر کار هغۀ یوه فرانسوي ببړۍ پیدا کړه چي تیاره وه او بؤرډو ته تله. اوس خو نؤ دَ هغۀ دَ مېږؤ او غمیؤ خزانه سپکه شوې وه نؤ دَ ځان لپاره یي یو دَ ګوزارې ځای په کرایي وَ نیولؤ. په ښار کښي یي دغه ډنډؤره وَ وهله چي یو داسي سړی چي خپل ځان تر ټؤلؤ بدبخت بؤلي او ببخي له خپله ژونده بېزاره وي، هغۀ ته به دَ لارې کرایه او دوه زره نؤرې روپۍ هم ورکي چي له ځانه سره یې په مزله کښي ملګری کي. دَ ډنډؤرې پایله دا شوه چي دَ اومېندوارانؤ یو انګؤهڼ پله را بوږ (ټؤل) شؤ چي دَ ډېرؤ ببړیؤ یوې لؤیې ببړۍ هم نۀ شول ځایولای. کېندید دَ خپلې اسانۍ لپاره شل داسي کسان پکښي وَ ټاکل چي دَ دۀ په خیال څه ګډویې ول او هم هکداره ښکارېدل. دغۀ شل یې بیا سرای کښي پله یوځای کړل. ښه ډوډۍ یې ورته تیاره کړه. دا شرت یې کښېښؤد چي هر سړی به لؤړه کوي چي خپله کیسه به سپا رېښتیا بیانوي. دی به یې ګؤري چي په دوی کښي کوم یو له ژونده ډېره ګیله او فریاد لري او ځان څرنګه تر هر چا زیات بدبخته ګڼي، هغۀ به دی ګاري. دا نؤرؤ پاتؤ ته به هم څه دَ زړۀ خوشالولؤ سخ (انعام) ورکړل شي. دا ناپېښنه مېلس دَ ګهیځ تر څلؤرؤ بجؤ روان ؤ.
کېندید دَدغؤ خلګؤ سترې او ستوماني پېښي اورېدلي خو چورت یي دَ بودۍ هغې وینا ته ولاړؤ چي دَ بونس ایرس دَ مزله په وخت کښي یي دۀ ته کوله چي هغۀ شرت لګوي چي په ټؤله موسافرانؤ کښي به یو هم داسي نۀ ؤ چي هغۀ سترې بدبختی نۀ وې سهلي. هر سړی لګیا ؤ

خپل نکل کولؤ او کښندید ته به خپل اوستاز پېنګلاس ورپه یادېدلؤ او ځان سره به یې داسي سؤ چ کولؤ:
« اوس که زما اوستاز دغه کیسي اورېدلای نؤ بېخي به ګنګڅ شوی ؤ او دَ خپل لېمون (نظریې) او ګرؤهې زباتول به ورته ګران شوي ول. ارمان که دی اوس دلته وای نؤ ما به ورسره کچلې وه چي دَ هغهٔ بېهترینه شونې دونیا هیچیري نشته. هر چېري ربړونه او کړاونه دي. یو الدورادو داسي ځای دی چي هرڅه پکښي دَ بېهتری لپاره دي.» اخبر کار کښندید په ټؤلؤ کښي یو نېستمن پؤهاند غوره کؤ، چي لس کاله یې دَ اېمسترډم دَ کیتابونؤ دَ سوداګرانؤ لپاره زیار ایستلی ؤ. دَ هغهٔ دا خیال ؤ چي په دونیا کښي تر دي زیاته بل کار خواګرځي سڼ نهٔ شؤ کېدلای.
دغهٔ پؤهاند ډېر ایماندارهٔ سړی ؤ. دی خپلې ښځې شوکولی ؤ. خپل زوی ښه کلک ډبولی ؤ. خپلې لور هم دهٔ ته شا کړې وه او یوهٔ پورتګالي سر متیزه تښتېدلې وه. اوس نیژدې وخت کښي چي هغهٔ کوم دَ ګوزارې کاروبار لرلؤ له هغهٔ ځخه ایستل شوی ؤ. دَ سرینام ملایانؤ ډېر بد هکلولی ؤ. دوی پر دغهٔ پؤهاند دغه تؤر لګولؤ چي دی دَ هزرت ایسا له خدایي ځخه نټه کوي.
دغهٔ نؤر نولس اومیندواران هم دغومره بدبخته ول لکه دی مګر کښندید دغهٔ هیله وکړه چي دَ دهٔ لوی او اوږدهٔ مزله دَ کانوغي داروه یوازې همدغه پؤهاند کېدلای شي. دَ پؤهاند چوڼ په اپوټهٔ هغؤ نؤرؤ بدبختانؤ ډېر فریاد او ګیلې وکولې چي کښندید سم نیاو (انصاف) نهٔ وکولؤ، خو هغهٔ یې په سل سل روپی ترسله کړل.

نولسم ځپرکی

## کښندید او مارټین ته دَسمندر په مزلهٔ کښې څه ورپېښ شول

بس نۀ دغسي دغهٔ زوړ پۀهاند، چي مارټین نومېدلۀ، دَ کښندید سره دَ بورډو پر خوا په بېړۍ کښې سپارهٔ شول. دواړه ډېر جهان لیدلي ول. او دواړۀ ډېرې خوارۍ ګاللې وې.نۀ که دغهٔ بېړۍ دَ افریکې پر اومېد سر (head of good hope) راګرځېدلای او جاپان ته تلای نۀ هم دوی دَ دونیا دَ مادي او اخلاکي بیدیۀ ورواسه روانه ساتلای شوه.
کښندید بیا هم تر مارټین ښهٔ ۋ. یو خو دا چي اوس هم هغهٔ لا دا امېند لرلۀ چي مېرمن کونګندهې سره کېدلای شي وَ ویني. او بله دا چي اوس هم له دهٔ سره څهٔ غمي او سرهٔ زر پاته ول. اګر که دهٔ سل غټې سرې مېرې دَ نړۍ په هغه لۀیه خزانه بار بايللې وې. اګر که دَ هالنډي تۀرن بدماشي دهٔ په هېڅ تورک (ډوَل) نهٔ شوله هېرولای، خو خپلۀ درنۀ جېبونۀ او دَ کونګندې چورت بیا هم دَ خپل اوستاز پېنګلاس وَ فلسفې او لېمون ته څهٔ نا څه وراړولۀ.
دَ پۀهاند مارټیین ځخه کښندید تپۀس وکولۀ، « ښاغلیه، تهٔ ماته دا وَ وایه چي په نړۍ کښې دَ دومره ډېرې اخلاکي او جندوني (طبعي) بدۍ ولې شته؟ دَ دې په باره کښې ستا څه خیال دی؟»
مارټین په ځواب کښې ورته وَویل، « ښاغلیه، تهٔ ښهٔ خبریې چي دَ سرینام ملایانۀ خو پر ما دَ کوفر فتوا په دې وَ لګوله چي زهٔ دَ هزرت ایسا دَ خدایي له منلۀ ځخه نټه کوم. مګر رېښتیا دا دي چي زهٔ یوازې دا منم چي اینسان دَ بدۍ له ځواکونۀ رغېدلی او جۀړ شوی دی، نهٔ چي دَ نېکۍ له هغۀ.»
کښندید ورته وَ ویل، « تهٔ ټۀکې کوې. خلګ نن سبا دغسي شیان نهٔ مني. »
مارټین په ځواب کښې ورته وَ ویل، « بس زهٔ همدغسي یم. نهٔ پوهېږم چي څهٔ په وکوم، خو ګرۀهه مي دغسي ده چي درته وَ مي ویله.»
« تهٔ خو شیتان نهٔ یې خپل کړی؟» کیندید وَ پوښتل.
مارټین وَویل، « شیتان خو دَ دې نړۍ په کارونۀ کښې دومره ګوتې وهي چي کېدلای شي ښېخي یې په ما کښې دننه مېنه جۀړه کړې وي، بلکې دا کېدای شي چي په رګ رګ کښې مي مېشت وي. زهٔ خو دا هم سپین سپا منم چي هرکله زهٔ دَ دې ګۀل نړۍ لنداره وکوم او جاج یې واخلمنۀ وچ کلک دې پایلې ته وَ رسېږم چي خدای پاک دغه زموږ دونیا یوه شیتاني ځواک لره خوشې ور پرې ښې ده، مګر پرته له یوهٔ ځایه ، چي هغهٔ الدورادو دی. ما خو پخپله یو هم داسي ښار نهٔ دی لیدلی چي دَ خپل ګاونډي ښار تباهي او بربادي نهٔ غواړي. داسي یوه کۀرنۍ مي نهٔ ده لیدلې چي دَ بلې کۀرنۍ بېخ ایستلۀ نهٔ وي چمتو. تهٔ وینې چي کمزوران دَ زۀرَورۀ ځخه سخته کرکه کوي اوهم دوی ته سرکوزي کېږي. او زۀرَور بیا کمزۀري داسي شیان ګڼي لکه مېږې، چي غوښې او وړۍ یې دَ سوداګر مال دی. په لکونۀ وژونکي په پوځي وردیۀ کښې سم په کتارونۀ کښې برچه پګ دَ یۀرپ له یوهٔ سره تر بله سره را اېله دي. ګوزاره یې څه ده؟ هېڅ ایمانداره رۀزګار او خواري خو دوی نهٔ کوي. دَ یوهٔ لوی او ځواکمن سموند (نظام) لاندي مرګونه او غلا کوي. دغه دَ دوی ګوزاره ده، بلکې ویاړ کوي چي دوی سپایان دي. کومۀ هیوادونۀ کښې چي امن دی ، جنګ نشته او هونر او فن مخ پر وړاندي وده کوي، هلته بیا اینسانان دَ تېکیر، خپلچارکۍ، غمونۀ، ګورم او پرېشانیۀ له لاسه دومره خوار او ستۀمانه دي چي تر جنګ زپلیۀ خلګۀ هم زیات په کړاو کښې دي. ځکه چي پټ غم او ګورم خو تر ښرګند ربړ او کړاو زیاته خرابي پېښوي. لنډه دا چي ما څومره بدۍ لیدلې او ښنلې دي نۀ دَ هغۀ پر بنسټ دا وایم چي دَ اینسان په خټه خَوري او سربښت کښې بدۍ اخښلې شوې دي. » کښندی وَ ویل
« کېدلای شي چي وي. مګر ماته چېري په مخه نهٔ دی راغلی.» مارټین وَ ویل.

دوی په دغه وراسه اخته ول چي دَ تؤپونؤ دِزَهار شؤ او دا رِغ ګړی په ګړی زیاتېدلؤ. دَ بېړی له دوربين څخه دا جوته شوه چي درې ميله هؤرته دوې بېړی پله په جنګ وې. دغهٔ وخت توند باد دا دواړه بېړی فرانسيسي بېړی ته دومره رانيژدې کړې چي موسرافرانؤ مخامخ دغه جنګ په مزه کتلای شؤ. اخېر کار دغه يوې پر هغه بله داسي زؤرَور اړخيز دِز وکولؤ چي په ځای پر ځای يې په اوبؤ کښې لاهو کړه. کېنديد او مارټين دَ هغې بېړی پر تخته نيژدې سل کسان څرګند ليدل چي دواړه لاسونه يې هسک اسمان ته پورته کړيول، سخته دردمني چيغې يې وهلې او په دغه اکر کښې سمندر تېر کړل.
« اوس خو دي وَ ليدل چي ادم زات يو بل سره څرنګه چلند کوي.» مارټين وَويل.
« دا خو ريښتيا شيتاني کړني دي.» کېنديد ځواب ورکؤ.
دوی پله رِغېدل اوکېنديد په اوبؤ کښې يو تک سور بريښنده شی وَ ليدلؤ چي دَ دوی بېړی سره نيژدې يې لامبؤ وهله. يوه کوچنی کيښتی يې ورشېوه کړه چي پته وَ لګوي. چي له اوبؤ يې وَ کيښتی ته هغهٔ شی راپورته کؤ نؤ هغهٔ دَ کېنديد سره مېږه وه. کېنديدَ دغې يوې مېږې په بېرته موندلؤدومره خوشاله شؤ چي دَ هغؤ نؤرؤ سلؤ مېږؤ، چي دَ الدورادؤ په غټؤ غميؤ بار وې، دَ ورَکېدلؤ تؤل وير يې هېر شؤ. دَ کېنديد فرانيسيئ کپيتان خبرورکؤ چي دا بريالی بېړه هسپانوی وه او کوم تؤرن چي ماتيې وَ خوړله هغهٔ هالندې ؤ. دغه کتمټ هغهٔ شيتان هالندی تورن ؤ چي کېنديد يې شوکولی ؤ. اوس له هغې درني خزاني سره يو ځای په سمندر کښې لاهو شؤ. يوازې دغه يوه سره مېږه بچ شوه.
کېنديد مارټين ته وَويل، « تهٔ ګؤره، ګله ګله ګرَم (مجرم) ته سزا هم وَ رسيږي. ګله دغه هالندی تؤرن، چي څه په کار ول هغه ورسره وَ شول. »
مارټين وَ ويل، « هؤ! دا خو ده. مګر هغه نؤر بې ګناه موسافران ولې ډوب شول؟ خدای خو دهٔ ته سزا ورکړه، مګر شيتان هغه نؤر هم پسې ورډوب لاهو کړل.»
فرانسوي او هسپانوي بېړی بېرته په خپل سفر رواني شوې. کېنديد له مارټين سره په ريښتينؤ او ورسي اخته لګيا شؤ. برابر دوې اؤنی دوی په دغؤ ريښتينؤ (بحث) تېرې کړې. خو اوس هم لا پرهغهٔ ځای ول چېرته چي لومړی ورځ ول. په هردوَل، يوهٔ بل ته رِغېدل او خپل چورتونه او نهيرونه څرګندول او يوهٔ بل ته له ترسلې ورکولؤ يې ښهٔ خوند هم اخيستلؤ. کېنديد پر خپله مېږ لاس تېر کؤ او وَ يې ويل، « لکه تهٔ چي مي وَ موندلې، باور لرم چي خپله کونګندهه به هم بېرته پيدا کم.»

# کېندید او مارټین ته په فرانس کښې څۀ څۀ ورپېښ شول

اخېر کار دَ اوږدۀ سمندري مزلۀ پس دَ فرانس ځنده ښکاره شوه.
« تۀ چېرې فرانس ته تللی يې؟» کېنډيد تپوس وَ کولو.
« هو» مارټين وَ ويل، « زۀ دَ فرانس په بېشترو سوبو کښې گرځېدلی يم. دَ ځينو سوبو رؤغه نيمی اولس سوچه باځاران (بې عقلان) دي او دَ ځينو خلک بيا چالاکان دي. دَ ځينو سيمو خلک يې سادۀ بؤتلان دي او ځينه بيا داسې دي چې ځانه يې چالاک او ټوکي تراشلی وي. خو په فرانس کښې که تۀ هرچېرې ولاړ شې نو دابه وَوينې چې درې خويونه په گردو کښې شريک دي. او هغه مينه او مېنتوب، چوغل خوري او پوچ زغېدل دي. فرانسويان بېمانا ږغېدا کښې ساری نۀ لري.»
« مگر پاريس کښې هم بلد يې؟» کېنډيد وَ پوښتل.
« هو خوَد»مارټين وَ ويل، « زۀ پاريس کښې ډېر ښۀ بلد يم. هلته دَ خلکو هره بېلګه شته. دَ گڼو خلکوټيوانګوهڼ دی. يوه هله گوله او ورکه ويران ورځ ده. ټول په مزانو او خوند پسې منډې وهي او يو يې هم نۀ شي پيدا کولای. کم تر کمه ماته خو داسې ښکارېدل. زۀ هلته لږ وخت تم شوم. هلته د رسېدلو سره سم دَ سېنټ جرمين په مېله کښې گنډکپانو زما جېب وَ وهلو او زما ټوله ټوبنه يې وَ شوکوله. خو جېل ته يې زۀ په دې شک واچولم چې زۀ وهونکی يم. اته شپې مې زيندان کښې وشوې. له زيندانه چې ابله شوم نو دَ کيتابو يو خوَرونکي سره نوکر شوم. ما ښۀ کښل (کتابت) کول. ابله دومره مې وَکټل چې ببرته هالنډ ته دَ پيادۀ سفر خرڅ مې وَ شؤ. په دغه وخت کښې ماته دَ پاريس بدماشان، تنگ نظره مزهبي لېونيان او ډوَل ډوَل پساتيان ټول را مالوم شول. خلک وايي چې ځينه دَ پاريس خلک په کړو وړو او ښه خوی نامتو دي، خو ارمان که ما هم چېري دغسې خلک ليدلي وای.»
کېنديد ورته وَ ويل، « زما خو پخپله دَ فرانس دَ کتلو هيڅ هوس نشته. تۀ پخپله اندازه کولای شې چې څوک په الدورادو کښې يوه مياشت وَ اؤسي نو بيا دَ دونيا يو ځای او يو شی هم خوند نۀ ورکوي بې دَ مېرمن کونگنډې دَ ليدلو. زما خو دغه خوښه ده چې فرانس ځخه ايټاليې ته واوړم او هلته وينس کښې دې ته کوت (انتظار) وکوم. ستا څرنگه خوښه ده؟ ما سره ملگرتيا کوې که نه؟
« هو خوَد» مارټين وَ ويل، « خلک وايي چې وينس يوازې دَ هغۀ ځای دَ شتمنو سردارانو لپاره ښۀ دی. خو بلجايگۀ او اوپرۀ خلکو ته هم ښۀ تؤد هرکلی کيږي که چيري هغوی ښۀ شتمن وي. زۀ پخپله خو هيڅ نۀ لرم مگر تۀ بيا هم ښۀ ډېر څۀ لرې. نو زۀ په تا پسې يم چې تۀ هر چيري ستا خوښه وي.»
کېنديد وَ ويل، « دا خو وشوه. له دې سره ماته دا وَ وايه چې هغۀ دَ تؤرن (کپيتان) کيتاب کښې ليکلي ول چې په لومړي سر کښې زموږ نړۍ ټوله اوبه اوبه وه. ستا دې باره کښې څه خيال دی؟»
« دغه خبره او نؤر دغه ډوَل اوتر شيان چې کله کله خوريږي زۀ يې پخپله هيڅکله نۀ منم» مارټين وَ ويل.
« بيا نؤ دغه زموږ نړۍ دَ څه لپاره جوړه شوې وه؟ » کېنديد وَ پوښتل.
« دَ دې لپاره چې موږ پکښې لېونيان کې.» مارټين ځواب ورکړو.
«دَ هغۇ دوؤ اوريلوني نجونؤ ، چې له بيزوگانؤ سره يې مينه کوله، نکل ما تاته وکولۆ. ستا ياد دي؟ څرنگه نادره نۀ درته ښکاري؟» کېنديد مخکښې وَ ويل.

« نهٔهیڅکله نه، دا مینه ماته هیڅ نادره نهٔ ښکاري. ما پخپله دومره نادره شیان لیدلي دي چي اوس هیڅ شی هم نادره نهٔ راته ایسي.» مارټین وَ ویل.
« ستا څه خیال دی؟» کېندید وَ ویل. « ایا اینسانانو همېشه داسي یو بل پله سټ کړي دي لکه دا اوس چي یې کوي؟ ایا دوی همېشه دغسي دروغژن، ټګان، بې ایمانه، بې وفا، غلهٔ، کمزوري او بې هیمته شیان اؤسېدلي دي؟ ایا دوی همېشه دغسي لالچیان شیتانان، چوغل خوره، خونخوره، کاسیران، هرامخواران، مونافیکان، تنګلیدي، باڅاران اؤسېدلي دي لکه دا اوس چي دي؟»
مارټن وَ ویل، « ستا څهٔ خیال دی چي بازانو چي هرکله کوتره پیدا شوې ده نو هغوی همېشه خوړلي ده که نه؟»
« بېشکه زما همدغه خیال دی» کېندید وَویل.
مارټین وَ ویل، « ښه، نو که دَ بازانو خوی تل تر تله یو ډَوَل پاته شوی دی نو بیا دوی ولي داسي هیله کوي چي دَ اینسانانو به خپل خوی بدل کړی وي.»
« اوهو! په باز او اینسان کښي خو ډېر توپیر دی. اینسان واک او اختیار لري................ کېندید وَ ویل. دوی لا په همدغه وراسه اخته ول چي بېړی بوردو ته وَ رسېدله.

# کېنديد او مارټين ته فرانس کښې څه پېښې وروَشوې؟

کېنديد په بورډو کښې يوازي دومره ټېک شؤ چي خپل دَ الدورادؤ څه کاڼي خرڅ کي اوځانته دَ دوؤ چوکيؤ يوه ښايسته بگۍ واخلي. دوهٔ چوکۍ په دې چي اوس دهٔ ته دَ هغهٔ فلسفي مارټين بېلول ببخي گران شوي ول. يک يوهٔ شي چي پرېشانه کولؤ هغهٔ دَ خپلي سرې بېلتون ؤ. دهٔ هغه دَ بورډو ساينس لوستون (اکاډمي) ته پرېښؤدله. لوستون دَ خپلي کلنۍ څېړني لپاره دا ټکی وټاکلؤ چي دَ دغي مېږې وړې ولي سرې دي؟ په په دغه کلنۍ څېړني کښې چي کوم سخه (انعام) ورکول کېدلؤ هغهٔ يوهٔ شمالي پؤهندوی ته ورکول شؤ. هغهٔ په يوې فارمولې ا+ب ــ س دا وَ زباتله چي دا مېږ هرومرو بايد سره وي او بايد چي دَ ځيگر له رنځه وَ مري.

په لاره کښې په ټؤلؤ سرايونؤ کښې چي کوم خلگ هغهٔ وَليدل هغوی دَ پاريس پر خوا روان ول. دا دومره پراخ هوَس چي هغهٔ وَليدلؤ نؤ پخپله يې هم دا پرېکړه وَکوله چي دغه پلازمېنه وَگورې او بل دا چي دَ وينس په لاره کښې وه.

دی دَ مارسيؤلي په سيمه کښې ښار ته ورگډ شؤ. داسي ورته برېښېدله لکه چي دَ ويسټفاليا په يوه ببخي خيرن اوخوړجن کلي کښې چي گرځېدلؤ.

ايله چي هؤټل ته وَرسېدل نؤ کېنديد دَ سفر دَ ستومانيؤ له لاسه لږ ناروغ شؤ. دَ دهٔ په سامان کښې يوه درنه دَ نغدې پيټۍ هر چا ليدله او دَ دهٔ په گوته کښې ببخي غټ غمی هر څؤک دَ دهٔ خوا ته ورڅکولؤ. سملاسي دوهٔ درمانگر، چي دهٔ پخپله نهٔ ول راغوښتي، دَ درملنې لپاره را دوڅار شول. څه داسي ياران هم راپيدا شول چي دی يې هيڅکله يوازي نهٔ پرېښؤدلؤ. دوې خدايي خيزمتگارې مېرمني هم راوَرسېدلي چي دَ دهٔ ښؤروا او کټغ يې برابرولؤ. مارټين پر دې داسي وراسه وکوله. « ماته پخپله دَ پاريس دَ لومړی پلا ناروغي را په ياد شوه. خو زهٔ خښته نبستمن وم نؤ نهٔ څؤک خوارهٔ ياران ول او نهٔ مهربانه مېرمني او درمانگران. زه خو ډېر ژر پخپله وَ رغېدلم. »

دَ ډېرؤ داروگانؤ او رگ وهلؤ له لاسه دَ کېنديد نارؤغي نؤره سخته شوه. دَ هغهٔ ځای پادري هم راغلؤ او ښه په درناوي يې ورته وَويل، « دَ خپلؤ گناهونؤ منېته (اعتراف) چي چا ته کوې له هغهٔ څخه ليکلې پروانه په هغهٔ بل جهان کښې ډېره پکارېږي. دا مهٔ هېروه.»

کېنديد چي څومره ببزاري له دغي سودا ښکاروله، خو هغؤ دوؤ مېرمنؤ دا ټينگه کوله چي دغه يو نوی اړين دؤد دی. کېنديد وَويل هغهٔ نوي دؤدونه او لارې چورلټ نهٔ مني. مارټين پادري ته دړکه وکړه چي دَ کيرکۍ دباندي به دي غوځار کم. پادري له خپلي خوا وَ لؤړل چي، « خدای ږو که کېنديد ښخ کو!» مارټين هم ورته وَ لؤړل، « پادرې! که مو نؤر تنگوې نؤ زه خو تا ژوندی ښخوم»

خبرې يې نؤرې پله تودې شوې او مارټين پادري په زؤره وَ ايستلؤ. دا يوه لؤيه گرمه وَ بلل شوه او نياوتون (عدالت) کښې دنگله چالانه شوه.

ورؤ ورؤ کېنديد رغېدلؤ. ماښام له به دَ هغهٔ ځای هوسناک شتمن مشران دَ دهٔ مېلمانه ول او بيا به دَ پټؤ (تاش) په دنگؤ داوونؤ اخته شول. کېنديد به کله هم خپل لاس کښې يکه نهٔ ليدله او هيران به ؤ خو مارټين نهٔ هيرانېدلؤ.

کوم چا چي کېنديد ته دَ ښار دَ لنداري وړ ځايونه ورښکاره کول او دَ دهٔ لاربښوَنه يې کوله په دغؤ کښې يو وړوکی، ډنگرلغ کوچنی پادري هم ؤ. ډېر زړهٔ ور، کمينه او څالاک ؤ. خو پخپله مخه کښې بيا هم گټور ؤ. دا دَ هغؤ مشرؤټانؤ څخه ؤ چي دَ پاريس ښار نادرې پېښې يې بيانولې او هم به يې په هر ډوَل چي ؤ دَ خوند او رنگ برابرولؤ دنده پر غاړه اخيستله. دغهٔ سړی تر

هر څه لمخه کېنديد او مارټين يوه لندارتون ته بوتلو چيري چي يوه نوې وېرنه (ټرېجډي) ښودل کېدله. کېنديد دَ څه ځالاکو او ځکښاندو کسانو په ميځ کښي ناست و. خو بيا هم چي هرکله دهٔ په کيسه کښي دَ اداکارۍ ښکلي لنداريِ وَ ليدلې نو يې بېواکه وَ ژړل. دَ کېنديد پر څنګ يوه سړي دَ دمي (وقفي) په وخت کښي دهٔ ته مخ راواړولو او ورته وَ يې ويل، «ښاغليه، ستا ژړا خو بېځي بېځايه ده. دا اداکاره خو بخېي بېکاره ده، او هغهٔ اداکار بيا تر هغې هم بدتر دی. او کيسه بيا تر اداکارانو لا هم بدترينه ده. مځکه او اوبجه دَ اربيستان ښکاروي مګر ليکوال پخپله دَ اربی ژبي پر يوهٔ ټکي هم نهٔ پوهيږي. برسېره پر دې دا ليکوال جندوني (فطري) خيالان نهٔ مني. سبا به زهٔ تا لره شل نيوکي دَ دغهٔ ليکوال دَ کيتاب په باره کښي راوړم.»

کېنديد کوچني پادري ته مخ وروګرځولو او تپوس يې ورڅخه وَکولو،

«په فرانسوي ژبې کښي څومره ډرامې ليکل شوې دي؟»

«نيژدې پينځه شپږ زره» پادري ځواب ورکو.

« دا خو بېځي ډېرې دي. څو به په دغو کښي ښې وي؟»

«پينځلس يا شپاړس» هغهٔ بل ځواب ورکو.

« دا خو بېځي ډېرې دي» مارټين وَ ويل.

کېنديد ته دَ يوې اداکارې پېښو خوند ورکو ، هغې دَ الزيبتي رانۍ دَ يوې بې چمه وېرنې پېښي کولې.

هغهٔ مارټين ته وَ ويل، « دا اداکاره خورا کشش لري. ماته يې خپله مېرمن کونګنده را په ياد کړه. زهٔ غواړم چي دې ته خپله سامانه او درناوی بېش کم.»

کوچني پادري وړانديز وکولو چي دَ هغې په کوَر کښي به دهٔ سره د دې اداکارې پېژندګلوي وَ کوي.

دَ کېنديد ساتنه او روزنه په جرمني کښي شوې وه ، نو دَ فرانس دَ دوُدونو اوخوی په باره کښي يې تپوسونه وکول چي دغه ډوَل رانيانو سره څنګه چلند کيږي.

پادري وَويل، « چلند په ځای پوري اړه لري. په ولايتونو کښي خلک دوی سرايونو ته بيايي. دلته په پاريس کښي ترڅو چي دوی لا ښايستې وي نو ډېر درناوی يې کيږي، خوکله چي مړې شي نو پر يوهٔ ډېران يې وَ غورزوي.

« نادره ده، رانياني پر ډېران غورزوي.»، کېنديد وَ پوښتل.

مارټين وَويل، « هوْ خوَدا! زموږ يار سم وايي. پر ډېران باندې. زه په پاريس کښي وم چي مونيما مسکيني له دې دونيا اخيرت ته کوَچ وَکولو. دَ سمي جنازې او کفن ايجازت يې ور نهٔ کو او چېرته ليري دَ نوَرو نېستمنو سوالګرو سره يې يوه مرداره هديره کښي ورستېدلو لره واچوله. دا خواره ښه دَ اوچت خوند او هوس خاونده وه، نو له دغهٔ شان چلنده به ډېر تکان ورته رسېدلی وي.»

کېنديد وَويل، « مګر ريښتيا دا دي چي دا يو ډېر ناوړه چلند وْ.»

مارټين وَويل، « دا يو ناپريت او بېشمره کام دی. تهٔ دوی څخه بل ډوَل امېند لې لرې؟ دَ دوی سرکار، نياوتون او ګيرجه ټوَل دَ ټکرونو او بې لاريو ببلګې دي. دَ ټوَل کام ژوند ژواک يې بېدرګه دی.»

« ايا دا ريښتيا ده چي دَ پاريس خلک هر وخت په خندا وي؟»، کېنديد تپوس وکولو.

پادري وَ ويل، « هوْ! خاندي خو، مګر دَ پرېشانۍ او ستوْمانۍ له لاسه. دوی هروخت له هرڅه څخه فريادونه په کړس کړس خندا کښي بيانوي. او هرڅومره خوړجن ګوناهونه چي کوي نو هغهٔ وخت لا هم په خندا وي.»

کېنديد وَ ويل، « هغهٔ مېره څوَک وْ چي خامخا يې پر ډرامې سختې نيوکې کولې، سره له چي زما اداکاران ډېر خوښ شول او ښه په مزه مي وَژړل.»

« هغهٔ مازي يو بددماغه سړی دی چي دَ هري ډرامي او کيتاب غندنه کوي. هغهٔ له هربريالي کيتاب او ليکوال څخه کرکه کوي، بس داسي لکه نامرد چي يي له مېړنو څخه کوي. هغهٔ دَ ليک او ادب له هغو مارانو څخه دی چي پر خپلو زهرو پايي. پاړکی بازي کوي او په دغه خپله روزي ګټي.»
« پاړکي بازي څرنګه شی وي؟» کېنديد وَ پوښتل.
« يو خبريال چي هسي دَ کاغزو سودا کوي.» پادري وَ ويل.
کېنديد په دغه ډوَل خبرو مارتين او پادري سره اخته ؤ او په پوړيو کښي ولاړ هغه لندارچيان يي کتل چي ډله ډله روان ول.
« اګر که زه بيا هم ارزومند يم چي مېرمن کونګندي سره يو ځل بيا وَ وينم. خو دا وخت مي زړه دا غواړي چي مادام کلېيَر سره مېلمه شم ځکه چي دَ هغي ادارکرۍ زما چورت وَ نيولۏ.»
ځله چي مادام کلېيَر په بېهترينه ټوُلنه کښي ګرځېدلي ده نو دا کوچنی پادري دَ هغي دَ پېژندګلوي لپاره برابر سړی نهٔ ؤ.»
« هغه خو نن ماښام بوخته ده» پادري وَ ويل. «مګر ماته ايجازت راکه چي زهٔ تا دَ څه داسي ځانګړتيا يوې مېرمني ته ورپېښ کم چي دَ هغي په کوَر کښي ته دَ پاريس دَ ژوند دَ څلوَرو کلونو تجربه په يوې شپېي کښي وَ ويني.»
کېنديد چي په خوی يو پلټونکی مګر منونکی کس ؤ له پادري سره دَ دغي ځانګړني ښېښتني مادامي کوَر ته ولاړۏ. هلته يي دوؤلس کسان وَليدل چي په جواري اخته ول. دَ هر يوهٔ لاس کښي دَ تاش يو بنډل ؤ. دَ پانو څنډې دومره مروَړل شوې وې چي دَ خپلو بدبختيو تاو يي لکه چي هم دلته ښکاره کړی وي. ژوره خاموشي خوره وه چي دَ جوارګرو بې نوره مخونه او دَ بانکوالو پرېشاني له ورايه څرګندوله. دَ کوَر مېرمني دَ ناترسه بانکوال پر څنګ ناسته وه. دَ دې روَې سترګي په دوچندو داونو کښي ښخي وې او دَ جوارګرو خوا ته به يي هم کله نرم نرم او کله بيا ځيرهٔ ځيرهٔ کاتهٔ کول. چي سوداګر نهٔ ؤ بايللي دې ځانته دَ نواب بېګم دوه ګون داوې نوم غوره کړی ؤ. دَ بېګمي پينځلس کلنه لور دَ جوارګرو سره ناسته وه. او کله چي به کوم جوارګر خوار دَ خپل بدبختی دَ مخنيوي لپاره دَ څهٔ چل دؤکي هڅه کوله نو دې پېغلي به سترګه ورته وهله. کوم وخت چي پادري، کېنديد او مارتين خوني ته ورګډ شول، هيڅوک دوی ته پا نهٔ سيدل. دومره په خپله لوُبه کښي بوخت ول چي هډو چورت يي نهٔ پکښي وهلۏ.
کېنديد وَ ويل، « دَ تېنډرترانخ دَ نواب بېګمي خوی خو تر دې ډېر غوره ؤ. »
خو پادري دَ بېګمي په غوږ کښي څه وَويل، هغه پر خپل ځای پاسېدله او کېنديد ته يي په درنه خندا هرکلی وَ ويلۏ او مارتين ته يي هم سر وَ خوزولۏ. کېنديد ته يي يو ځای ور وَ ښوؤدلۏ او تاش يي په لاس کښي ورکۏ. کېنديد په دوه لاسه کښي پنځوُس زره فرانکه وَ بايلل. دَ دې پېښي پسته ټوُله دَ خوؤلو لپاره ښه په خوشالی پله ولاړ شول. هر څوک هيران ول چي کېنديد پخپل تاوان کښي هيڅ چورت نهٔ وهلۏ.
نوُکرانو پخپله ځانګړې او جلا ژبې پل ويل، « دا به هرومر څوک انګرېز لاټ وي.»
په ډوډۍ ، لکه ښېشتره ډوډياني چي وي، په لومړي سر کښي خو چوپه چوپتيا وه، بيا پسي څه بې مانا بڼ بڼ پيل شوُ، بيا پسي څه دَ هوُشياری ګايونه ول چي زياتره پکښي بېخونده ول. دَ بدماشی ګايونه او څهٔ غلتي دليل بازی هو وَ شوي. لږ کوتي دَ سياست په باره کښي مګر زياتره له شرمه ډکي کيسي بيان شوي. دَ څهٔ نويو کيتابونو يادونه هم پکښي وشوه.
« تاسي چيري دَ ډاکټر ګاشت هغهٔ ناول ليدلی دی؟» پادري وَ پوښتل. له مېلمنو څخه يوه وَ ويل، « هوُ ليدلی خو مي دی خو تمام کړی مي نهٔ دی. نن سبا ډېر بې مانا شيان خوريږي. مګر يو هم دَ ډاکټر ګاشت بدتميزۍ ته نهٔ شي رسېدلای. زهٔ نن سبا دَ بېخوندو کيتابو له توپانه دومره تنګ شوی يم چي دَ تاش له پانو سره مي لوُبې شورو کړې دي.»
« او دَ اوسکوف تې دَ ليکنو په باره کښي دي څه خيال دی؟» پادري وَ پوښتل.

دوډدایځي میرمني وَ ویل، « او هؤ! هغهٔ خو سخته غمېدلی باځار دی. په ډېر کړاو وراسه کوي. هرڅوک پر هغهٔ پوه دی. کوم شیان چي په هیڅ هم نهٔ ارزي په هغؤ دومره درني چیړني کوي. هر وخت له نؤرؤ خلکؤ دَ هوښیاری غلا کوي او هم په دغه کار کښې خپل ګودر ځیني ختا شي. هغه غلا هم ځیني خوړجنه شي. زما خو ډېره کرکه ځیني کیږي. هیڅوک دا اوسکوف دا بیخرته ډېرې پانې نهٔ شي لوستلای.»

مېز ته یو دَ څه پؤهي او هونر ځینتن هم ناست ؤ. هغهٔ دَ نواب بېګمې ملاتړ او لؤرینه وکوله. بیا پر وېرنه (تریجدي) باندي چیړنه پیل شوه. بېګمې تپؤس وکولؤ چي څه سوَب دی چي داسي وېرني هم لیکل کیږي چي هیڅوک یې لوستل نه شي سهلای. هغهٔ پؤه سړي داسي پاکه سپا ورته سیړله چي څرنګه یو کیسه دَ اداکاری په وخت دَ ګنؤ لندارچیانؤ دَ تپاک سوب شي مګر په رېښتیا په هغې کښې کومه داسي ځانګړنه نهٔ وي. هغهٔ په لړو تؤرؤ کښې دا وَزباتله چي دا بس نهٔ ده چي یو ناول ځخه یو یا دوهٔ داسي لنداري راوخیستل شي چي هغهٔ هرکله هرومرو په انګؤهن (ډله) اغېز کوي. دوګایه (dialogue) لیکونکی پکار ده چي داسي تازه خیالونه او نهیرونه وَ لري چي تش هوایي نهٔ وي ، بلکي هغه بایدهٔ دي چي له هسکه سره بلوسي او هم پکار ده چي جندوني (natural) وي. هغه پکار ده چي په اینساني زړهٔ ښهٔ پؤه وي او وَ یې ړغوي. هغه پکار ده چي شایر وي خو خپل کیردارونه دَ شایر غوندي پېښ نهٔ کي. دَ هغهٔ دي ژبه پوره زده وي او پاکه او په سور کښې دي یې ویلای شي. خو بیا هم چي دَ ردیف او کافیې اړتیا وَ نهٔ لري.

«کوم څوک چي دَ دغؤ بنستونؤ اپوته کار کوي»، هغهٔ پسې اوږده کړه، « کېدای شي یو دوهٔ داسي وېرني وَ هم لیکي چي په لندارتون کښې یې ستاینه وَ شي. مګر هغهٔ به کله هم یو ښه لیکوال وَ نهٔ بلل شي. ښې وېرني بېخي کمې دي. څه پکښې خورا دَ ګوزارې دي او پخپل ډوَل او تؤکه ښې لیکل شوې دي. څه پکښې له داسي سیاسي دلیل بازی ډکې دي چي پر موږ غمیږي او خؤب راولي. څه بیا دَ ساده ټکیؤ خواګرځني شانته لوړې لوړې سیړني دي. څه بیا دَ لبوني دَ خؤب غوندي بېلګامه وي چي په ډېر شډل او شېر ډوَل لیکل شوې وي. ډېوتاګانؤ ته ساماني ښکاري. اینسانانؤ ته یې دَ ړغېدلؤ چم زده دی چي سرلوَړ اسمان ته پسې ورتېر شؤ بېمغزه پوچه کوي، لیدهٔ کاتهٔ یې بېخي غلت وي، او هسي غمېدونکې خبرې کوي.»

کېندید دغه لوړه وینا په ښه غور واورېدله او دَ ویونکي باره کښې یې ښه اوچته رایه جوړه شوه. لکه څنګه دی دَ نواب بېګمې په څنګ ناست ؤ، نؤ ورؤ شانته یې دَ هغې په غوږ کښې دَ دغه سړي تپؤس وکولؤ چي دومره ښه وینا یې وکوله.

مېرمني وَ ویل، « دا یو پؤهندوی دی چي هیڅکله جواري نهٔ کوي. پادري یې کله کله ډوډۍ خوړلؤ له راولي. وېرني او نؤر کیتابونؤ یې خورا ښه لوستلي دي. پخپله یې هم یوه وېرنه لیکلې ده خو هرکله چي لندارتون کښې یې اداکاري وَ شوه، نؤ غندنه یې وَشوه. یو کیتاب یې هم لیکلی دی چي دَ خورونکي دَ دوکان ځخه بهر یې یوه دانه هم چا نهٔ ده لیدلې. پرته له هغې یوې داني چي ماته یې رااستولي وه او ترون یې زما په نامه پوري کړی ؤ.»

« ښیشکه یو لوی سړی دی.» کېندید وَ ویل، « دا خو یو بل پینګلاس شؤ.»

بیا کېندید هغهٔ ته مخ وراړؤلؤ او وَ یې ویل، « باور لرم چي ستاسي دا ګرؤهه ده چي په مادي او اخلاکي دونیا کښې هرڅه دَ ښېګړې او ښمَر لپاره دي او شیان چي څرنګه دي همداسي دي، په بل ډوَل هډؤ کېدلای نهٔ شول.»

پؤهندوی ځواب ورکؤ، « زهٔ پخپله هیڅ دا ډوَل لیمون نهٔ لرم. بلکي زهٔ وینم چي زموږ هرڅهٔ غلت دي. هیڅوک په تؤلنه کښې خپل سم ځای او ځایګی نهٔ پیژني. نهٔ سم روزګار پیژني. پرته له دې چي دَ ډوډۍ او مېلمستیا پر وخت چي چېرته څه دَ یوې تبې یاران راغوند نؤ هلته بیا څهٔ ژوند هم ښکاري. کني هسې خو زموږ بېشتره وخت په بېمانا او بېموخؤ شخړؤ، مرنؤ او دنګلؤ کښې تېر شي. یوه دیني ډله دَ بلې دیني ډلې اپوته، لوی کاروباریان دَ ګرد اولس په چپه، ښځې

د مېړونو په ټکر، خپلوان دَ خپلوانو سره په جنګ، ریښتیا خو دا دي چي یوه همېشنی او پرلپسي کورنی جګړه لګیا ده روانه ده.»
« ما تر دې هم بدترې لیدلي دي. » کېندید ځواب ورکړ. « مګر یوهٔ سړي، چی له بدهٔ مرغهٔ تېزندی شو، ماته داسي ښَیَنه کوله چي په هر څهٔ کښي یو نادره برابري او تړوله شته. دا خو په یوهٔ ښایسته انځور کښي دَ سیاهی کرښي دي، او بس.»
«ستا له پانسی شوي یار سره خو دونیا خپلي ټوکي وَکولي»، مارتین وَویل، « په انځور کښي چي دَ کومو کرښو او سوریو خبره تهٔ کوې، هغهٔ سوري دي بلکي ډېر ناوړه کرغېړن داغونه دي.»
«داغونه خو اینسانان جوړوي او هغهٔ خوار خو اړ دی بل ډول نهٔ شي کولای.» کېندید وَ ویل.
«نو که داسي وي، بیا خو دوی بې ګوناه دي.» مارتین وَ ویل.
بېشتره جوارګر دَ دوی په ریښتینو او ورَسي نهٔ پوهېدل، بس خپل شراب یې پسې چیښل.
مارتین او هغهٔ پوهندوی په ریښتینو اخته ول او کېندید بیا له کوړمېرمني سره څه دَ سفر پر کیسو ږغېدلو.
دَ ډوډی خوړلو پس مېرمني کېندید ځاني خوني ته بوتلو او هلته یي وَ یوهٔ پالنګ ته ورسم کړ.
« ښه، نو تهٔ تر اوُسه لا مېرمن کونګنډي سره مینه لرې؟» بېګمي وَ پوښتل.
«هو! لرم خو یي مېرمني» کېندید ځواب ورکړ.
نواب بېګمي په ډېره نازکه خندا کښي ورته وَ ویل، « تهٔ خو داسي خبري کوې لکه دَ وېستفالیا یو ځوان. که ستا پر ځای کوم فرانسوی ځوان وای نو هغهٔ به داسي ویل، « دا ریښتیا ده چي یو وخت ما مېرمن کونګنډې سره مینه لرله. خو کله چي ما تهٔ وَ لیدلېاوس وینم چي هغې سره مي نوُره مینه نهٔ شوه پاته.»
« ډېر ښه! مېرمني زهٔ به هغسي ځواب وَ وایم چي ستا خوښ وي» کېندید وَ ویل.
« ستا هوَس او تپاک هغه وخت راپورته شو کله چي تا دَ کونګنډي دسمال له مځکي راپورته کړ. اوس مهرباني وکوه او زما مو‌زه بند راواخله.»
« په ډېره مینه» کېندید ځواب وَ ویل ان هغهٔ یي راواخیستلو.
نواب بېګمي بیا غوښتنه وکوله، « اوس یې بیا زما لپاره پر خپل ځای بېرته پرېږده.» او کېندید همهغسي وکول.
« ښرګنده خبره ده چي تهٔ دلته یو نابلده موسافر یې. هسي زهٔ خپل دَ پاریس مِیَنان تر دوؤ دوؤ اوُنیو پوري کړوم او ربړوم، مګر تاته په اولني ماښام خپل ځای سپارم. دا په دې چي دَ وېستفالیان یوهٔ ځوان ته دَ خپل هیواد لخوا درناوی وړاندي کم.» بېګمي وَ ویل.
دې جادوګرې بېګمي دَ ځوان په دواړو لاسونو کښي دوهٔ غټ غټ غمي وَ لیدل. هغې دَ دې غمیو دومره په جوُش او خروش ستاینه وکوله چي یو دم هغه دواړه غمي دَ کېندید له لاسونو دَ دې خپلو منګولو ته ورغلل.
پادري او کېندید خپل هوټل ته رهي شول. کېندید دَ کونګنډې سره په بې وفایی څه ځان ملامت بللو. پادري دَ هغهٔ دا پرېشاني وَ بامله او خپل چورت یي دَ هغهٔ له چورت سره سم کړ. کېندید پنځوس زره فرانکه په جواری کښي وَ بایلل او دوهٔ بېشبها غمي بېګمي ځیني ګورت ته کړل. پادري تش لاس پاته شو. اوس پادري وس کولو چي دَکېندید ریښتوني خوی ځان پوه کي او څومره چي کېدلای شي هغهٔ وَسکولي. بس نو هغهٔ هر وخت به دَ کونګنډې په باره کښي ګډ وَ. کېندید وَ ویل چي هرکله هغهٔ کونګنده په وینس کښي ولیدله نو به دَ خپلي بې وفایی بخښنه ځیني غواړي.
پادري خپل وزله او مهرباني دوه چنده کړه او دَ کېندید په هره وینا او هر هوډ په باره کښي ځښته ډېره دلچسپي اخیستل شوُرو کړه.
« ښهٔ نو ښاغلیه تا سرېښته نیولي ده چي وینس کښي به مېرمن کونګنډې سره وینې.» پادري په ادب وَ پوښتل.

«هو دا ښځي زروري ده چي زه دَ هغي لټون وَکوم.» کېنديد وَ ويل.
کېنديد، لکه څنګه چي يي خوى ؤ، دَ مينې خبرو کښي به ښځي ډوب ورک شو او پادري ته به يي دَ ځان او کونګندې دَ مينې څه کيسې او نکلونه بيان کړل.
پادري وَ ويل، « زما خيال دى چي مېرمن کونګنده به ډېره هوښياره وي. دَ هغي ليکونه به زَرور په زړهٔ پوري وي.»
کېنديد وَ ويل، « نه ماته کله هم دَ هغي ليک نهٔ دى راغلى. تهٔ پخپله اټکل وکه چي هر کله زهٔ دَ خپلو جزبو له کبله دَ هغي له کوره وَ شړل شوم، نو ما څرنګه هغي ته ليک ليکلاى او استولاى شو. لږه موده پس ماته چا وَويل چي هغه مړه شوه. مګر بيا هغه ژوندۍ ما پيدا کړه او بيا مي ځل وَ بايلله. اوس له دې ځآيه څلوړنيم زره مېله ليري هغې پسې ما خپل ريبار لېږلى دى . اوس يي ځواب ته سترګي په لاره يم.»
پادري دغه ټول نکل په غور واورېدلو او سوچ يي کولو. بيا په ډېره نرمۍ دواړه موسافرانړ سره په غېږ روخست شو. په دا بله ورځ چي ګهيځ وختي کېنديد له خوبه راپاسېدلو نو هغهٔ ته يو ليک رارسېدلى ؤ چي په هغهٔ کښي ليکلي ول:
« ماته ښځي ګرانه! زما پوره يوه اونۍ کيږي چي په دې ښار کښي ناروغه پرته يم. زهٔ اوس اوس په دې خبره شوم چي تهٔ دلته کښي يې. که زهٔ خو هسي خوزېدلاى شواى نو به ستا غېږې ته درالوتي وم. زهٔ ستا دَ بوړېو په سفر خبره شوم. وفادار کاکمبو او بوډۍ ما هلته پرېښوډل. دوى به اوس ما پسې راشي. دَ بونس ايرس والي زما هرڅهٔ تالا کړل خو ستا زړهٔ لا تر اوسه له ما سره دى. زَرور راشه! ستا شتون خو به يا ما بېرته ژوند ته راولي او يا به مي دَ ډېرې خوشالۍ مړه کي.
------------- ستا کونګنده.»
دې ښايسته او دَ اومېند اپوټه ليک کېنديد ته بېکچه خوشالي ورکړه. اګر که دَ ګراني کونګندې دَ ناروغۍ خبرپرېشانه او غمژن هم کو. دغو دواړو پله اپوټه جزبو کېنديد دوؤ اپؤټه خواو ته کش کړى ؤ. هغه له خپلو غميو، سرو زرو او مارټين سره يو ځاى دَ خپل جانان دَ کوټي خوا ته کوچ وَ ليښلو.
هلته چي وَ رسېدلو نو زړهٔ يي ډک او درزا ؤ او له خولي يي سلګۍ وتلي. دَ هغي خوني ته ورننوتلو، لاس يي وروَ غزولو او دَ هغي دَ پالنګ پرده يي وَ ځکوله او دَ رڼا جوړولو هڅه يي وَ کوله.»
« خيال کوه! څه کوې؟ رڼا خو دا وژني.» روغتياپالي دا وَ ويل او پرده يي بېرته کش کړه.
« زما ګراني کونګندې څرنګه يې؟ » کېنديد په ژړا وَويل. « که تهٔ ما ليدلاى نهٔ شي، خبرې خو راسره کولاى شي.»
« دا رِغېدلاى هم نهٔ شي.» روغتياپالي وَ ويل.
اخېر کار دَ بيسترې څخه يو نازک او پوست لاس رابهر شو. کېنديد لومړى خو هغه لاس پا اوښکو وَ لړلو او بيا يي په غميو پټ کو. بيا يي يوه دَ سرو زرو ډکه کڅوړه پر کورسۍ کښېښوډله. په داسي پرېشان وخت کښي يو افسر سر دَ پادري او نورو سپايانو هغې خوني ته راګډ شول.
« ايا دغه دي هغه دوهٔ شکمن بهرنيان؟.» افسر وَ ويل، او خپلو نوکرانو ته يي وايه (امر) وکوله چي دوى وَ نيسي او زيندان ته يي واچوي.
کم ترکمه په الدورادو کښي موسافرانو سره داسي چلند نهٔ کيږي.» کېنديد وَ ويل.
مارټين وَ ويل، « زما باور اوس نورهم پسي ټينګ شو چي دَ ايسنان سربښت بد دى.»
« مګر ښاغليه، تاسي موږ کوم ځاى ته وړئ؟» کېنديد وَ ويل.
« زيندان ته » افسر ځواب ورکو.
هر کله چي دَ مارټين ماغزهٔ پر ځاى شول دَ هغهٔ سر په دې خلاس ښو چي واړه دَ ټګانو او بدماشانو يوه ټولى ده؛ هغهٔ ښځه هم چي له ځانه يي کونګنده جوړه کړې ده، دا افسر هم او هغهٔ

پادري هم. پادري دَ کېنديد له سادګۍ څخه داسي په زغرده دَ ناوړه ګټي ايستلو تسلاپ (بندوبست) کړی ؤ. په دي هم پوه شؤ چي چټک به دَ دوی له منګولو ازاد شي. پس نو مارټين کېنديد ته سلا پټه سلا ورکړه. کېنديد هم ډېر ژر دَ هغهٔ سلا وَ منله. ولي چي دَ هغهٔ دَ نياوتون (عدالت) دَ مرئو او دنګلو کار هيڅ خوښ نهٔ ؤ او هم يې دَ ريښتوني کونګندي دَ ليدلو ډېره هڅه او تلوسه وه. نو يې افسر ته درې کوچني غمي ورکړل چي هر يو به کم ترکمه درې زره روپۍ بها لرله.

دلته دَ نياو څارونکي افسر خوله وازه پاته شوه او چينګي داړې يې ښکاره کړې او بيا يې وَ ويل، « خدايه پاکه! ښاغليه، که تا دَ دونيا جهان واړه شپياني او ګرَمي هم کړې وای نو بيا به هم ته دَ نړۍ ايماندارترين اينسان وې. درې غمي! دَ هر يوهٔ نرخ درې زره روپۍ، په زما باداره! زه خو به وَمرم مګر تاسي به هيڅکله زيندان ته بؤ نهٔ ځم. هسي واړه بهرنيان په زيندان کښې دي. مګر زه پوه شوم او زما کار. تاسي يې ماته پرېږدئ. په نارمنډي کښې په ديپ ښار کښې زما ورؤر اؤسيږي، زه به تاسي هغهٔ ته وَ رسوم او که هغهٔ ته هم تاسي يو غمي دوهٔ ورکړل نو هغهٔ به هم ستاسي ډېر خيال وَ ساتي.»

« مګر تاسي دا بهرنيان ولي نيسئ؟» کينديد وَ پوښتل.

پادري داسي ځواب ورکړؤ، « د ارتوييس يوهٔ درويش دَ څه خلګؤ پوچ چټيات واورېدل او دغؤ پوچؤ اپلټؤ هغهٔ درويش دومره وَ بوږنولؤ چي هغهٔ راولاړ شؤ يو کس يې وَ وژلؤ. دا دَ ۱۶۱۰شانته مرګ نهٔ ؤ بلکې دَ ۱۵۹۴ غوندي ؤ، او دغسي دَ خدای نؤر مرګونه چي درويشانؤ دَ خلګؤ دَ جګ وهلؤ په پايله کښې اورېدلي دي.»

افسر دَ پادري دَ وينا څه نؤره سپړنه هم وکوله.

کېنديد وَ ويل، « دا خو سخت ځناورتؤب دی. تهٔ وايي دا خلګ ، چي دَ ټنګټکؤر، اتنونؤ او نڅاګانؤ دومره هوَس او تپاک لري، بيا هم دوی دومره دَ ځناورتؤب کارونه کولای شي. زما زړهٔ غواړي له دې هيواده ډېر چټک ځان وَ باسم چېرته چي بيزؤګاني پړانګا تنګوي. پخپل هيواد کښې ما يږان ليدلي دي او اينسانان مي په ګرده نړۍ کښې يوازي په الدورادؤ کښې ليدلي دي. دَ خدای لپاره افسره ما ژر وينس ته وَ رسوه چي هلته زهٔ دَ مېرمن کونګندې لاره وَ څارم.»

دَ پوليس ستر افسر ورته وَ ويل، « زهٔ تاسي يوازي نارمنډي ته رسولای شم.»

اوس نو افسر دَ دوی ځولني پرانيزلي او خپلؤ سپايانؤ ته يې وَ ويل چي غلتي ورڅخه شوې وه او دوی يې روخست کړل. کېنديد او مارټين يې نارمنډي ته وَ رسول او هلته يې خپل ورؤر ته وَ سپارل. ورؤر ته يې هم کېنديد درې غمي ورکړل. هغهٔ دومره دَ دوی مننَدوی شؤ چي سملاسي يې دَ دوی دَ سفر بندوبست وکولؤ. يوه وړوکي هالنډي بېړۍ پورټسميت اينګلستان ته تياره وه. په هغي کښې کېنديد سره دَ خپلؤ چاکرانؤ رهي شؤ. اګر که دغهٔ بېړۍ سيخه وينس ته نهٔ تله خو بيا هم کېنديد دومره خوشاله ؤ لکه چي به له دوزخ څخه ازاد شوی ؤ. وينس ته لاره پيدا کول خو بيا په اسانه کېدلای شول.

## کېندید او مارټین دَ اینګلستان سمندر څنډې ته رسیږي او هلته څه ویني؟

دَ هالنډي بېړۍ په تخته څنګ په څنګ ولاړ کېندید خپل دؤست ته چیغه کړه، « او هؤ! مارټینه، ته سؤچ کوه پېنګلاس څه شؤ؟ او زما ګرانه کونګنده؟ دوی ته څه پېښني وروَشوې؟ ته دغه زمورړ له نړۍ څخه څه مانا راباسې؟»
« ما ته خو دا نړۍ څه بې مانا او دَ کرکې وړ ښکاري.»، مارټین ځواب ورکؤ.
له څه ګړۍ خاموشۍ پسته کېندید بیا پوښتنه وکوله، « ته اینګلیستان پېژنې؟ ایا انګرېزان هم داسې لېوني دي لکه فرانسوایان؟»
مارټین ورته وَویل، « هؤ! مګر دَ دوی بیا څه بل شان لېونتوب دی. تا ته خو څرګنده ده چې دغه کامونه پر یو څؤ ابکړه واورې دَ کاناډا پر پوله پله په جنګ دي اودوی دواړه پر دغه جنګ دومره لوی خرڅ کوي چې دَ ګردې کاناډا تر نرخ هم زیاتیږي. دغه ارزَونه کول چې دَ کوم یوهٔ کام څومره څومره کسان ډېر پاګلان دي او پکار ده چې وَ تړل شي، زما غوندي کمزوري مغزؤ لرونکي اینسان لپاره یو ګران کار دی. دومره پوهیدلای شم چې دغه کام چې اوس مورړ ورځو ډېر سنجیده او ګورَمجن خوی لري.»
دوی دغسې په خبرؤ اترؤ اخته ول چې پورټسمَوت بندر ته وَ رسېدل. دَ اوبؤ پر غاړه دَ خلګؤ یو لوی انګؤهڼ راغونډ ؤ او ځیر ځیر یې یو غټ سړي ته کتل. دَ سړي سترګې په پټۍ تړل شوې وې او سرځوړند چوغ ولاړ ؤ. څلؤر سپایان دهٔ ته مخامخ ولاړ ول هر یوهٔ په ډېره سړه سینه دَ هغهٔ سر کښې درې درې ګؤلۍ وَ چلولې. او اولس داسې ښکاریدلؤ چې ښه ډاډه او خوښ پله خواره شول او وَ لوشتل.
کېندید په زؤره وَ ویل، « دا بیا څه نکل دی؟ دلته ، هلته او هرچیري په دونیا کښې دَ شَیتان واکمنې خو نهٔ ده؟»
بیا هغهٔ تپؤس وَکولؤ چې دا غټ سړی څؤک ؤ چې دومره په سامانه او درب یې دوړه کؤ.
خلګؤ ورته وَ ویل چې دا دَ سمندري ځواک یو سرلښکر ؤ.
« اخېر دا سرلښکر ولې وَ وژل شؤ؟» هغهٔ بیا تپؤس وَکولؤ.
خلګؤ وَ ویل، « په دغه چې دهٔ ولې ډېر اینسانان وَ نهٔ وژل. هغهٔ له یوهٔ فرانسوي سمندري سرلښکر سره په جګړه کښې مخامخ شوی ؤ خو اوس دا زباته شوې ده چې دَ دوی بېړۍ دومره هم نه وې پله نیژدې چې پله جنګېدلې وای.»
کېندید چیغله کړه، « دا خو ښکاره خبره ده چې فرانسوی به هم دومره لیري ؤ لکه پخپله چې دی ؤ.»
« دا خو ریښتیا خبره ده، مګر مورړ دلته دې هیواد کښې دا تجربه کړې ده چې کله کله یو سرلښکر په ګؤلۍ ولو. دغه نؤرؤ ته هیمت ورکوي. » خلګؤ وَ ویل.
کېندید چې څه وَلیدل او څه یې واورېدل دومره یې خوا وَ ګرځېدله چې سټ دَ اینګلستان پر خاوره له پښې کښېښوَدلؤ څخه هم بېزار شؤ. او هالنډي کپیتان سره یې سودا وکوله چې سملاسي یې وینس ته وَ رسوي. اګر که دی پوهېدلؤ هم چې دغه هالنډي کپیتان به هغه دَ سرینام دَ هالنډي کپیتان غوندي دؤکه ورسره وکوي.
دوې ورځې پسته کپیتان تیار شؤ. دوی دَ فرانس له سمندرغاړې سره تلل او لیزبن سره مخامخ تېر شول او کېندید دَ لیزبن له لیدلؤ سره وَ پرکېدلؤ. اخېرکار دوی رؤم سمندرګي ته ورغلل او وینس ته وَ رسېدل.

« مننه پاکه باداره! کېندید په زؤره وَ ویل او مارټین باندي غبږ وَ غوړوله. « دلته به زۀ خپله ښکلي کونګنده بیا موم‌م. زما پر کاکمبؤ داسي باور دی لکه پر خپل ځآن. اوس هم خیر دی. اوس موږ پر سیخه لاره یو. اومېند دی چي ګانده وختونه به ډېر خوندوَر وي.»

# دَ پاکټ او کیروفلې په باره کښې

وینس ته دَ رسېدلؤ پس کېندید سملاسي دَ کاکمبو په لټه کښې شؤ. دَ ښار ټؤل سرایونه او هؤټلونه یې وَکتل. ان دَ ناوړه کوڅؤ له کنجریؤ څخه یې لا هم تپوسونه پسې وکول. مګر دَ کاکمبؤ هیڅ درک نهٔ ؤ. دَ بندر دَ بېړیؤ دَ مسافرانؤ یې ښه څېړنه او پلټنه وکوله. مګر بیا یې هم دَ کاکمبؤ هیڅ خبر وَ نهٔ موندلؤ. کېندید مارټین ته وَ ویل، « تهٔ اندازه لګوه، دا دومره ډېر وخت چې تېر شؤ. زهٔ له سرینام څخه بوردو ته او بیا له هغهٔ ځایه پاریس، له پاریس څخه دیپ او بیا پورټسمَوت ته راغلم. دَ هسپانیې او پورتګال دَ سمندر غاړې سر راغلم تر رؤم سمندرګې راپوري وتلم او دلته مي ډېرې میاشتې په وینس کښې په کوت (انتظار) کښې وَشوې. او بیا هم زما ښکلې کونګنده را نهٔ غله. بلکې دَ پاریس هغهٔ بې شرمې ښځې او هغهٔ شَیتان پادري سره پېښ شوم. په دې کښې اوس هیڅ شک نشته چې کونګنده مړه ده او ما لره هم اوس تر ژوند مرګ غوره دی. ارمان! که زهٔ هم هلته په الدورادؤ کښې پاته شوی وای. هغهٔ ځای ګرسره جنت غوندي ؤ. دا سپېره او بدیَ لړلی یؤرپ ما څه کولؤ.

« ګرانهٔ مارټینه، تا بېخي سم ویل چې دلته یورپ کښې بې دؤکې او په ناورین پسې له ناورینه پرته بل هیڅ نشته.»

کېندید په ژور ګورَم کښې لاهو شؤ. له هیڅ لنداري، تماشیَ سره یې نهٔ لګېده. دَ ښځؤ خوا ته یې ستِ کتل نهٔ.

اخېر کار مارټین داسي ورته وَویل، « یاره، ته خو هم ډېر ساده سړی یې. تهٔ دا څرنګه منې چې یو کمزات نؤکر چې په جېب کښې په لکونؤ روپیَ لري نؤ هغه به دَ نړیَ له هغې بلې څنډې ستا لَیلا څنګه ستا لپاره تلاش کوي او دلته په وینس کښې به یې تا لره رارسوي. هغهٔ که وَ موندله لومړی یې خان له ګرځوي. او که داسي وَ نهٔ شول بیا ځان له بله لیلا پیدا کوي او پخپله ارام ورته پرېوځي. زما ښَیَنه وَ منه، او دا کاکمبؤ او کونګنده دواړه اوس هېر که.»

دَ مارټین ښَینؤ کېندید باندي هیڅ اغېز وَ نهٔ کولؤ. دَ هغهٔ ګورَم لا پسې زیات شؤ او مارټین هم لګیا ؤ او دا به یې ورته زباتله چې په دې دونیا کښې نهٔ څه نېکي شته او نهٔ څه خوشالي، پرته له الدورادؤ، او هلته بیا څؤک تلای نهٔ شي .....................

یوه ورځ کېندید او مارټین په دغه شان زَروري چېړنؤ اخته ول او دَ کونګندې کوت یې کولؤ. د سېنټ مارک پر چوک دوی یو ځوان راهیب له یوې پېغلې نجلیَ سره لاس په لاس او غاړه پر غاړه وَ لیدل. راهیب ښه چاغ او پیاوړی ؤ او بارخوګان اننګي یې تک سره ول. په کړؤوړؤ کښې یې ډاډ او باور ؤ او هر پل یې په ډېر ویاړ او برم اوچتولؤ. نجلیَ هم خورا ښایسته وه او مسته مسته په مکېز روانه وه او سندرې یې ویلې. دَ خپل راهیب خوا ته به یې کاسیرې سترګې ورواړولې او کله کله خو به یې دَ هغهٔ پر سرؤ بارخوګانؤ چونډیَ ولګوله.

« کم ترکمه دا به منې چې دا جؤړه خوشاله ده» کېندید مارټین ته وَ ویل. « تر اوسه پوري پرته له الدورادو هر چیري چې زهٔ تللی یم بدبختان په مخه راغلي دي. مګر زهٔ شرت درسره لګوم چې دا نجلیَ او راهیب خورا خوشاله دي.»

« سمه ده، ما دي شرت منلی دی.» مارټین ورته وَ ویل.

« اوس نؤ دومره پاته ده چې موږ دوی ته دَ ډؤډیَ ست وَکوو.» کېندید وَویل. « او که زهٔ غلت وم نؤ تهٔ به یې وَ وینې.»

کېندید سملاسي دَ هغؤ سره پر څنګ شؤ. رؤغبړ یې ورسره وَکولؤ او په سرای کښې یې دَ رنګارنګ خوراکونؤ او شرابؤ ست یې ورته وَکولؤږ دَ نجلیَ مخ سور شؤ. راهیب هم ژر

مېلمستيا وَ منله او نجلۍ هم په هغهٔ پسې شوه. په ترخ ترخ به يې په هيرانيا او پرېشانۍ کېنديد ته کتل او سترګې به يې له اوښکؤ ډکې شوې. دَ کېنديد خونې ته چي ګډې ور دننه شول نؤ نجلۍ تپؤس وَکولؤ، « ښه نؤ زلميه کېنديده! تهٔ اوس خواره پيکوټي هډؤ پېژنې نهٔ.»
کېنديد دَ کونګندې په سؤچ او چورت کښې دومره ډوب شهيد ؤ چي نجلۍ ته يې چندو پام نهٔ ؤ کړی. مګر دَ نجلۍ دغه خبرې چي يې واورېدلې نؤ يې چيغه کړه.
« اوهؤ! زما خوارې چؤړۍ! ته هغه نجلۍ يې چي پؤهاند پېنګلاس دي په هغهٔ خوړجن رنځ ولړلؤ»
پېکؤټي وَويل، « هؤ ښاغليه، دغه دی تهٔ په هر څهٔ خبر يې. زهٔ هغه بدبخته نجلۍ يم. ښکلې کونګندې او دَ هغې کؤرنۍ ته چي کوم کړاوونه پېښ شوي دي ما هغهٔ ټؤل اورېدلي دي. خو زه تا ته ريشتيا وايم چي کومې ترخې تجربې چي پر ما تېرې شوې دي هغه هم ډېرې له دردونؤ ډکې دي. ستا ياد دي چي زهٔ يوه کمکۍ ماشومه وم او کوم راهيب چي به زما منتې ( دَ ګوناهونؤ اعتراف) اورېدلې هغهٔ زهٔ څومره په اسانۍ ببلارې کړم. دَ دې ببخې خترناکې پايلې راوَوتلې. دَ کؤر بادار چي تهٔ په لتؤ وَ وهلې او له خپله کؤره يې وَ ايستلې، هغهٔ لږه موده پس زهٔ هم له کؤره په زؤر وَ ايستلم. او که چيري يوهٔ نامتو درمانګر پر ما ترس او پېرزؤينه نهٔ وای کړې نؤ اوس به زهٔ زَرور مړه وم. دَ درمانګر دې پېرزؤينې زه اړه کړم چي دَ څهٔ وخت لپاره زهٔ دَ هغهٔ شم. مګر دَ هغهٔ مېرمنې به له ما سره سخته رخه کوله او هره ورځ به يې زهٔ په ډېره ناترسۍ وهلم. ډېره خشمناکه ښځه وه. درمانګر هم ببخې ډېر خوړجن ؤ. تهٔ زما بدمرغې ته ګؤره چي هره ورځ به مي دَ دې خوړجن سړي له کبه وهل خوړل. ته خو پخپله هوښيار سړی يې. د داسې يوې بدوکې ښځې وَ يوهٔ درمانګر ته ودېدل څومره خترناک وي. درمانګر دَ دې ښځې له لاسه تر پوزې ؤ. يوه ورځ هغهٔ ښځه څه زوکام وَ نيوله. درمانګر هغې ته څه پوړۍ او کپه ورکړه. په دوې ګنټې کښې دننه دننه له سختؤ رېږدېدلؤ او پړکېدلؤ وروسته هغهٔ مړه شوه. د ښځې خپلوانؤ يې پر مېړه داوه وکوله او درمانګر وَ تښتېدلؤ. نؤ بيا يې دَ هغهٔ پرځای زهٔ بنديوانه کړم. زه بې ګوناه وم. مګر زما بې ګوناهي زه له بنده نهٔ شوم ژغؤرلای که چيري زهٔ څه دَ ګوزارې ښايسته نهٔ وای. کازي زهٔ په دغه شرت ازاده کړم چې اوس به نؤ زهٔ دَ درمانګر پر ځای دَ هغهٔ داشته يم. مګر لږه موده پس زما پر ځای بله ښه ښايسته داشته ورله پيدا شوه او بيا يې نؤ زه يو دم له کؤره وَ ايستلم. په جېب کښې مي يوه پيسه هم نهٔ وه. نؤ ځکه مي دا ناوړه پېشه او رؤزګار پيل کؤ چي تاسې نارينه يې ډېره خوښوئ مګر موږ ښځې يې دَ دؤزخ کړاو بؤلو. وينس ته هم زهٔ په همدغه رؤزګار پسې راغلم. اه! ښاغليه، که تا اټکل کولای شؤ چي يوازې دَ خېټې ډکولؤ لپاره له سوداګرانؤ وکيلانؤ راهيبانؤ، پادريانؤ، سپايانؤ او نؤر ډوَل ډوَل کسانؤ سره بې دَ زړهٔ له غوښتنې مينه کول، دَ دوی له لاسه هر ډوَل شرمينده‌ګي او سپکه سهل څومره ګران دي. او بيا چي چيري به څه پيسې وَ ګټلې نؤر به رانه وَ شوکولې. افسرانؤ به هر وخت ريشوتونه غوښتل. اخېر انجام به مي ډېر کرغېړن زؤوالۍ په برخه شي او بيا به بسپنه او سوال کوم. او کله چي مړه شم نؤ پر يوهٔ ډېران به وَ غورزول شم. دغه به زما انجام وي. که دَ دې هرڅه تهٔ سمه اندازه ولګوې نؤ به وَ منې چي پر مخ دَ مځکې تر ما بدبخته او خپه ژوندی بل څؤک نهٔ شي کېدلای.»
پيکوټي دغه شانته ښاغلي کېنديد ته خپل خوالهٔ کولؤ او زړهٔ يې تشولؤ نؤ مارټين، چي ډېر په غوَر يې غوږ نيولی ؤ، کېنديد ته وَ ويل، « تهٔ وينې! نيم شرت خو ما اوس لا درځخه ګټلی دی.»
راهيب ګيروفلي په بله خونه کښې دَ ډؤډۍ خوړلؤ مخکې څهٔ شراب چيښلؤ لپاره ايسار شوی ؤ.
کېنديد پيکوټي ته وَ ويل، « مګر هغهٔ وخت چي موږ ته له راهيب سره وَ ليدلې، تهٔ ډېره تازه او خوشاله ښکاېدلې. خورا سندرې دي بللې او له راهيب سره دي ښه نازونه او مکيزونه کول. مګر اوس بيا خپل کړاونه او بدبختي بيانوې.»

پيکوټي وَ ويل، « په دې پيښې او دندې کښې دا لا بيا يوه بله ستونزه ده. پرون زهٔ يوهٔ افسر وَوهلم او بيا وَ شوکولم. نوْ زهٔ نن اړه وم چي راهيب ته ځان خوښه او خوشاله وَ برېښوم.»
دَ کېنديد لپاره دومره ګايونه بس ول. هغهٔ وَ منل چي مارټين سو ويل. بيا دوی دواړه له پيکوټې او راهيب سره يوځای ډوډۍ خوړلوْ له پر مېز کښېنتل. دوی ښه په مزه مزه او ازادۍ سره وَګاپېدل. کېنديد راهيب ته وَويل، « پلاره، ستا خو مرَغ (بخت) ډېر ښه دي. ښه په بدن روْغ يې او هم دي له ګوني داسي برېښي چي ډېر خوشاله يې. دَ خوند لپاره ښه ښايسته اينجله درسره ده او داسي ښکاری چي په کليسا کښې دي هم ښه لوی لګېدلی دی.»
ګيروفلي وَويل، « ښاغليه، ته په سپينه زما دا خبره وَمنه چي زما دَ زړهٔ له کومي دا ارزو ده چي چي زما دغه دَ راهبانوْ، پادريانوْ او پوْپ ټوْله وروْګلوي او ټوْلنه دي په سمندر لاهو شي! زهٔ خو به بيا هغهٔ وخت ډېر خوښ يم. څوْ څوْ ځله مي پرين کړی دی چي دا کليسا او مدرسه وَ سوزوم او پخپله تورک (موسلمان) وَ ګرځم. زما موْر پلار دَ پينځلوْ کالو په اومر کښې دغه مورداری ناولې دَ چوغي جامې په دې موْخه راواغوستلې چي زما ناشورلټ مشر وروْر ته زيات پېتی او جايداد په برخه کښې پاته شي. خدای دي هغهٔ وَوهي! پاته شوه دا خانګاه او مدرسه دا خو دَ بدنيتۍ، ګډوډۍ ، خشم او کړاو يوهٔ ځاله ده. زهٔ دا منم چي دا سپېرې ښيَني (نصيحتونه) چي زهٔ کوم ماته څه پيسه په لاس راولي. اګه که يوه برخه يې دَ مدرسې مشر پادري رځخه وَتروْړي، خو بيا هم دومره سپمولای شم چي دغسي نجوني وَساتم. خو هرکله چي دَښپې هوجرې ته ولاړ شم نوْ داسي سوْچ راوَلېږي چي دا خپله کپرۍ دَ هوجرې له دېوالهٔ سره ووَهم او ماته يې کم. يوازې زهٔ داسي نهٔ يم، بلکې دَ راهيبانوْ او پادريانوْ ټوْله ټوْلنه همداسي سودايان ي.»
مارټين کېنديد ته مخ وروْګرځولوْ، او لکه څنګه يې خوی وْ ، بيا يې په سنجيده اواز کښې ورته وَويل، « اوس خو ما پوره سرت وَګټلوْ کنه؟؟»
کېنديد پيکوټي ته دوه زره او راهيب ګيروفلي ته يو زر روپۍ ورکړې او مارټين ته يې وَويل، « زما ځواب تا ته دغه دی چي دغه پيسې به دوی دواړهٔ خوشاله کې.»
« زهٔ هيڅ دغه ډوَل شی نهٔ منم» مارټين وَويل، بلکې زما لپاره خو به داهم هيڅ نادره نهٔ وي چي ستا دغه پيسې به دوی لاپسې خپه کې.»
کېنديد وَويل، « راځه هر څهٔ چي وي، نوْ وي دي. زهٔ خو پخپله په يوهٔ شي خوشاله يم چي زياتره سړی داسي خلګوْ سره وَويني چي مخکې يې کله هم دَ هغوْ دَ بيا ليدلوْ اومېد نهٔ وي. کېدلای شي لکه ما چي خپله سره مېره او پيکوټي بيا وَ موندلې هم دغه شان خپله کونګنده هم يو ځل بيا وَموْمم.»
مارټين وَوی، « زهٔ هم له تاسره اومېد لرم چي يوه ورځ به تا خوشاله کړي. مګر زهٔ ډېر شک لرم.»
« تهٔ څه نامېنده غوندي يې.» کېنديد په زوْره وَويل.
« دا په دې چي زهٔ پوْه يم چي ژوند څه شی دی.» مارټين وَويل.
« دغه مانوګان ګوْره» کېنديد وَويل، « کله هم دوی دا خپل بدلې او سندرې بس کوي؟»
« تا دوی په خپلوْ کوْرونوْ کښې له خپلوْ ماينوْ او کوچنيانوْ سره نهٔ دي ليدلي.» مارټين وَويل.
« دَ لوی کازي خپل غمونه دي او مانوْګانوْ بيا خپل هغه دي. خو دا منم چي تر کازي بيا دَ مانوْګانوْ ورځ ښه ده. مګر توپير يې دومره کم دی چي په دې نهٔ ارزي چي سړی ورپسې ډېر سر وَخوږوي.»
« خلګ دَ سناتور پوکوګرانتي ډېره ستاينه کوي.» کېنديد وَويل. « چي په هغه ښايسته مانۍ کښې اوسي او نابلده خلګوْ سره ډېر په درب او درناوي ګوْري. دوی دوايي چي دا يو داسي سړی دی چي کله هم په دې نهٔ دی پوهېدلې چي پرېشاني څه شی دی.»
« زهٔ خو غواړم چي داسي نادره بېلګه مي هم ليدلې وای.» مارټين وَويل.
کېنديد يو دم هغه سردار پوکوګرانتي ته خبر ورواَستولوْ چي دَ ليدوْ کتوْ نېټه ورځخه واخلي.»

ځلوروېشتم څپرکی

## دَ وينس يوۀ شتمن سردار سناتورپوکوکرانتي سره ليدل

کېنديد او مارټين په يوې کوچنۍ بېړۍ کښې سپارۀ شول او دَ درياب پر څنډې دَ سردار پوکوکرانتي مانۍ ته ورغلل. سردار ډېر دروند او ساهو کس ؤ. دَ هغۀ مانۍ دَ جوړښت او رغېدنې دَ فن يو الماس ؤ. شاوخوا باغونه په ډېره شانداره توګه اوډل او برابر شوي ول. په مرمرينو ډبرو کښې بوټان ګوزېل (اراسته) شوي ول. دَ کوَر شپېته کلن شتمن بادار له دوؤ موسافرانو سره ښه په نرمۍ رؤغبړ وَکولو. مګر دومره توَد او دَ تپاک هرکلی هم نۀ ؤ او کېنديد لږ څه خوابيټا هم شؤ. مګر مارټين بيا هيڅ چورت پکښې نۀ وهلو. له هرکلي او ښۀ راغلي پس دوې ښکلې نجونې، چې ښې سوتره پوښلې وې، خورا په ناز او ادا راغلې او دوی ته يې په ادب دَ چاکلېټو دَ شربتو جامونه وړاندې کړل. کېنديد ښواکه دَ دوی ښکلا وَ ستايله.

سناتور پوکوکرانتي وَويل، « هو زما لپاره ښې دي. ولې چې دَ بازاري ښځو له نخرو، بې وفايېو، سپکوالي، ناپوهېو، جګړو او مغرورېو او بيا پر دې سربېره هر وخت دَ دوی له ستاينې کولو ځخه ډېر تنګ شوی يم. خو اوس داسې ښکاري چې دغو دوؤ نجونو هم څۀ ستړی شوی غوندی يم.»

دَ څه هوسا کېدلو پسته کېنديد په ګالرۍ کښې په چکر شؤ او دَ راځوندو انځورونو ښکلا ته هکپک پاته شؤ. دۀ بيا دَ لومړنيو دوؤ هغؤ دَ انځورګر په باره کښې تپوس وَکولو.

« دا دَ رافايل جوړ کړي انځورنه دي. څؤ کاله مخکښې ما په ډېر غټ نرخ وَ پېرل. دوی وايي چې په ايټاليه کښې دغه دواړۀ ښايسته ترين انځورونه دي. مګر ماته هيڅ خوند نۀ راکوي. رنګ يې بېخونده دی، دَ پيکرونو خاکې پکښې سمې جوَتې نۀ دي، بل دا چې پوښاکونه يې هم دَ رېښتونې رخت غوندې نۀ دي. لنډه دا چې خلګ چې هر څۀ وايي خو ماته دغه دَ جندون (فطرت) رېښتونې هينداروِنه نۀ ښکاري. ماته هغۀ انځور خوند راکوي چې جندونې وي او دغه ډوَل اوس ښېخي په ګرانه پيدا کيږي. زۀ ډېر انځورونه لرم خو اوس ښېخي ورته ګورم هم نۀ.»

ډوډی ته لا څۀ وخت ؤ نو دَ ټنګټکو باندار جوړ شؤ او کېنديد يې ښېسدۀ کؤ. پوکوکرانتي وَويل، « دغۀ ږغ ږوغ خو څه نيم پهر سړی خوشالولای شي، خو که ډېر اوږد شي سړی ځيني تنګ شي، اګر که منې يې هيڅوک نۀ. ساز نن سبا بس دَ پېچلو او ګرانو ټوټو ادا کول کرځېدلی دی او کوم څيز ته چې يوازې پېچلی وي هغۀ تر ډېره وخته چا ته خوند نۀ شي ورکولای. دَ اوپرا ساز به ما غوره کړی ؤ خو هغۀ هم نن سبا دومره لوېدلی دی چې زما ښېخي خوا ځيني ګرځي. کېدلای شي چې هسې دَ کومې اداکارې دَ غاړې دَ کمال ښکارولو لپاره څه ښځايه او ښسوره لنډارې پرله پورې کړ شوې وې، دا هم کېدلای شي چې په لنډارتون کښې نرښځيا (هيجړاګان) دَ کيسر او کېټو پيښې کوي او څه خلګ يې خوښوي مګر ما پخپله دغه چټيات او اپلتې له ډېره وخته راهيسې سټ پرېښې دي. اګر که دَ اوسنۍ ايټاليې همدغه توکي وياړونه ګڼل کيږي او لوی لوی باچهان يې دَ لنداره کولو لپاره غټ غټ نرخونه پرې کوي.»

کېنديد څه نا څه رېښتينې ورسره وَکولې مګر مارټين بيا له سناتور سره پوره پوره سځ ؤ.

دوی اوس مېز ته کښېناستل او ښه خوندوَره ډوډۍ يې وَخوړل. او بيا لوستون (لايبريري) ته ګوښه شول. کېنديد دَ هومر کيتاب ډېر ښۀ رغېدلی يو ځای پروټ وَليدلو او دَ خپل ساهو کوربۀ دَ ښه هوَس او باړ ستاينه يې وَکوله.

کېنديد وَويل، « دا هغۀ کيتاب دی چې يو وخت به زمونږ لوی اوستاز پينګلاس ، دَ جرمنې تر ټولو نومياتي پوهاند، خوند ځيني اخيستلؤ. »

« ماته خو پخپله هیڅ خوند نهٔ راکوي.» سناتور وَويل. « یوه زمانه کښې به زهٔ خلګؤ په دې سځولم چي ريښتيا زهٔ دَ هؤمرلوستلؤ ځخه مزه اخلم. خو پخپله زهٔ دَ هغهٔ یو رنګه پلّپسې بپپایایه جنګونؤ دَ بهير او دَ هغهٔ دېوتاګان چي پرته له کومې پایلې همېشه لګیا او اختي وي، دَ هغهٔ هېلن، چي دغه جنګ ورځخه را پيل شوی ؤ مګر پخپله په کيسه کښې بخپې لږ برخه اخلي، هغه ټرای چي بېشمېره ځله کلابنده کيږي مګر کله يې هم سؤبه نه ترلاسه کيږي. دا واړه شيان ما ډېر بې چمه کوي. کله کله زهٔ له پؤهانؤ ځخه تپؤس کوم چي ایا دوی ته هم دا کيتاب دومره بدخونده پرېوزي لکه ماته؟ په دوی کښې چي څؤک ريښتونی وي نؤ هغهٔ مني او وايي چي راباندي غميږي او خؤب راولي. مګر دَ دؤد لاسه اړ دی یو نوسخه به هرومره په خپل لوستون کښې ساتي. لکه دَ زړې زمانې یو يادګار، یا دَ تېرې زمانې زنګ وهلې سيکې چي اوس کؤټهٔ دي او چلن نهٔ لري.»

« ښاغليه، دَ ورجل په باره کښې خو به دي دغه لېمون (رايه) نهٔ وي.» ، کېنديد وَ ويل.

« زهٔ منم»، سناتور وَويل، « چي دَ ورجل دَ کيتاب، اينيډ، دؤيمه، څلؤرمه او ښپږمه برخه څه بېهتري ښيي. مګر نؤر بېشتره کيرداراون يې بې اروا، بلمنګه او بېخي وچ کلک دي. زهٔ خو ټاسؤ او دَ ايسټړ کيسي غوره ګڼم.»

« که زهٔ ختا نهٔ وم ته به دَ هوريس لوستل خوښوې.»، کېنديد وَويل.

پوکوکرانتي وَويل، « دغه ليکوال څه لنډي بېلګې او متلونه لري چي دونيايي سړی څه ګټه ځيني اخيستلای شي. ځکه چي دغه لنډ متلونه په ښه زؤرَور سور کښې ليکل شوي دي، نؤ ډېر ژر دَ چا ياد شي. پا ته شوې دَ هغه يونليکونه او دَ بېکاره مېلمستياګانؤ کيسې او دَ جګړؤ او دنګلؤ کيسې چي هلته دَ دهٔ (هوريس) له خولې دَ چا خبرې « له زوؤ ډکې » دي او دَ چا هغه بيا داسي« تروې او ترخې دي لکه سرکه» دغه هيڅ کله هم نهٔ شم ويلای دَ هغهٔ دَ زړؤ او جادوګرؤ ښځؤ بيا خو ما ته بېخي خشم راولي. دَ هغهٔ خپل دوست، ميسيناس، ته دغه وينا، «که تهٔ یو سندربؤ شاير وَ بؤلې نؤ زما سر به له وياړه تر ستؤريؤ هسک شي.» ماته ډېره پوچه ښکاري. ناپؤهان خو دَ يوهٔ منل شوي زبرليکوال هرڅه ستايي مګر زهٔ پخپله لوست دَ خوند لپاره کوم او پر کوم څيز چي زما باړ ماتيږي بس هم هغه لولم.»

کېنديد چي څه واورېدل ډېرورته هيران شؤ. ځکه چي دَ هغه رؤزنه په داسي چاپېريال کښې شوې وه چي هلته دَ ځاني ازاد لېمون (رايه) ښکارول ايجازت نهٔ ؤ. مګر مارټين ته دَ پوکوکرانتي ږغېدا خورا په تؤل پوره او برابره ښکارېدله.

« اوهؤ» کينديد وَويل، « دلته خو سيسرؤ هم شته. باور لرم چي د دې لوی رومي ليکوال له لوستلؤ به کله هم نهٔ ديغيږي.»

«زهٔ کله هم هغهٔ نهٔ لولم.» سناتور وَويل، « زهٔ له دې سره څه کار لرم چي ايا سيسرؤ دَ راببېريس وکالت کوي او که دَ کلونيس؟ ماته خپلې ډېرې دنګلې راپېښې دي. يو وخت ما دَ هغهٔ فلسفيانه ليکونه غوره کول خوکله چي پؤه شوم چي هغهٔ دَ هرڅه باره کښې شک لري نؤ ما دا پرېکړه وکوله چي دغومره خو زهٔ هم پؤه يم لکه دی. او دَ ناپؤه پاته کېدلؤ لپاره مي اوستاز ته اړتيا نهٔ لرله.»

« هغهٔ خو پوره اتيا جلده دی او دَ کومې سايسني اکاډمی دَ کاروايانؤ»

مارټين وَ ويل، « په دا دومره کښې خو به څهٔ دلچسپ هم وي.»

« وؤ به » سناتور وَ ويل، « که چيري دَ دومره لوی امبار په ليکوالانؤ کښې کوم يوهٔ دَ يوې ستني برابر کوم جؤړ کړی هو وای. په دوی کښې يو هم اګاهي نهٔ لري. بس خوشې او پوچې فلسفيانه چېړنې دي دا ټؤلې.»

« دَ ډرامؤ هم خورا ښه زېرمه درڅخه ده.» کېنديد وَ ويل. « ايټالوي، هسپانوي او فرانسوي ....... هر څهٔ.»

« هو » سناتور وَ ویل، « درې زره ټوکه لرم مګر درې درځنه پکښې څه دَ ښمر وي. او دغه دَ ښَیَنۆ ( وعظونو) ټولګه چې دَ سینکا له یوې پانې سره هم سیالي نهٔ شي کولای او دغه دیني پندِ پندِ کیتابونه خو تاسي باور وکوئ چي نهٔ ما او کله بل چا هم هډۆ پرانیستلي دي.»

مارتین څه الماری له انګرېزي کیتابونۆ ډکي وَلیدلې او وَ یې ویل، « دغه کیتابوه دَ یو اولسواکي پلو لپاره کشش لري ولي چي دَ ریښتوني ازادی په ستري جزبې لیکل شوي دي.»

« هو » پوکوکرانتي په ځواب کښې وَ ویل، « دا دَ اینسان پیدایشي رینته ده چي څهٔ سوچ کوي هم هغهٔ دي لیکي. خو دلته ایټالیي کښې موږ هغهٔ څه لیکو چي کله هم دَ هغۆ سوچ نهٔ وي کړی. دَ ګیسپرانۆ او اینتونیانۆ دَ هیواد استوګن اوس دَ پادریانو بې ایجازې هیڅ نوی نوښت نهٔ شي کولای. ما به دَ انګرېزانۆ بادارانۆ دَ ازادی دَ جزبې لا ډېر درناوی کولۆ که چېرې دوی دَ ډله بازی دَ توندی او تاو ځخه خپله هغهٔ دَ درناوي وړ ازادي خوندي ساتلی شوای.»

کېندید دَ مېلټېن یو کیتاب ته پام شۆ او تپۆس یې وَکولۆ چي ایا سناتور ښاغلي دَ هغهٔ لیکوال تهٔ دَ لۆیي او ستریاوي په سترګه ګوري که نه؟

« مېلټی» سناتور وَ ویل، « هغهٔ یاغي ځنګلي لیکوال چي دَ کیتاب دَ زۆکړی لومړی برخې پېژندګلوي یې په ښخونده او خوړجنه شایري کښې په لس ټوکه کښې وکوله. هغهٔ چي دَ یۆنانیانۆ لوڅې پېښې کوي او دَ نړی او جهان پینځون ډېر خوړجن څرګندوي ولي چي دَ هزرت موسا ښَینه دا وه چي ویل به یې، چي لوی ځښتن وَویل « ګن » نو بیا هرڅه پیدا شول. او دی (مېلټېن) داسي ګڼي ښیي چي ګوا هزرت ایسا مسیه دَ هسک له تاخچې یو لوی پرکار راواخیستلۆ او دَ کاینات نکشه یې وکښله. نو تهٔ له ولي دا هیله لرې چي زهٔ دَ یوهٔ داسي لیکوال ستاینه وَکوم دَ ټاسو دَ دوزخ او دَ شَیتان انځورنه (تصور) خوړجن کۆ. کله له شَیتان ځخه یوه چونګښه جوړه کي او کله بیا بله وریتخه بلا. هم هغه ویناې په سل واره بیا بیا وایي. بلکي دَ دین په باره کښې دلیلبازي هم په کوي. هغه خوار خو دومره ښخونده او بې باړه دی چي دَ ارسټۆ او اۆرینۆ درستۆ مسخرې ښه په سنجیدګی اخلي او شَیتانان په جنت کښې په تۆغندیۆ ورولۆ اخته ښکاروي. نه یوازې زهٔ بلکي په ایټالیي کښې هیڅوک هم دَ هغهٔ غمجنه زیات وَینه (مبالغه) نه خوښوي. هر څۆک چي سوتره هوَس او باړ لري دَ هغهٔ دَ ګوناه او مرګ، دَ وادهٔ او بیا له مارانۆ ځخه دَ زېرېډلۆ له کیسې ځخه خوا ګرځي. دَ هغهٔ دَ روغتون په اړه اوږد بیا یوازي ګۆرکښان خوشولای شي. دا بې هوده بازاري او ناوړه شایري چي لومړی خوره شوه نو خپلۆ هیوادوالۆ یې هم ډېره کرکه ځیني وَ کوله. او همدغسي یې وَ ګڼلۆ لکه اسو چي یې زهٔ ګڼم. زهٔ خو پخپله هغهٔ څهٔ وایم چي څهٔ مي په سوچ کښې وي. »

کېندید په دغۆ خبرۆ ډېر ازورده شۆ ولي چي هغهٔ دَ هۆمر ډېر درناوی کولۆ او دَ مېلټېن هو ډېر مینه وال ؤ. سر یې وَ خوزولۆ او مارتین ته یې غلی وَ ویل، « زهٔ وېرېږم چي دغهٔ سړی به زموږ جرمن شایران هم ډېر بد اپسوي.»

« دا هیڅ دَ تاوان خبره نهٔ ده. » مارتین ځواب ورکړۆ.

کېندید داسي وَ بونېډلۆ. « ډېر اوچت سړی دی دغهٔ پوکوکرانتي. دا خو یو وتلی کلتاغ (نابغه) دی ي هیڅ څیز یې نهٔ شي خوشالولای.»

دَ لوستون دَ کتلۆ پس دوی باغ ته شېوه شول.

کېندید دَ ځار (باغ) دَ ښکلا په ستاینه پیل وَکولۆ. دَ ځار ځښتن وَ ویل، « ما ته خو دَ باغ ډَوَل ډېرښخونده ښکاري. بس مامولي منځیانه خوند. سبا له زما پرین دی چي دَ یوه پرتمین او برَمناک باغ لګولۆ کرښې وَ باسم.»

هرکله چي مېلمنۆ له ښاغلي سناتور ځخه روخست شول کېندید مارتین تهٔ وَویل، « اوس خو به مني چي په ټۆلۆ ژوندۆ اینسانانۆ کښې دغه سړی ډېر خوشاله دی ولي چي هر څهٔ چي لري له هغۆ ځخه ډېر اوچت او بالاتر دی.»

مارټین وَ ویل، « تهٔ دا نهٔ وینې چې سړی له هرهغه څهٔ چې دی یې لري بېزاره دی؟ افلاتون لا ډېر پخوا داسې ویلي ول چې بېهترینې هازمې او لري هغه نه دي چې هر ډَوَل خوراک رَدوي.»
کېندید وَ ویل، « دا به وي، مګر دا هم بیا یو بل خوند دی چې سړی هرڅه باندې نیوکه کوي او چیرې چې نؤر ټؤل خلګ ښېګړې وینې مګرهلته دی خلېتونه او غلتې پیدا کولای شي. »
« ته ویل غواړې چې» مارټین وَ ویل، « ګوا نه خوشالېدل هم یو ډَوَل خوشالي ده.»
« هیڅ غم یې مه کوه» کېندید وَویل، « هرکله چې زهٔ خپله ګرانه کونګنده بیا وَ وینم هغه وخت به هیڅؤک تر ما خوشال اینسان نهٔ وي.»
« خیر، اومېد ساتل څه تاوان نهٔ لري.» مارټین وَویل.
په هرډَوَل ورځې تېرې شوې، پسې اؤنۍ ولاړې او کاکمبؤ بېرته نهٔ راغلؤ او کېندید دومره اوتر ؤ چې دا هم ځیني هېر شول چې پېکټې او ګیروفلې ولې دَ مننې ادا کولؤ لپاره نهٔ راغلل.

# څرنګه کېندید او مارټین دَ شپږو نابلدو کسانو سره ډوډۍ وَخوړله او هغهٔ څوک ول؟

ماښام کېندید او مارټین دَ څه نابلدو سړیانو سره چي همدغه سرای کښې تم ول، دَ ډوډۍ خوړلو لپاره مېز ته ناست ول چي ناساپه یو تک تور سړی راغلو او کېندید یې له لاسه وَ نیولو او ورته وَ یې ویل، « سملاسي مور سره دَ تګ لپاره تیار شه. ګوره کوتاهي مه کوه.»

کېندید مخ وَګرځولو او کاکمبو یې وَ پېژندلو. یوازي دَ کونګندې لیدل به دَ هغهٔ لپار تر دې زیاته هیرانتیا او خوشالي وه. دی له ډېري خوښۍ بې کابو ؤ او خپل زاړهٔ یار باندي یې غېږ وَغوړوله او داسي یې وَویل، « کونګنده به هم زَرور دلته وي، چېرته ده؟ ما یو دم هغې ته وَرسوه چي دواړه له ډېرې خوشالی ځخه مړهٔ شو.»

کاکمبو وَویل، « کونګنده دلته نشته . هغه کوستنتنیې کښې ده.»

«کوستنتنیه! وی خدایه پاکه! خیر دی که هغهٔ په چین کښې وي هم بؤیه چي هلته پسي وروالوځم. ځه چي ځو.»

کاکمبو وَویل، « مور به دَ ډوډۍ خوړلو پس رهي کیږو. اوس زهٔ ډېر څهٔ ویلای نهٔ شم. زهٔ دَ چا مریی یم او بادار مي راته کوت (انتظار) کوي. زهٔ به دَ هغهٔ دَ ډوډۍ خیزمن کوم. هیڅا ته یو سکښت هم مه کوه. ډوډۍ وَخوره او چمتو اؤسه.»

کېندید دَ غم او خوښۍ په مینځ کښې په اپوټه خواؤ کښې پله کش ؤ. دَ وفادار کاکمبو بېرته لیدل خوشال کړ او په دې خپه او هیران ؤ چي هغهٔ اوس مریی ؤ. زړهٔ یې دربېدلو او دماغ یې دَ خپلې لیلا له پرېشانیو ډک ؤ. له هغو شپږو نابلدو کسانو سره، چي دَ وینس مېلې ته راغلي ول، مارټین هم دَ ډوډۍ مېز ته ناست ؤ او هر څه یې په غور کتل خو هیڅ چورت یې نهٔ ؤ خراب. په مزه مزه یې خپله ډوډۍ خوړله.

کاکمبو په همدغو شپږو کسانو کښې دَ یوهٔ خیزمت کولو او چي له خوړلو وَرهېدل نو دی خپل بادار ته ورجوخت شو او په غوږ کښې یې ورته وَویل، « ښاغلیه، څه وخت چي دَ ستا زړهٔ وي نو بېړی تیاره ولاړه ده.»

دغه یې وَویل او غلی دباندي ولاړو. دا نور مېلمانهٔ هیران شول او پته خوله یې یو بل ته کتل. یو بل غلام راغلو او خپل بادار ته یې وَویل، « باداره، ستاسو سوارلي په پیدوا کښې ده او بېړی تیاره ده.»

بادار سر وَښؤرولو او غلام دباندي ولاړو. پاته مېلمنو بیا بو بل ته وَکتل او هیراني یې نؤره پسي زیاته شوه. دریم غلام راغلو او خپل بادار ته یې وَویل، « ښاغلیه، که زما سلا نو دلته کښې نؤر پاته کېدل ستاسي لپاره ښه نهٔ دي. زهٔ ځم او ستا دَ تګ لپاره زَروري تیاری کوم.»

دغه یې وَویل او سم په مخه ولاړو. کېندید او مارټین دا ګومان کولو ي دا هم جوړ دَ وینس دَ مېلو او تماشو یوه برخه ده او دغه کسان ټؤل څه اداکاري غوندي کوي. په دغه وخت کښې یو څلؤرم غلام راغلو او خپل بادار ته یې وَویل، « څه وخت چي زما بادار غواړي روانېدلای شي.» او بیا په پخپله ورچني ولاړو. پینځم غلام همدغه شان خپل پینځم بادار ته خبره وکوله. شپږم بادار دَ کېندید په څنګ ناست ؤ او دَ هغهٔ غلام چي راغلو نو هغهٔ څه بدله غوندي دا وینا خپل بادار ته وکوله. « باداره، تاسي دا وَمنۍ چي دا وخت نهٔ پر تا څوک باور لري او نهٔ پر ما. نن ماښام تا او ما دواړه زیندان ته اچوي. زهٔ خو دَ خپل ځان غم نهٔ کوم مګر ستا دي خدای مل شي.»

څه وخت چي ټؤل خیزمتګاران وَوتل او کېندید،مارټین او هغه شپږ نابلده کسان ترڅهٔ وخته پوري ببخي په خاموشۍ کښې ورک ول . اخېر کار کېندید دا خاموشي ماته کړه.

« ښاغلیو! دا خو یوه نادره ټوکه شوه. تاسي ټول څرنګه باچهان وَ ګرځېدلئ؟ زما او دَ مارتین په باره کښي زهٔ تاسي ته باور درکوم چي موږ هیڅ ډوَل کسان نهٔ یو»
دَ کاکمبوُ بادار په ډېره درنه ټوګه په اټالوي ژبي کښي داسي وَویل، « زهٔ هیڅ ټوکې نهٔ کوم. زما نوم اسمت دربیم دی. زهٔ تر ډېري مودې پوري ټولواک وم. ما خپل وروُر له تخته ایسته کړی وُ. بیا زهٔ خپل ورارهٔ له تختی واچولم او زما دَ وزیرانوُ غاړې یې په چاړه غوتې پرې کړې. اوس زهٔ په زاړهٔ پلاز کښي شپې ورځې تېروم. زما ورارهٔ اوسنی ستر ټولواک دی. کله کله ماته دَ روُغتیا لپاره دَ سیَل او چکر ایجازت راکي او دغسي زهٔ دَ وینس مېلې ته راغلی یم.»
دَ اسمت پر څنګ یو ځوان ناست وُ. هغهٔ داسي وَویل، « زما نوم ایوان دی. یوه زمان کښي زهٔ ټول روس شهنشاه وم. مګر لا په زانګوُ کښي وم چي تخت راځخه ولاړ. زما مورپلار یې زیندان ته واچول او په همدغه زیندان کښي زما روُزنه او پالنه وشوه. کله کله دَ ساتونکوُ په بدرګۍ کښي راله دَ سیَل او چکر ایجازت وشي. او دغه دی چي دَ وینس مېلې له راغلی یم. »
دریم بیا دا وَویل، « زه چارلس اېډورډ دَ اینګلستان باچا یم. زما پلار دَ باچهی واک او واګې ماته راوَسپارلې. او زهٔ هم دَ واک دَ ساتنې لپاره کلک وَجنګېدلم. زما دَ اتوُ سوؤ ملاترو سینې یې وَ څیرلې، دَ هغوُ زړونه یې راوَایستل او پر مخونه یې په وَویشتل. زهٔ یې زیندان کښي واچولم. اوس روُم ته دَ خپل پلار لیدلوُ له ځم چي دَ خپل پلار او زما غوندي بې تخته باچا دی. وینس ته دَ مېلې لپاره راغلی یم.»
څلوُرم خپله کیسه داسي اغاز کړه، « زهٔ دَ پوُلنډ باچا یم. دَ جنګ بخت دَ خپلي کوُرنۍ له سوبوُ بېبرخې کړم. زما له پلارته هم داسي کانه وروَشوه. دَ ټولواک اسمت، شهنشاه ایوان، باچا چارلس ایډورډ ( خدای دي دوی خوندي ساتي!) غوندي دَ خدای کړهٔ مي منلي دي. وینس ته مېلې له راغلی یم.»
پینځم وَویل، « زهٔ دَ پوُلنډ باچا یم. ما خپله باچهي دوه ځله وَبایلله. خو خدای راله دَ بل هیواد دولت راکړوُ او هلته ما دومره ښه کارونه کړي دي چي دَ وستوُلا ناوې (وادي) په تېرو شویوُ باچهانوُ کښي چا هم دومره ښه کارونه نهٔ دي کړي. زه هم دَ خدای کړهٔ منم او دَ وینس مېلې ته راغلی یم.»
اوس دَ شپږم باچا وار وُ او هغهٔ دا وَویل، « زهٔ ستاسي غوندي دَ خپلي کوُرنۍ دَ برَم او ساهوتوُب داوې نهٔ لرم مګر یو وخت کښي داس یو باچا وم لکه څنګه چي یو باچا چي وي. زهٔ تیوډوُر یم او دَ کارسیکا چنِل شوی باچا وم. هغه وخت به خلګوُ راته هسکین هزرت ویل. اوس څوُک ښاغلی نهٔ راته وایي. یوه زمانه کښي مي خپله سیکه چلېدله، اوس مي پر نامهٔ یوه پیسه هم نشته. هغهٔ وخت به مي دوهٔ دوهٔ سوه مونشیان ساتل او په مټکي یو نوُکر. پر تخت هم کښېنستلی یم او دَ لندن په زیندان کښي مي دَ پوُروَړي په بیستره ډېرې ستړې او ستوُمانه شپې هم تېرې کړې دي. اوس وېرېږم چي دلته اټالیه کښي راسره دغه چل وَ نهٔ شي. اګر که زهٔ هم ستاسي دَ هسکینوُ هزرتانوُ غوندي وینس ته مېلې له راغلی یم.»
پینځوُ واړو باچهانوُ ډېره په همدردي دغه کیسه واورېدله او شل شل پوندونه یې تیوډوُر باچا ته دَ جامې او پیزار اخیستلوُ لپاره ښندنه وکړه. کېندید ورته یو غمی ورکوُ چي نرخ یې دوهٔ زره پونډه کېدل.
پینځ واړهٔ باچهان هیران شول چي دغه اولسي وګړی څوُک دی چي تر باچهانوُ په زر واره زیاته بسپنه ورکولای شي.
هرکله چي دوی له مېز څخه ولاړ شول نوُ دغه وخت څلوُر نوُر هسکین هزرتان (اعلا حضرتان) هم دغه سرای ته راوَرسېدل. دوی هم دَ جنګ دَ بدبختیوُ له لاسه خپلي سوبې او جاګیرونه بایللي ول او اوس وینس ته دَ پاته مېلې لیدلوُ لپاره راغلي ول. مګر کېندید دغه نویوُ راغلوُ ته هیڅ نهٔ شوُ پام. هغهٔ دَ کوستنتنیې او خپلې کونګندې په سوُچونوُ کښي ډوب ورک وُ.

# دَ کېنديد دَ کوستنتنيې سفر

دَ وفادار کاکمبؤ برکت ؤ چي کوم تورکي کپتان تږلواک اسمت بېرته کوستنتنيې ته رسولؤ، هغهٔ دَ کېنديد او مارټين ورلؤ له هم تيار شؤ. دواړؤ بدمرغهٔ تږلواک سره رؤغبړ وَکولؤ او بيا په بېړئ کښي سپيدرلؤ له رهي شول.

په لاره کښي کېنديد مارټين ته وَويل، « دا ګؤره دَ شپږؤ بې تخته باچهانؤ سره مؤ رؤټئ وَخوړل. يوَ تا لا ما بسپنه هم ورکړه. کېدلای شي چي تر دوی ډېر بدمرغه باچهان نؤر هم وي. ما خو يوازي سل مېږې بايللي دي او دغه دی دَ خپلي اينجلي غېږې له سخت لېوال يم. ګرانه مارټينه، ما بيا بيا سؤچ کړی دی او دغي پايلي ته رسېدلی يم چي اوستاز پېنګلاس رينتيا ويل. هرڅهٔ دَ بېهترئ لپاره دي.»

« هيله لرم چي دغسي وشي.» مارټين وَ ويل.

« داسي پېښه به کله هم نهٔ وي شوي لکه موږ چي دَ وينس په يوهٔ سرای کښي له شپږؤ بېتخته باچهانؤ سره يوځای رؤټئ وَ خوړله. داسي پېښه به نهٔ چاليدلي وي او نهٔ به چا اورېدلي وي.» کېنديد وَ ويل.

مارټين وَ ويل، « خير دا دومره هم نادره نهٔ ده لکه موږ ته چي په سفر کښي بېشتره راپېښي شوې. دَ باچهانؤ بېتخته کېدل خو يوه داسي خبره ده چي بيا بيا پېښيږي. او زموږ له دوی سره رؤټئ خوړل هم چندو لوی ګای نهٔ دی.»

په بېړئ کښي ترهرڅه لمخه کېنديد خپل زوړ خيزمتګار، کاکمبؤ، يوه اړخ ته کؤاو تپؤس يې ځيني وَکولؤ. « کونګنده څرنګه ده؟ اوس هم هغسي په ښايست کښي تاکه ده؟ له ما سره اوس هم هغسي مينه لري؟ ګوزاره يې څرنګه ده؟ اومېند دی چي تا به يوه مانئ دَ هغي لپاره پېرؤدلي وي.»

«ګرانه باداره! کونګنده دَ مارمورا پر ساهېل دَ يوهٔ پردېس شهزاده مينځه ده او دَ هغهٔ لؤښي مينځي. دا شهزاده رګؤټکي په تورکيه کښي پناه اخيستي ده او دَ تورکيې باچا ورله شپږ يا اؤه غيرانه (ټکي) دَ ورځي ګوزاره ورکوي. خو تر دې هم دَ ارمان ځای دا دی چي هغي ټؤل ښايست اوس بايللی دی او دومره خوږجنه ده چي بېخي دَ چا کرکه ځيني کيږي. »

« بس ، بس! » کېنديد اسوېلی وَ ايستلؤ او بيا يې وَ ويل، « ښايسته وي که خوږجنه زهٔ ايماندار مېړه يم او دا زما دنده ده چي هر وخت ورسره مينه وَ لرم. مګر له سره خو پيځؤس شپېته لکه نغدې پيسي وې نؤ بيا ولي دَ هغي ورځ دومره بده ولي شوه.»

کاکمبؤ څه لږ ناکراره شؤ او وَ يې ويل، « ولي شل لکه مي دَ بونس ايرس والي ته دَ کونګندې دَ ازادئ لپار ور نهٔ کړې؟ او بيا يوهٔ شوکمار نؤرې پاته پيسي هم راڅخه وَ نهٔ شوکولې؟» او بيا هغهٔ شوکمار دَ جهان دونيا پر بندرونؤ موږ ګرځولؤ، او اخېر کار يې په سکوتري کښي موږ ټؤل وَ پلؤرلو. کونګنده او بوډئ اوس دَ شهزاده خيزمت کوي او زهٔ دَ دې بېتخته ټږلواک غلام يم. »

« اوهؤ! دا لاڅومره خترناک کړاوونه دي! او بو په بل پسي. خير اوس لا هم څهٔ غمي له څخه دي. کونګنده په اسانه ازدولای شم. اګره که دا خبره شته چي اوس هغهٔ ډېره خوږجنه ده. »

کېنديد له مارټين څخه تپؤس وَکولؤ، « څؤک پکار ده چي زيات فرياد وَکوي؟» شهنشاه اسمت، که شهنشاه ايوان، يا باچا چارلس اېډورډ او يا زهٔ؟»

« زهٔ نهٔ څهٔ نهٔ شم ويلای.» مارټين ورته وَويل، « د دې پټي لګولؤ لپاره پکار ده چي زهٔ ستاسي زړونؤ کښي دننه وَګؤرم.»

« اوس که پېنګلاس دلته وای» کېندید وَویل، « هغهٔ په پوهېدلای شؤ او هم به یې ځواب هم راته ویلی ؤ.»
« نهٔ پوهیږم» مارټین وَویل، « چي ستا دغه پېنګلاس څخه بیا څرنګه تؤل ترازو ؤ چي دَ خلګؤ کړاوونه یې پکښې تلای شول او دَ هغؤ غمونه یې مېچلای شول. زهٔ خو دا اټکل کولای شم چي په دې نړۍ کښې په لکونؤ اینسانان شته چي په سل ځله تر دې باچهانؤ زیات فریادونه او ګیلي کولای شي.»
« هؤ داسي ببخي کېدلای شي.» کېندید وَویل.
دَ یوځؤ ورځؤ پس دوی باسفورس ته وَ رسېدل. هلته یې تر ټؤلؤ لومړی دا کار وَ کولؤ چي کاکمبؤ یې په ډېر غټ نرخ له غلامی ازاد کؤ. او سملاسي په بله بېړۍ کښې له ملګرؤ سره دَ مارمورا سمندرګي ساهېل پر خوا دَ کونګندې پر لؤدن رهي شول. اګر که هغه اوس ببخي خورجنه شوې وه هم. کومؤ غلامانؤ چي بېړۍ چلوله په هغؤ کښې دَ دوؤ چلول څه بېدرکه غوندي ول او دَ بېړۍ دَ بېړۍ کېپتان به بیا کله کله دوی پر بربنډؤ مټؤ په شلاخؤ هم وهل.
لکه څنګه چي دَ کېندید خوی ؤ نؤ هغؤی ته زیات ځیر شؤ او بیا په خواخوږۍ اوهمدردۍ ورجوخت شؤ. دَ دوی ګوني که الوتي غوندي وې خو بیا یې هم نخښې نیشاني پېنګلاس، هغه بدمرغه یسویي او دَ کونګندې وروَر بیرن سردار ورته وې. دغه لړ ورته والی هم دی وَ لړزولؤ او ډېر ګورمجن شؤ. دی هغوی ته نؤر هم ورنیژدې شؤ، « تهٔ باور وکه چي که پېنګلاس ما په خپلؤ سترګؤ ځوړنن نهٔ وای لیدلی او دَ بدمرغي کونګندې وروَر سردار ما په خپل لاس نهٔ وای وَژلی» کېندید مارټین ته وَ ویل، « نؤ دغه دوهٔ غلامان به ما هرومرو دوی ګڼلي ول.»
دَ پېنګلاس او سردار نومونؤ له اورېدلؤ سره هغوی دواړؤ کریږه کړه. چپوګان یې له لاسونؤ وَلوېدل. چي دَ بېړۍ دَ کېپتان ورپام شؤ نؤر پر ور رهي شؤ او سختي شلاخي یې ورکړې.
کېندید په زؤره وربانډي ناري کړې، « بس! ښاغلیه! څومره دولت چي غواړې هغه یې په بدله کښې درکوم.»
«پاکه خدایه! دا خو کېندید دی» هغه یوهٔ وَویل.
« خاونده خدایه! دا خو کېندید دی» هغهٔ بل هم وَویل.
« دا زهٔ خؤب وینم که څه؟» کېندید وَویل، « او که ویښ یم؟ ایا زه په بېړۍ کښې یم که بل ځای؟ ایا دا هم هغهٔ جاګیردار سردار دی چي ما وَوژلؤ؟ ایا دغه پؤهاند پېنګلاس دی چي زما تر مخ تېزندی شؤ؟»
« هم هغه! هم هغه!» دوی په دواړؤ په ګډه ځواب ورکؤ.
« ښه! نؤ دغه دی هغهٔ لوی فلسفي.» مارټین وَویل.
« اوس ښاغلیه کېپتانه» کېندید وَویل، « تهٔ دَ سردار ټنډرترانخ چي دَ ستروا‌کی له لؤیؤ نوابانؤ څخه یو دی دَ ایله کولؤ لپاره څومره روپۍ غواړې، او دَ پؤهاند پېنګلاس، چي دَ جرمني په پؤهانؤ کښې تر ټؤلؤ ستر دی، څومره غواړې؟»
تورک تؤرن په ځواب کښې داسي ورته وَویل، « تهٔ خو پخپله یو مسېهي سپی یې او دا دواړهٔ غلامان هم مسېهي سپي دي. او تهٔ وایې چي غټ سرداران او پؤهان دي او په خپل هیواد کښې ډېر دَ برم او پرتم څښتنان دي. نؤ دوی دَ خوشي کولؤ لپاره به تهٔ ماته پنځؤس زره روپۍ راکوې.»
کېندید وَویل، « هؤ خوَد به یې درکم. کوسټنټنیې ته مؤ دَ بریښنا په څېر وَرسوه او سملاسي خپلي پیسي دي واخله. بلکې زما خو هېر ول تهٔ تر هرڅهٔ لمخه ما مېرمن کونګندې له وَرسوه»
خو دَ کېندید له خولې چي یې دَ کوسټنټنیې نوم واورېدلؤ نؤ دَ بېړۍ مخ یې دَ هغهٔ ښار پر لؤدن کؤ او پر غلامانؤ یې بِرغ وکولؤ چي نؤره یې چټکه کي.
کېندید بیا بیا پېنګلاس او سردار ته ور ترغاړه وتلؤ. « ښه نؤ ګرانه سرداره! تهٔ څرنګه زما له لاسه له وژل کېدلؤ بچ شوې؟» کېندید تپؤس وکولؤ، « او ګرانه اوستاز پېنګلاسه، تهٔ څرنګه دَ

تېزندۍ کېدلۍ پس بیا هم ژوندی پاته شوې يې؟ او بیا تاسي دواړه په ترکیه کښې دَ بېړیۍ غلامان ولي يئ؟»
« ایا دا ریښتیا دي چي زما ګرانه خوّر په همدې هیواد کښې ده؟ سردار تپوّس وَکولۍ.
« هوّ » کاکمبۍ ځواب ورکۍ.
پېنګلاس کریږه کړه، « خېل ګران کېندید یو ځل بیا وینم»
کېندید دَ دوی پېژندګلوي کاکمبۍ او مارټین سره وکوله. دوی په غېږ روّغبۍ سره وکولۍ او مېلس يې پیَل کۍ. بېړۍ دېره په تېزۍ تله او یو دم دوی بندرته وَرسېدل. هلته يې سملاسي یو یهۍدي وَ موندلۍ او کېندید هغۀ سره خپل یو غمی په پینځوّس زره سودا کۍ اګر که هغه سل زره نرخ لرلۍ. او یهودي به هر ځل په هزرت ابیراهیم لوړل چي نوّرې ورځخه نشته. کېندید دغه پیسې کېپټان ته دَ پېنګلاس او سردار دَ خوشي کولۍ په سودا کښې ورکړې. پېنګلاس دَ خپل ازادونکي په پښۍ سر کښېښوّدلۍ او پښې يې ورله په اوښکۍ لمدې کړې. سردار هسي لږ سر ټیټ کۍ، مننه يې ادا کړه او بیا يې دا بوّل وکولۍ چي وار پیدا کي نوّ تر هر څه لمخه به دغه پوّر واپس کي.
« ایا داشوني ده چي زما خوّر به په ترکیې کښې وې؟» سردار وَویل. « هرومرو شوني ده.» کاکمبۍ ځواب ورکۍ. « هلته دَ ټرانسیلوانیا دَ یوۀ شهزاده کوّرکښې لوّښې مینځې.»
دوۀ یهودیان نوّر وَموندل شول او کېندید څه نوّر غمې خرڅ کړل. او دوی ټوّل په بله بېړۍ کښې دَ کونګندې دَ ازادۍ لپاره پکښې سپارۀ شول.

# کېنديد، کونګنده، پېنګلاس، مارټين او نورو ته څه پېښ شول

کېنديد بيرن سردار ته وَويل، « يو ځل بيا دَ خپل ښاغلي پادري ځخه بخښنه غواړم چي په توره مي وَوهلي.»
خان وَ ويل، « تېر هېر. اوس کله هم پر دي نۀ بَرغېږو. زۀ منم چي ما ډېره تېزي وَکوله. اوس دا واوره چي زۀ دلته دَ بېړۍ غلام څرنګه جوړ شوم. ستا دَ تورې دَ ګوزار ځخه زۀ ټېي شوم، مړ نۀ شوم. دَ مسيهي مدرسي درمانګر زما درملنه وکوله. بيا دَ هسپانوي سپاپانو يوې ټولی پر ما بريد وکولو او په بونس ايرس کښي يي بندي کړم. دغۀ وخت زما خور له دغۀ ځايه تللي وه. ما چاروانکو ته زارۍ وکولې چي بېرته مي روم ته دَ خپلې ډلې لوی پادري وَ استوي. پادري زۀ دَ کوستنتنيې دَ فرانسي سفير پادري وَ لګولم. کوستنتنيې کښي ايله يوه اونۍ زما شوې وه چي يو ماښام يوۀ ښکلي تورکي زنې سره ، چې دَ سولتان ځانګړی غلام وُ، پېښ شوم. ګرمي زياته وه او هغۀ زنی دَ لمبلو غوښتنه وکوله. نو موږ دواړه وَ لمبېدلو. ماته دا نۀ وه مالومه چي دَ يوۀ مسيهي لپاره دَ يوۀ موسلمان سره يوځای لمبېدل لوی جرم وُ. يوۀ تورکي کازي دا پرېکړه وَ کوله چي زۀ دي دَ پېنو پر تلو سل شلاخي وَوهل شم او بيا لپاره دي د دغي بېړۍ پر چلولو وَ ګومارل شم. زه ګومان نۀ کوم چي تر دې دي بده درغلي بې نياوي چېرته شوي وي. مګر دا راته وَ وايه چي زما خور ولي دَ يوۀ ټرانسيولواني شهزاده، چي په تورکيه کښي ننواتی دی، دَ کور خيزمتګاره ده؟»
« زما ګرانه پېنګلاسه! زما خو په وهم کښي هم نۀ ول چي له تاسره به بيا وَوينم.» کېنديد وَويل.
« تۀ ببخي ريښتيا وايې. تا زۀ په دار ځوړند وَ ليدم. هسي خو پکار دا وه چي زۀ يي په اور کښي سوزولي وای، مګر که ستا ياد وي هغۀ وخت سخت باد چلېدلو. دَ اور له بلولو او زما له کبابولو او اورتولو چي هغه خلک نامېنده شول نو بله چاره نۀ وه، له مجبورۍ يي تېزندۍ کړم. پرۍ لوند وُ. له دې کبله مي غاړه کښي غوټه مزی نۀ شو او زۀ سرتاری شوم. ريښتيا دا دي چي دَ ځارنوالی جلات، چي يو ټيټ پوړی پادري وُ، دَ ګرمو کسانو په سوزولو کښي خو پوخ اوستاز وُ مګر په تېزندۍ کولو او ځړولو کښي وچ ولاړ وُ. پرۍ هلته لوند او بې چمه غوټه شوی وُ. پای دا چي په ماکښي ساه وَ چلېدله. زۀ، کالبوت، يوه ځيرونکي (جراح) په پيسو واخيستلم او کور کښي يي وَ غزولم. هغۀ په چړې سم پر نامۀ داسي لکه چليپه + وَ ځيرلم . دَ ځيرلو خوږو زما له خولې دومره لوړه بوغاره وَ ايستله چي پادري دَ شيتان له وېرې په تراټ وَتښتېدلو او وارختا په پوړيو کښي وَ پرزېدلو. په دې ږغ ږوغ کښي دَ پادري ښځه په منډه راغله. چي زۀ يي ځيرلی وَ ليدلم نو هغه هم په هوا شوه او په لاره کښي پره خپل مېړه برسېره وَ پرتله. څه وخت پس چي څه په سَد کښي شول نو ښځې سرجن ته وَويل، « ګرانه، دا تۀ ولي دَ دې بېلارې شوې ګناهګارانو ځيرنه کوې؟ تا ته نۀ ده څرګنده چې شيتان هر وخت په دوی کښي دننه مېشت وي؟ زۀ به چټکه لاړه شم او چېرته يو پادري به راولم چي دم چوف وکوي او دا شيتان وَ باسي. » زۀ دَ ښځې دغو خبرو وَلړزولم او څومره توان چي راپکښي پاته وُ پله راټول مي کو او په چيغو چيغو مي دَ خواخوږۍ او پېرزوينې زاری شورو کړې. اخېر کار هغۀ پورتګالي ځيرونکي هيمت وَکولو او زما ټپ يي وَګندلو. دَ هغي ښځې هم څه زړۀ نرم شو او زما وزله او خيال ساتل يي پيل کړل. برابر دوې اونۍ پس زۀ پر پښو وَ درېدلم. دغۀ ځيرونکي دَ مالټا له سردار سره، چي وينس ته تلو، زما دپاره نوکري پيدا کړه. خو بادار هيڅ نۀ لرل چي ماته تنخا ورځخه راکي. هغۀ مي پرېښودلو او دَ وينس دَ يوۀ سوداګر نوکر شوم او کوستنتنيې ته ورسره لاړم. هلته يوه ورځ مزدګ (جومات) ته ورسيخ شوم. هلته يو زوَ ملا وُ

او يه ښکلې نجلۍ وه خپل لمونځ يې ادا کولو. هلته نوُر هيڅوُک نه وُ. دَ نجلۍ جاموُ تنۍ پرانيتسې وې او په سينه کښې يې رنګارنګ خوشبودارو ګولانو غونچه ټومبلې وه. دا غونچه پر مڅکه ولوېدله. ما په ډېر هوَس راوخيستله او بيا مې په ډېر ادب ببرته پر خپل پخواني ځاى وَ ټومبله. خو دا ټومبل لږ راڅخه وَ ځنډېدل نوُ هغهٔ ملا ډېر راته وَ خشمېدلو. هغهٔ چې دا وَليدل چې زهٔ مسيهي يم نوُ يې سرکاري کوُمک راوَغوشتلو. يوهٔ کازي ته يې ورپېښ کړم، او هغهٔ ماته دَ پينځو پر تلوُ دَ سل شلاخوُ وهلو سزا راکړه او بيا يې دلته پر دې ببړۍ چلولوُ وَلګولم. په ببړۍ کښې يې له سردار سره څنګ پر څنګ وَتړلم. دا بخت وَګوُره. موږ سره په ببړۍ کښې دَ مارسېلز څلوُر ځوانان، پنځه بيپوليټن پادريان، او دوهٔ دَ کارفوُ راهيبان ول. دغوُ خلګوُ ويل چې دغسې پېښې هره ورځ کيږي. سردار به ويل چې له هغهٔ سره تر ما زياته درغلي او بې نياوي شوې ده او ما به بيا ويل چې دَ نجلۍ پر سينه يوه غونچه ټومبل دومره تاوان نهٔ دى لکه دَ سولټان له غلام سره لمبېدل. موږ به پرلپسې دا ريښتينۍ او چېړنې کولې او دَ ورځې به مو شل شل شلاخې پر بربنډوُ مټوُ خوړلې. دغه ول چې دَ کاينات دَ پېښوُ پايلې تهٔ زموږ ببړۍ ته راوَرسولې او زموږ تاوان دې ادا کوُ او راايله دې کړو.»

« ښه نوُ ګرانه پېنګلاسه» کېنديد وَويل، « او س دا راته وَوايه چې تهٔ په دار شوې، بيا څيرونکي وَ څيرلې، بيا په شلاخوُ په ډېره ناترسۍ وَوهل شوې او بيا دې ببړۍ په څپوګانوُ چلوله او هم دې وهل خوړل، بيا هم تا هغه زړه ګروُهه ساتله چې په دونيا کښې هر څهٔ دَ ببهترۍ لپاره دي.؟»

« زهٔ اوس هم هغه پخوانى سوُچ او چورت لرم.» پېنګلاس په ځواب کښې وَويل. « ځکه چې زهٔ يو فلسفي يم او زما لپاره دا ناوړه ده چې زهٔ خپل لېمون او رابه بدله کړم. په تېره بيا دا چې لايبنټز هيڅکله هم غلت نهٔ شي کېدلاى. او بله دا چې دَ دې ګرد جهان سبړ، اوُډنه او سموند (نظام) دَ دې نړۍ تر ټوُلوُ ښايسته ځانګړتياوُ څخه دي.»

## څرنګه کښندید کونګنده او زړه بوډۍ بیا وَ موندلې؟

کښندید، سردار، پیڼګلاس، مارټین او کاکمبؤ ټؤلؤ خپلې پیښې او څه چي پر دوی تېر شوي ول یوبل ته واورول. دوی دَ نړۍ پر وړ او ناوړ کړني او پیښؤ چېړنه وکوله، دَ سوَب او پایلې خبرې وکولې، په دونیا کې پر مادي او اخلاکي بدۍ، خپلواکۍ او ناچارۍ (اختیار او جبر) باندي او پردې ، چې دَ یوې تورکي بېړۍ غلام هم خوشاله اؤسېدلای شي، پله ړغېدل. دوی همدغسي په خبرؤ لګیا ول چي بېړۍ دَ سمندر پر غاړه دَ ټرانسیلوانیا دَ شهزاده کؤر ته وَ رسېدله او لومړۍ شی چي دوی وَ لیدلؤ هغهٔ دا ؤ چي کونګندې او بوډۍ وینځلي کالي لمر ته ویړول. دَ سردار رنګ دَ خؤر په دې اکر کې په لیدلؤ والوتلؤ. او خؤږ میَن چي خپله ښکلې کونګنده ګونجې ګونجې مخ، سرې پړسېدلې سترګې او ببر سر وَلیدله نؤ له ډېرې خوابدۍ او کرکې پر شا وَ تمبېدلؤ. خو دی دومره په زړهٔ نازک ؤ چي ژر یې ځان سمبال کؤ او هغې ته دَ رؤغبړ لپاره ورمخکې شؤ. هغې هم له کښندید او خپل ورؤر سره په غېږ رؤغبړ وکولؤ او دوی دواړؤ بوډۍ ته ورتر غاړه وتل. کښندید بیا دواړه په لیکه شندلو ایله کړې.

بوډۍ کښندید ته په نیژدې سیمه کې دَ یوهٔ پټي دَ رانیولؤ سلا ورکړه. چیري چي به دوی تر هغؤ وَ اوسیږي ترڅؤ چي دَ دوی ورځې ببرته په ښه وګرځي. کونګندې ته هیچا دا نهٔ ول ویلي چي هغه څومره خوږجنه شوې وه نؤ په دې هڅؤ پؤهه نهٔ وه. خو بیا یې هم ډېر په کلکه کښندید ته خپل لوزونه او بؤلونه ور په یاد کړل. کښندید دَ نټې (انکار) جورات نهٔ شؤ کولای او هغهٔ سردار ته وَویل چي دَ خؤر سره یې دَ وادهٔ پرېڼ دی.

سردار تاو شؤ او وَ یې ویل زهٔ به کله هم هغې ته دا ایجازت ور نهٔ کړم چي ځان دومره سپک او بې برَمه کې او تا ته هم دَ دې بې ادبۍ ایجازه نهٔ شم درکولای. زهٔ دَ خلګؤ پیغؤرونه نهٔ شم وړای چي زما خوریونه به په اوچتې او خانداني جرمن ټؤلنې کې نهٔ شي ورګډېدلای؛ دا زهٔ شم سهلای. زما خؤر به له خپل کؤرني پرتم سره سم له هغهٔ چا سره وادهٔ کوي څؤک چي دَ سپېڅلې رؤمي ستړواکۍ یو سردار وي.

کونګنده دَ خپل ورؤر پښؤ ته ور ولوېدله، او دَ هغهٔ پښې یې په اوښکؤ لندې کړې. مګر سردار دومره سخت ؤ چي سټ نهٔ سځېدلؤ.

«تهٔ خو بېخي شین خر یې. ما لیکه وَښندله او تهٔ مي دَ بېړۍ له غلامۍ خوشی کړې. ستا خؤر مي هم په لیکه ازاده کړه. هغې لؤښي وینځل او داسي خوږجنه ده لکه رَویې. بیا هم که زهٔ دومره ښاغلتؤب کوم چي هغې سره وادهٔ ته تیار یم مګر تهٔ بیا اپوټه دَ دې کار غندنه کوې. واه دتا په ځان! که زهٔ له ډېره خشمه بېواکه شوم نؤ بیا به دي وَ وژنم.»

« که ستا خوښه وي بیا مي وژلای شې، مګر ترڅؤ چي زهٔ ژوندی یم خپلې خؤر ته تا سره دَ وادهٔ ایجازت نهٔ شم ورکولای.»، سردار په ورغبرګه کړه.

# انجام

کېنديد دَ زړۀ له کومي خو کوڼګندي سره وادۀ نۀ غوښتلو. مګر دَ سردار دې مېکوري غېبازی دومره راوَ بوړنولو چي دَ وادۀ پېټ يې پرې کړ. بله داهم وه چي کونګندې ډېر ټينګار هم دی ناچاره کړ. هغۀ پېنګلاس، مارتين او وفادار کاکمبو سره سلا وَکوله. پېنګلاس يو ښکلی يادانښت وَلیکلو او په هغۀ کې يې دا زباته کړه چي سردار پر خپلې خور هيڅ رېښته او واک نۀ لري، او شاهي کانون کښې داسي راغلي دي چي کېنديد ته خپل کيڼ لاس دَ وادۀ لپاره ورکړي. مارتين بيا دا سلا ورکړه چي سردار دي سمندر ته وَغورزول شي. خو کاکمبو داسي پرېکړه وکوله چي سردار دي بېرته تورک کپيتان ته وَسپارل شي او پسته دي په روَم کې خپل جرنېل پادري ته وَاستول شي. دغه دَ کاکمبو وړانديز برابر ښکارېدلوړ بودی هم دَ هغۀ وړانديز غوره وَ بللو او له سردار څخه يې ځان ازاد کړ، دَ هغۀ بَرَم يې پر ځای وَ ساتلو، او دَ يوۀ يسوئيي پر ازادولو خوشاله وه.

بېشتره ګومان خو به داسي کيږي چي اوس به کېنديد، له دې دومره زياتو کړاوونو پس ښه خوشال ژوند تېروي. ځکه چي خپلې اينجلې سره يې وادۀ وَ شو، دَ پېنګلاس او مارتين غوندي فلسفيانو او دَ وفادار کاکمبو او تجربه کارې بودی غوندي ملګرې ورسره ول او دَ اينکا له هيواده يې ببخي ډېر غميان ځان سره راوړي ول. مګر هغۀ سادۀ خو يهوديانو ټګلی او شوکولی ؤ او اوس له دغي يکي يوې ټوټي مځکي پرته له هغۀ سره بل هيڅ نۀ ؤ. ښځه يې شپه او ورځ روانه وه نوره پسي خوړجنېدله او هم ډېره جګړه ماره کېدله. بودی اوس ببخي ناتوانه شوې وه او تر کونګندي هم زياته خوشکه او ترخه شوې وه. کاکمبو به باغ کښې کوله او سابۀ به يې کوستنتنيه ښار کې خرڅول. هغۀ هم اوس ستړی ستوَمانه ؤ او هر وخت به يې ځان ته ښېراوې کولې او خپل سبر او مرغ به يې غندل. پېنګلاس بيا له دې ګورَمه رنځېدلو چي دی ولي دَ يوۀ جرمن پوَهنتون سرسرخېل جوړ نۀ شو. مارتين په خپلې زړې ګروهې او باور ټينګ ولاړ ؤ چي اينسان هر چېرې چي وي خوند يې نۀ وي. نوَ ټوَل کړاونه يې په زغم او سبر سهل. کېنديد، مارتين او پېنګلاس به کله کله پر جندون تېرېدنوَ (metaphysics) او اخلاکوَ باندې چېړنې کولې. دَ دوی دَ کوَر دَ کيرکيوَ څخه لاندې اوبوَ کې دَ تورکې سياستوالوَ، کازيانوَ او پوځې واکمنانوَ ډکې ډکې بېړی تېرېدلې چي ليرې ځايونوَ لکه ليماتين، ليماس او دَ روم خاورې ته له هيواده جلا کړ شوې ول. پرې شوې اينساني سرونه، چي ښه په هونر به له پراړۀ دک شوې ول، هم په دغوَ بېړيوَ کې ښکابدل. دا به دَ ټوَلواک دربار ته دَ هغۀ لخوا کتنې لپاره ليږل کېدل. دغسې لندارو به زموږ فلسفيان هم ريښتينوَ او چېړنوَ ته راوَپارول. کله چي به دا ورسې او ګايونه نۀ ول نوَ کانېواغي به پر دوی دورمه وَ غمېدله چي يوه ورځ بودی پر دغه اکر داسې وينا پيل کړه، « زۀ دا موندل غواړم چي دا ټوَل کړاوونه، لکه دَ هبشيانوَ له لاسه په سلهاوَ ځله واره ببيته کېدل، دَ يوۀ کوناتي غوځېدل، په دار ختل، دَ ژوندي اينسان دَ تن څيرل، شلاخې خوړل او په زنځير کې دَ ترلي غلام په څېر بېړی چلول او نوَر ناخوالي او خواری چي موږ ګاللي دي، هغه ډېر بد ول او که دغه زموږ اوسنی بېکاره او کانواغه ژوند؟» دَ بودی دې ټکي بيا دَ دوی ريښتينی روَپارولی. مارتين دې پايلې ته رسېدلی ؤ چي اينسان پيدا شوی داسې دی چي يا خو به دی دَ کړاو له لاسه ناارمه وي او يا به دَ کانواغی له لاسه په ربړ کښې وي. ناورين به په هر اکر کښې وي. کېنديد مارتين سره نۀ منله مګر پخپله يې هيڅ نۀ شول ويلای. پېنګلاس منل چي هغۀ دا ګروَهه ساتلې ده چي اخبرکار به هرڅۀ په يوه نابلده او ناليدلې توګه سم شي. اوس يې هم هغه ګروَهه ده، مګر باور يې باندې نشته.

یوه ورځ داسې پېښه وَ شوه چې مارتین یې پخپلؤ په خپلؤ کرکجن سوَچ نوَر پسې ټینګ کؤ. پینګلاس خو یې بېخي اوتر اوتر کؤ او کېندید یې هم څه نا څه شکي کؤ. پېښه دا وه چې یوه ورځ پیکوټي او ګیروافلي دَ دوی کؤر ته ډېر په بد اکر کښې راغلل. هغهٔ درې زره روپۍ چې کېندید ورکړې وې بېخي ژر تمامې شوې وې او له یوهٔ بله بېل شوي ول. بیا دوی روَغه سره کړې وه، مګر یو ځل یې بیا تېکر او جنجال سره کړی ؤ. له هغو وروسته دواړه بندیان شوي ول او بیا له بنده تښتېدلي ول، او اخېرکار ګیروافلي تورک جوړ شوی ؤ. پیکوټي خپله دنده روانه ساتلې وه مګر دَ دې لپاره پکښې یوه خاشه ګټه هم نهٔ وه.
«ماته لا هغهٔ وخت ښه پته وه چې ستا درې زره روپۍ به ډېر زر تمامې شي او دوی به تر پخوا هم بدتر شي. تا او کاکمبوَ په خپل مینځ کې په لکونوَ روپۍ دوره کړې دي. مګر تاسوَ هم تر پادري ګیرافلي او پیکوټي زیات خوشاله نه یئ.»
پینګلاس چیغه کړه، « زما ګراني بچی! لوی څښتن اخېرکار تهٔ موږ ته راوَرسولې. تا دا منې چی ستا له کبله ما یوه سترګه، یو غوږ او دَ پوَزې څوکه وَبایلل؟ تهٔ څرنګه یې؟ دا څرنګه دونیا ده؟»
دې تازه پېښې دیو ټوَل یو ځل بیا په ډېر زوَر او شوَر په ریښتینوَ او چېړنوَ اخته کړل.
دَ دوی په ګاونډ کې یو نامتو درېش اوَسېدلوَ. هغهٔ دَ تورکیې ستر فلسفي هم شمېرل کېدلوَ. دوی له هغې سلا کولوَ ته ورغلل. دوی له خپلې خوا پینګلاس استازی جوړ کوَ.
« زموږ باداره،» پینګلاس وَویل، « موږ یو خواست رواوړی دی. تهٔ به مهرباني کوې، موږ ته به دا راښیې چې دا نادرره ځناور، اینسان، دَ څه لپاره جوړ کړ شوی دی؟»
« له دې تپوَس سره ستاسوَ څه اړه ده؟ دا خو ستا کار نهٔ دی.» درویش وَ ویل.
« ښاغلیه پلاره» کېندید وَویل، « مګر دا خو هم ریښتیا دي چې دا دونیا له بدی ډکه ده.»
« او چې وي نوَ به څه وي؟» درویش وَویل، « کله چې ټوَلواک میسر ته یوه بېړۍ استوي نوَ ستا څه خیال دی، هغه به په دې اندېښمن وي چې په بېړۍ کې به موږکان په مزه کې وي او که نهٔ؟»
« بیا نوَ څه کول پکار دي؟» پینګلاس وَ ویل.
« پټه خوله شه!» درویش وَویل.
« ما خو دا هیله لرله،» پینګلاس وَویل، « چې له تا سره به پر سوَب او پایله، تر ټوَلوَ دونیاؤ ښهترینې دونیا، دَ بدی پر پیل، دَ اورا ریښتیاوالی او دَ کاینات دَ سموند په شان ټکیوَ باندې لږ څه خبرې او وراسه درسره وکوو.»
درویش چې دا خبرې واورېدلې وچ ولاړ شوَ، دوی یې دباندې وَ ایستل او وَر یې پسې پورې کوَ.
په دې وخت کې دا اوازه ګډه وه چې په کوستنتنیه کې دوه وزیران یو کازي غړېبچه کړ شوي وژل شوي دي او ورسره دَ دوی نوَر ډېر دوستان هم وژل شوي دي. دغې پېښې تر ډېره وخته پورې خلګ په ړغېدا اخته کړي ول. پینګلاس، کېندید او مارتین بېرته دَ خپل کوَر پر لوَر رهي ول چې په لاره کښې دوی یو سپین روَبی مشر وَ لیدلوَ چې دَ خپل کوَر دروازې سره دَ نارنجوَ په جار (بڼ) کې ناست ؤ او له تازه هوا یې خوندونه اخیستل. پینګلاس خو ریښتینی کولې خو له دې سره سره ګپ شپې هم ؤ. نوَ یې له سپینږیري ځخه دَ غړېبچن شوي کازي نوم وَ پوښتلوَ.
« زهٔ هیڅ نهٔ یم خبر» ، سپینږیري وَویل، « زهٔ تا ته دَ یوه کازي یا وزیر نوم نهٔ شم درښوَدلای. تهٔ چې دَ څه لپاره ړغېړې له هغې زهٔ بېخي ناخبره یم. مګر دا هم ریښتیا دي چې څوَک سیاست کوي نوَ دَ هغوی پای کله کله ډېر دردناک وي. له دوی سره همدغسې کړاو ښایي. مګر پخپله زهٔ بیا په دې کې هیڅ چورت نهٔ وهم چې کوستنتنیه کې څه پېښېږي. زهٔ خو دَ خپل باغ مېوه هلته پلوَرم. بس، هم دا زما لپاره بس ده. »
دې نه پس هغه سپیږیري دا مسافران خپل کوَر ته وَبلل. هلته دَ هغه دوَ زمنوَ او دوَ لونوَ ډوَل ډوَل څیښاک، چې پخپله یې تیار کړي ول، مېلمنوَ ته وړاندې کړل، او ورسره یې ښه تازه او

خوندور نؤر دَ مېوؤ خوارکونه يي ورته راوړل. ورپسي يي خونډَوره تورکي کافي ورته پېښه کړه. له دي پس دَ هغۀ درانۀ موسلمان دوؤ لوښؤ دَ کېندید، پېنګلاس او مارتين ړيرې په ښۀ اتروؤ ورغوړې کړې.
« تۀ به هرومرو ښه جایداد لرې.» کېندید له تورک ځخه تپوس وکولؤ.
« يوازي شل اېکړه» تورک ځواب ورکؤ. « زۀ او زما بچيان پخپله کرونده کوو او دا دَ کار برکت دی چي موږ دَ کانواغی له ګړاوه او دَ نېستی له ربړه بېغمه او خوندي يو.»
کېندید چي بېرته دَ کؤر پر خوا له ملګرؤ سره رهي ؤ له ځانه سره دَ تورک پر خبرؤ سؤچ کولؤ. پېنګلاس او مارتين ته يي مخ وروارولؤ او داسي يي ورته وَويل، « ماته خو داسي ښکاري چي دا سپينږيری تر هغؤ شپږؤ باچهانؤ، چي موږ په وينس کي وليدل، ښه ژوند ځان لره غوره کړی دی.»
پېنګلاس وَويل، « هر فلسفي ته دا څرګنده ده چي لوی جایداد ، غتي او لؤيي خترناک شیان دي. او پای يي همېشه تباهي وي. دَ دارا، ګيسر، کيسرا، هنيبال، تېمور، چنګېز، هلاکو او بېشمېره نؤرؤ فيراونانؤ او نمرودانؤ کيسي خو تاته ته ښه څرګندې دي. دا هم تاته څرګنده ..........»
« ماته دا هم ښه څرګنده ده» کېندید وَويل، « چي پکار ده موږ ولاړ شو او په باغ کښې کار وکوو.»
« تۀ بېخي ريشتينی يې.» پېنګلاس وَويل، « اينسان په ادن باغ کښې هم دَ دې لپاره پرېښؤدل شوی ؤ چي دَ باغ ساتنه او خسمانه وکوي. با په بله مانا چي کار وکوي. له دې څخه دا هم زباتيرې چي اينسان دَ هؤساينې دَ ژوند لپاره نۀ دی پيدا شوی.»
« پکار ده موږ پرته له څه دليل بازی بس يوازي کار وکوو.» مارتين وَويل، « دغه يکه يوه لاره ده چي دا ژوند څه نا څه دَ زغملؤ او ګاللؤ وړ څيز ګرځولای شي.»
تؤله کؤرمه په دغه پرتَمنه وړانديز پله سځه شوه او هر يوۀ تر خپله وسه کار او زيار ايستل پيل کړل. اګر که دَ دوی پټی کم ؤ خو بيا هم دَ دوی دَ زيار له برکته ښه دروند او غوښن بَر (فصل) به ځيني پيدا کېدلؤ. کونګنده خو اوس ډېره خوږجنه وه مګر ډېر خوندور ککؤړي او خوږې کولچې به يي پخولې. پيکوتي بيا چکن او ګنډل پيل کړل او زړې بودۍ بيا کالي او جامې پاکولي او ساتلي. هيچا له کاره نټه نۀ کوله ان چي پادري ګيرافلي هم ښه ميستري ؤ. په همدې تؤګه هغۀ هم په راستی کار ته ملا وَتړله او يو ايماندر مېړه وځخه جؤړ شؤ.
کله کله به پېنګلاس کېندید ته داسي وَويل، « په دې شوني (امکاني) بېهترينه دونيا کښې دَ دې پېښؤ داسی يو شانته زنځير دی. لکه، که تۀ چيرې دَ مېرمن کؤنګندې سره دَ مينې له کبله له هغې ښايسته مانۍ په زؤر ايستل شوی نۀ وای، دَ څارنوالی لخوا نيول شوی نۀ وای، تؤله امريکه دې په پښؤ نۀ وای کتلې، سردار دې په توره نۀ وای وژلی او هغه دَ الدورادؤ سرې مېږې دې نۀ وای ورکې شوې، ـــــ نؤ اوس به تا هم دلته دا خوږې مېوې او خونډَوړې پيستې نۀ خوړلې.»

« ستا ګايونه بېخي ريښتيا دي، مګر راځه چي باغ کښې کار وکوو.» کېندید وَويل.

